

# سواستو

لیکواله : صفیه حلیم

# سواستو

ناول

صفیه حلیم

۲۰۱۲ م

www.safiahaleem.com

# لومړی څپرکې

شیشې نه بهر د وریځوڅادر وشلیدو اوعمران ښکته شنه غرونه ولیدل. په لوړو څوکو هغه سپینې واورې چې د ژمي په سر کې یې لیدلې وې، نه ښکاریدې.  هغه د غرونو په مینځ کې سپین تار په شان د سیند لښه وکړه خو یوه لږه د شیشې مخې ته راغله او د بهر ننداره ترې پټه شوه.  دا وړوکې الوتکه چې پنځوس سورلۍ  پکی ناستی وی، د هواي ډګر د پاخه را تاو شوه نوعمران ته د سرو خښتو کورونه ښکاره شول. د زمرد په شان تک شین میدان چې دده په ماشومتوب کی د اس د ځغاستي مقابلی پکی کیدې اوس په کورونو پټ و.  په جوښت سیټ کی ناست دده ماشوم زوې خرم له خوبه ځنګیدو. عمران هغه وتښناو چي د الوتکی نه بهر ښکته واړه کورونه ورته وښاي خوماشوم سترګی وغړولی او د سیټ په بل مټ یې سرکیښودو. عمران د مخکیني سیټ نه د خپلی مېرمنی امینی غږ اوریدو چی پینځه کلنی سوما ته یې د کړکۍ نه وراخوا، ښکته ځایونه په نښه کول او د سوما ژبه له خبرو نه ستړی کېده.  د الوتکی پایلټ (پیلوټ) اعلان وکړو چی د عملې کسان دې پخپلو سیټونوکښښني او الوتکه مخ په ښکته کوزیدو ته وڅرخیده. عمران د زوې سر ځان لوري ته او خپل لاس یې پری راتاو کړو. خو ددی کار سره خرم را ویښ شو او د پلارلاس یې له

www.saffahaleem.com

ځانه د ليرى كولو هڅه وكړه. د الوتكې مخ ځمكې ته و او عمران په بل لاس د خرم پښى ټينګې كړې چې وو نه لويږي. دې د دريو كالو او سيټ وربانديې لوې و. د خرم دا خوښ نه شو خوبيا د هغه توري غټې سترګې وبريښيدې اوپلار ته يې وكتل. الوتكه اوس په ميدان كى ښكته شوې او په منډه وه. خرم دواړه لاسونه په هوا كى ونيول لكه چې د الوتكې كنټرول دده سره واو له خلى يې غوم غوم غوم وكړل. په دى وخت كى سوما د سيټونو په مينځ كى د سوري نه وروړته وكتل ، "خرمه ماته وګوره." دده چې پام شو نوغوښتل يې چې ځان ورته وړاندى كړي خو د سيټ د ملاويستونى په تسمو ټينګ و. د ځان د خلاصولو هڅه يې وكړه نوعمران ورته وويل. "دا دى را ورسيږو، ماما به بهر راته ولاړ وي". د ماما د نوم سره خرم په سيټ كى تاو راتاو شواو غوښتل يې چې ځان له تسمو خلاص كړي. الوتكه تم شوه نو ټولې سورلۍ ودريدې او د سامان د خانو نه د خپلو بيګونو او د نور بار په راټولولو اخته شول. امينه د خپل سيټ نه را پاسيده او سوما يې په سيټ ودروله چې ګلابي جيكټ پرې واغوندي او زنځيرورته بند كړي. عمران د خرم لاس كلك نيولى و چې منډه ترى ونه كړي. دى په ټوپونواو د سوما په شان خپل جيكټ يې غوښتو چې د اسلام اباد نه الوتكى ته د راختلو په وخت امينى په بيګ كى ايښى و. عمران اوس زوى په غيږ كې ټينګ نيولې و چې منډه ترې نكړي.

www.safiahaleem.com

یو سړي د امېنی سره د بېګ په راښکته کولوکی مرسته وکړه نو عمران ورته وکتل اود مننې لپاره یې خله خلاصوله چی په زهن کی یې یو نوم انګازی وکړی. شهاب ... د سړي په سترګو کی موسکا ښکاره شوه او ده ته یې وویل. "عمرانه یاره ته چرته یې، درک دې نشته!" عمران په خندا ورسره روغبړ وکړو. ترڅو چی دوی خبری خلاصولې د الوتکې ټولی سورلۍ ښکته شوې وې. خرم په زوره زوره لګیا شو چي ماما له ځم. عمران نه هیرشول چي زوې ته یې جیکټ وراغوستی وې. بېګ یې را واخستو او د شهاب سره په خبرو د الوتکی دروازی ته روان شو. سوما او امینه له دوې وړاندی الوتکې نه را بهر شوې نو یخه هوا پری ولګېده. امینې خرم او بیاعمران ته وکتل چې د شهاب په خبره یې خندل. هغه په قهر شوه خو هیڅ یې نشو ویلې. د لور لاس یې نیولې په پوښیو د کوزېدو سره سره یې په بل لاس د خپلی اوږی نه د پشمینې شال لری کړو او په زوې یې وغوړوو. د خرم دا خوښ نشول او شال یې پوری وهلو، پلار ته یې وویل . "ما کته که ژه پپله ژم" (ما ښکته کړه زه پخپله ځم) د پلار نه د ځان په خلاصولو کي خرم ډیرلاسونه او پښی ووهل خوعمران ټینګ نیولې و. دوی چی ځمکی ته ورسیدل نوخرم غوښتل چی د الوتکې په پوړو بیا بره وخیژي. امینی تردی د بېګ نه دده شین جیکټ را ایستلی و خو په دی وخت کې خرم پلار په ځمکی ودروو او د مخی سره

هغه مورته منډی کړی. عمران او شهاب په خبرو خبرو
د سوات ددې وړوکي هوای ډګر ودانۍ ته روان شول.
سوما اوس د مور لاس پرېښودو او پلار پسې یې منډې
کړې. بیا یوڅو ګامه یې واخستل نو په شا یې وکتل چی
مور او ورور ورپسی را روان دي که نه. خرم اوس
جیکټ په غاړه د مورنه په منډه و خوامیني کلک نیولی
و.
د هوای ډګر د ودانۍ نه مسافر بهر ووتل، ځیني د سامان
په انتظار ولاړ اونور په کرسیو کښېناستل. امینه د
ماشومانو سره نېغه بهر لاړه او مخامخ په مېدان کی د
طارق شین ګاډی یې ولیدو. په دی وخت کی ماشومانو
د ماما ماما په چیغو ښې لوري ته منډې کړې. طارق به
تل په داسی موقع له ماشومانو یوې ډډې ته پټیدو خو نن
دوی زر وموندلو. خرم ورمنډې کړې، د طارق لاسونو
کي یې ځان وغورځوواو هغه بره په هوا کي پورته
کړو. سوما د هغه ملاسره ونښته خو بیا یې مورته منډه
کړه. طارق امینی ته ستړي مشي وویل او هغي ورته
په سرلاس راښکلو. د ورور په لیدو هغې ته د
کورغړي ورياد شول او د موټر په لوري تګ کي یې د
ټولو پوښتنه وکړه. طارق د موټر دروازې امینې او
ماشومانو ته پرانستې نوخرم د ډرېور په سیټ کیناستو او
د ماما نه یې چابي (کنجي) وغوښتله. هغه ورله یوه
زړه، زنګ وهلې چابي چې هم دده لپاره یې په موټر
کی ساتله، ورکړه او خرم دا د موټرد ستېرنګ په

یوسوری کی تاو کړه، بیا د خلی نه د غوم غوم په غږ د سټېرنگ په تاولو بوخت شو. طارق د امینې نه پوښتنه وکړه" سامان خو به ډیر نه وي، عمران لا لا پسې ورشم؟" امینې اوس د موټر شا سیټ کی ډېره لگولې او د غاړې په بېگ کی یې څه لټول. "سامان ډیر دې او عمران څوک ملگرې موندلې دې. بابا مې د جاز د پوړو سره ولیدو، خو مونږ ته یې پام نه و" د سوما له خلې سمدلاسه پوښتنه را ووته " څوک بابا"؟ او امینې د ځواب لپاره ایله خله خلاصوله چې سوما بیا وپوښتل" موری څوک بابا، هن... څوک بابا؟" د خرم هم د بابا ټکي ته پام شو او د سوما په غږ کی یې خپل غږ ورگډ کړو،" څوک بابا څوک ..." امینه په سیټ کې نېغه شوه او ماشومانو ته یې په زوره وویل " شورمه کوئ بچو" سوما غلې شوه خو خرم لکه د مات ریکارډ "څوک با با څوک بابا" لگیا وو. بیا یې زمزمه کړه او د څوک بابا سره یې " څوک ماما څوک ماما" ور زیات کړل. سوما چې واوریدل نو هغې ورسره څوک پاپا، څوک کاکا ،څوک نانا، څوک چاچا ، څوک لالا وراضافه کول او ورو ورو ددوي غږ په لوړیدو شو، دواړو ماشومانو اوس سرونه خوځول او خرم د موټر په سټېرنگ د دواړو لاسونو گوتې داسې وهلې لکه چې پیانو یې غږوله. سوما خپلو لاسونو ته ټک ورکوو. طارق په خندا شواو له امینې یې وپوښتل، " دا باجه غږول یې د کوم ځای نه زده کړي دي؟ امینې د طارق په خبره په

www.safiahaleem.com

زوره وخندل "  دا هلته په "زيورخ" کې د ماشومانويوه مېله وه . پکی پيانو هم اېښې وه چې هر چا به غږوله."
د ماشومانو سندره هغه محال بنده شوه چې پلار يې وليدو. عمران دوه درانه بکسونه چې پاې يې لرلې پخپله ځان پسې راښکل او د ماشومانو دوه بکسونه يو سپين ږيري په سر اوچت کړي و.  " هاغه بابا مې درته يادو".  امينې د سترګو په اشاره ماشومانو ته بابا ور وښودو.  خو ماشومانوته د يادونې حاجت نه و.  ددوی دواړو خلې وازې او سترګې يې په بابا ښخې وې.  سوما د ځان سره ووېل، " ښا..دا بابا.." د هغه تکې سپينې جامې، هم هغه رنګ ږيره او سور سپين ګونځې مخ د ماشومانو لپاره دومره حيرانونکې نه و، څومره چې د هغه په سر د خپلو بکسونو ليدل و.  د سوما بکس د شوخ ګلابي اود خرم اسماني رنګ و.  په تيرو شپږو مياشتو کې دوی د څومره ملکونو سټکراو ټاپې په دې بکسونو نښلولي وې.  خرم  او سوما به ددوی رنګا رنګ انځورونواو نقشونو ته خوشاليدل.
عمران د چاپيريال ساتونکې يو نړيوالې ادارې سره کار کوو او په کال کی دوه درې واری به بهر ملکونو ته ورتلو.  د تيروڅوکلونو نه يې خپل ټبر هم له ځانه سره بوتلواو بابا چې به ددوی د راتلو نه خبر شونو د هرکلي لپاره هواي ډګرته ورتلو.  بابا د چنارکلا پخوانی اوسيدونکې و.  دعمران د پلار سره به يې په ماشومتوب لوبې کړې وې اوبيا د کلا د باغونو او ونو ساتنه هم دده

په لاس کیده. اوس د څو کالو راهیسې سخت کار یې نشو کولې خو هغه دده له کورنۍ اړیکې نه شلولې.
عمران ورته څو وارې ویلي و چي نور په هواي ډګر دده بار نه اوړي خو بابا به ځان کوڼ واچوو او دده بیګ یا بکس به یې ورسره اوچت کړل. دوی چی موټر ته ورننږدې شول نو طارق ورته ستړي مه شي وویل. د بابا د سر نه یې پیټې واخستو او د موټر ډیګۍ ته یې یوړو چې عمران پکی لوې بکسونه ځای کول. امینې اوس پخپل موبایل ټیلیفون د مور سره خبری کولې.
عمران ماشومان له لاسه ونیول او بابا ته یې ورنږدی کړل چې سلا ورته م وکړي. خرم بابا ته خپل ښی لاس وړاندی کړو نو هغه ورته ټیټ شو او دده په سر یې لاس کېښودو" لوی شی بچیه " خرم هم هاغه شیبه وویل " لوی تې د تلګو د نیوو تې ( لوې شي د چرګو د نیوو شې) " او بیرته موټر ته یې منډه کړه. باباوس سوما ته ځیرو اوعمران ته یې وویل " دا ماشومه څومره ستا ترور "رابیا بي بي" په شان ده."
کله چي ټول سامان په موټرکی ځای شو نوعمران بابا ته لاس وغځوو " رازه چي نیمې لارې پوری دې وورسوو". هیچا ونه لیدل چې د عمران په لاس کی پټې څو روپۍ په دې وخت کی د بابا لاس ته واوختل. نورو دا هم ونه لیدل چې د ټوخي پر وخت بابا هغه نوټونه ورو د خپل واسکټ جېب ته اچولي و. عمران تش ست کړی و او پوهیدو چې بابا به ورسره نه ځي. دده سره

يې په مخه ښه وکړل اوبابا د هواي ميدان لوې ګېټ ته
روان شو. عمران تر ډيره وخته ورپسې کتل ترڅو دی
له سترګو پناه شو. په موټرکی ټول دده په انتظار وو
اوکله چي هغه په مخکينۍ سيټ کښيناستو نو طارق
ګاډې روان کړو. " هغه شهاب پېژنې؟" عمران د طارق
نه پوښتنه وکړه. " کوم شهاب؟" طارق وويل. "هغه
ملک نه دې، چې څه موده مخکې يې په اخبارونو کې د
سوات په هکله مضمونونه ليکل" "ښه هاغه شهاب
الدين" طارق وپيژندلو، " هغه مې اوس په جازکې وليدو،
لکه چې بيرته راکډه کيږي، د بهر ملک نه يې زړه تور
ښکاري." طارق شيشه ښکته کړه خو څه يې وونه ويل.
شا ته په سيټ کی سوما اوخرم په څه خبره جنګ پېل
کړې و. دعمران پام شوچې د سړک دواړو غاړو ته
ځاې ځاې پوليس ولاړ و. طارق ته يې وويل ، " څه
چل دې؟ ځوک راروان دي؟ هلته د جاز سره هم ډير
پوځيان ولاړ و". هغه په ناخواله خندا وويل، " دلته اوس
يوه لوبه روانه ده." يو ځاې کی يې غونډۍ ته اشاره
وکړه، " هغلته هره ورځ د پوځ هېلي کاپټر ګرځي. په
ښار کی شريعت راغلې دې. حکومت هم منلي دي خو د
اسلام او د کفر جنګ ته تياري هم روانه ده" ، بيا د موټر
په شيشه کی شاته وکتل او امينې ته يې وويل، " اوس به
سپينه بورقه په سروۍ". ماشومان يوه شيبه غلي شول،
خو بيا خرم په چيغه وويل، " پينه بولکه ، پينه بولکه"
سوما وويل، " پينه نه، سپينه" خرم هم هغسې لګياو.

www.safiahaleem.com

"پينه، پينه، پينه...سوما ورته په خله لاس کيښودو نوجنګ پېل شو. د مينګورې د يوځلور لارې نه په تيريدو عمران ته سپينې جنډې (بېرغونه) ښکاره شوې. د دکانونو په هغو بورډونوتور رنګ وهل شوې و چې انساني څېره پرې جوړه وه.

طارق چې موټر د خپل لوې کور په دروازه ورننويستو نو هلته د وريژو ديګونه پاخه و. د امينې مور پلار به د لور،زوم او د نمسو هر کلې هم دغه شان کاوو. ددې لوې کورنۍ نزدې خپلوان به راغلل او د خېرات په بانه به ټولود يو بل سره وليدل. د امينې د ورينداري خپلوان، د عمران د مور، او د وروركورنۍ به يوځاې شوې او ورځ به يې په خوشالۍ تيره کړه.

نن هم په دی کورکی د خلکو ګڼه وه. خرم او سوما د راتلو سره د نورو ماشومانو سره منډې ترړې پېل کړې. مشرانو په لوې دالان کی په تختونو د لويو بالښتونو سره ډډه وهلې وه او هغه چې د ملا درد يې لرلو او يا يې د خپلوجامو د ګونجې کيدو غم ورسره و، په کرسيو ناست و. ځوانې جينکۍ يوې خوا ته پخپلو ډلوکی ولاړې يا ناستې وې. هلکان بهر په حجره کی وو.

عمران وليدل چې ټولوځوانانو ږيرې اوږدې پريښې وې. په شپږو مياشتو کی دده په ښار کی هرڅه بدل شوي واو عمران د خپلوانو د خبرو په اوريدو نور هم اندېښمن شو. ده خو دسوات د چاپېريال ساتنې لپاره ډېر پلانونه جوړکړي و. د تېرو څو کالو راهيسې يې په لرې پرتو

سیمو کی کېمپېن کوو چې خلک دې د ځنګلونو وهلونه لاس واخلي. د نړی د ځو ملکونوماهران یې قانع کړي وچې دلته یونړیځ وال کانفرنس او خلکو د پوهاوي لپاره کورسونه جوړکړي. په ښوونځوکی د یونوي مضمون د زدکړې لپاره یې د وزیرانو سره خبرې کړې وې. په بهر ملکونو کی ده په خبرونو کی اوریدلي و چې په تیرو درېو میاشتو کی هره ورځ په ښوونځوکی یا بمونه غورځول شوي او یا یې په بارودو سېزلي و خو د خلکو په فکر او سوچ کی د دومره لوې بدلون توقع یې نه وه. وړو هلکانو هم د لاس پریکول اود کوړو( درو) د وهلو سزا روا ګڼله. دی په خبرو بوخت و چې خرم په منډه ورته راغې او وې ویل، " کول ته ژو"(کور ته ځو). لږ وخت وروسته عمران په یولوې وېګن کی د خپلې کورنی د غړو سره چیناروکلا ته روان شو او چې کور ته ورسیدل نو سوما او خرم اوده و.

دوېم څپرکې

په بله ورځ د چرګانواو د ماشومانو په ګډ شورامینه له خوبه راوېښه شوه. ګړیځ ته یې وکتل نونهه بجې وې. هغه ځان ته حېرانه شوه، نورکله به د ملا بانګ سره راوېښیده او یا به ماشومانو راپاڅوله چې خواړه او د څښاک شیان ترې غوښتل. خو بېګا لکه چې ډیره ستړې

وه او یا بیا له ډېری مودې وروسته خپل کوراوکټ کی
اوده شوې وه. امینه پوهېده چی ماشومانو ته به یې
سهار وختي خپلې انی پراتې اواگی پخ کړي وي. اوس
دوی د رابیا ببو چرگان په مخه اخیستي وو چې دا وخت
په کور کې نه وه. عمران په مینگوره کی خپل دفترته
ورغلی و. د ټېلیفون په غږ امینې دوېم بالښت د
سرلاندې کېښودو او غوږی یې راواخیسته.
د هغې خور زیبا ورسره څو شیبې حال احوال وکړل او
بیا یې وویل، "پرون چې تاسولاړئ نونورین راغله...
ستاسو په نه لیدوخفه شوه" امینه اوس له کټه راپاڅېده، "
تا ورته وونه ویل چې مونږ خو د غرمې خلک رابللي
و؟" زیبا وویل، "هم هغه د سکول بانه یې وکړه. وېل یې
د امتحانونو پرچې یې کتلې". بیا دواړو د پروني مېلمنو
خبرې راواخستې. زیبا ورله خبر ورکړو چې"بابي خپله
وریره ددې لپاره راغوښتې وه چې طارق ته یې
وغواړو، خو موړوای ددوي د خاندان نه نوری جینکۍ
نه کوو، یوه مو بس ده." امینه اوس د کټ نا پاسېدلې او
مېز سره ولاړه وه. " خېر هغه جینۍ هم بده نه ده، مور
خو هسې د بابي سره ضد کوي، زه خو وېم هغه به
ترټولو ښه وي چې د بابي به ورسره گزران کېږي، بله
څوک راغله نو په دویمه ورځ به ددی د لاسه تښتیدلي
وي" دواړو خویندو په زوره وخندل او بیا د خداې په
امان سره امینې ټېلیفون کښېښودو.

www.safiahaleem.com

بهر په څه خبره ماشومانوچغې وهلې. امینې د کړکۍ پرده لرې کړه نو په چمن کې ننداري ته په خندا شوه. خرم د وړوکي چیلي( سیرلي) نه اس جوړ کړې و، د کیناستو په هڅه وربانديِ نیم څوړندو او چیلي اخوا دیخوا منډې وهلې. ورپسې سوما او څو نورماشومان په منډه وو چې په دې وخت به ورکره لوبو له راتلل.
د هغې په خیټه کې غړمباری شو نو د ولوږې احساس یې وکړو. د ځان وینځلو نه وروسته په پخلنځي کې یې سر وردننه کړو. بدرۍ ترورد حلال شوي چرګ نه بڼکې ایستلې او یوه سندره یې زمزمه کوله. افروزې لوښي په الماری کی اېښودل او چې امینه یې ولیده نو په موسکا یې ورته ستړې مه شي وویل. بدرۍ سترګې د چرګ نه ددې په لوري کړې" شکردې چې په خېره راغلئ. کور داسې خوشې و". افروزې ورزیاته کړه" تاسو نه وائې نو دا نور ماشومان هم نه راتلل" امینه د دروازې نه وردننه شوه او بدرۍ ته یې وویل" بیګاه مې پوښتنه درنه ونکړه چې د پښو دردونه دی څنګه دي؟" بدرۍ یوسوړ اسویلې وکړو، چرګ یې په ځای پرېښودو او د لینګي نه یې پایڅه پورته کړه. بیا یې په ګوتو ورته پړسیدلې ځای په نښه کړو." نوره ښه یمه، بس په دې لینګي چې زور راشي نو یوه څړیکه شي. ها بله ورځ په دیوال ختلم، داسې خوږېدو چې هم هلته کیناستم".
امینې ورته په تونده لهجه وویل" څو وارې مې درته ویلي دي چې ته دا د منډو ترړو کارونه مه کوه ،اوس



www.sabahateem.com

ستا عمر دآرام دې. زه به طارق ته ووايم چې څه دارو راواستوي." بيا يې افروزې ته وکتل،" افروزې چاې بهرچمن ته راوباسه، ښه نمر دې چي لږ ورته کينم".
بدرۍ اوافروزې يو بل ته وکتل او موسکۍ شوې. اوړې وتلې و خو هوا دومره سړه هم نه وه چي ځوک بې د لمر پيتاوي ته ناست واې.
د پخلنځي يوه دروازه شا ته وړوکي چمن کې خلاصيده چې په تناوونو هر رنګه جامې په نمرکې وچېدو ته ويړې شوې وې. زيات پکې د ماشومانو وې چي پرون د راتلو سره امينې د وينځلو لپاره افروزې ته سپارلي وې. د مور په ليدوخرم رامنډې کړې او ورپسې نورو ماشومانو هم را هله کړه. سوما په دې ډله کې نه ښکاريده. هغې د خرم نه وپوښتل" خوردې څه شوه؟" د انۍ شله(سره) ده". دعمران مور دا محال به د خپلو وړو پټيو نه ترکاري راټولوله چې د دې کلا په لويديځو څنډو کې د لويو لويو پولو په شکل جوړ و.
هغې خرم له لاسه ونيولو،" د بوټ تسمه دې خلاصه ده زويه، راځه چي درته وتړم." امينه د لوی چنار لاندې د اوسپنې سپين رنګ شويو کرسيو ته لاړه چي د يواوږد ميز چاپيره ايښې وې. په يوې کرسۍ کيناسته او خرم ته يې د بوټ تسمه وتړله. په دي وخت کې هغې د زوی جامو ته وکتل چي د پرتوګ په پايڅو يې واښه لګيدلي و او د کميس لمنه يې د خاورو په خړو داغونو ډکه وه.
امينې د هغه جامې وڅنډلې او نورو ماشومانو ته يې

وکتل چي د جامو حالت يې د خرم نه ښه نه و خو مخونه يې زيړ و.
ماشومان په تشوکرسيو د کيناستو لپاره يو بل سره په ټيل ماټيل شول او يو څود ونې نه وراخوا د اوسپنې لويو جنګلو ته ولاړل چي د کلا په څنډو را تاو شوي و. په دوي کې يوه د څلورو کالو جينۍ څيره هغې ته نوې وه. تکې شنې غټې غټې سترګې، ګول مخ، ګلدار کميس پرتوګ يې اغوستي وو، چې خيرن خو نوي معلومېدل. د هغې نسواري ويښته لنډ او د نورو ماشومانو په پرتله ارامه ښکاريده.
امينې ماشومه ځان ته را وبلله، خو هغه وشرميده او د کرسۍ شا ته ودريده. "ستا نوم څه دی؟ امينې ترې سترګې واړولې چي هغه وونه ويريږي. " پاتيمه" د ماشومې د غاړې نه يوکمزوري غږ راووتو. " فاطمه" څومره ښکلې نوم دې، ته راشه ما ته خپل کور وښايه" امينې په يو لاس د جنګلې نه وراخوا د غره په لمنه کې جوړ د کلي کچه کورونو ته اشاره وکړه او بل لاس يې ماشومې ته ونيولو. " دوی په کډه راغلي دي" د لويو هلکانو نه يو پکې په زوره وويل." ښاه ...د کوم ځای نه په کډه راغلي دي؟" امينې هغه هلک ته وکتل" د شيواړۍ نه" هلک چي د ونې يوې څانګې سره ځوړند و، ټالۍ شو. "شيواړۍ" ؟ امينې يوه شيبه په خپل زهن کې د نزدې کلو نومونه راسپړدل ولې دا نوم ورته نااشنا و.
افروزې ددې مخې ته د چايو پتنوس کېښودو اوماشومان

او هغه هلک چي ټالۍ وهلې په ښکنځلو او ښيرو ووشړل، "افروزې، دا شيواړۍ کلی کومې خوا ته دی؟ د امينې په غږ هغی مخ واړوو،" دا اوس چي ورته "مسلم اباد" واي، پخوا شيواړۍ ووکنه. ستا سخر دې خداې په جنتونو کړي، يو وارې چا ورله ددې کلي نه د کاپړو بوتکي راوړي وو" امينې سر وخوځووا‌و د تودې ډوډۍ نه يې د سور رنگ دسترخوان پيڅکې لرې کړو. "ښه ښه دوی هر څه وکړي خو پخواني نومونه دومره په الااسانه خلکو نه نه هيريږي." امينې د کورنيو اوړو د تبخي ډوډۍ نه ماته نمړۍ د پيروو په کاسه کې ورډوبه کړه. د ډوډۍ په ليدو ماشومان بيا لکه د مچانو د پتنوس لوري ته راټوليدل خو په دې وخت کی افروزې ورته وويل، " هله ورشئ، انۍ به املوک درکړي" ټولو ماشومانومنډې کړې اوامينې ددوي له غږونو اندازه لگوله چي د انۍ د کټ چاپيره ولاړاو هغې ورته د خواړو څه شې ورکوو.

افروزې ټولې کرسۍ چي ماشومانو يو خوا بل خوا راښکلې وې بيرته د ميز چاپيره په ترتيب کړې اوامينې ته نزدې په مزکه کښېناسته. نور کله به افروزې ورته د کلي د ښځو، بازار، دکانونو او ماشومانو د ورانيوکيسې کولې خونن دا غلې وه. امينې اوس د چايو پياله ځان ته ډکه کړې وه. څو شيبې يې انتظار وکړو چي افروزه پخپله ورته څه ووای خو هغې دواړه لاسونه په زنگانه تاوکړي، خپله زنه يې ورباندې ايښي، هيڅ نه ويل.

امینه ورته ځیرشوه. "دا ځواني هم ښه شې وي" هغې سوچ وکړو. افروزه چي را واده شوې وه نوامینه د شپاړسو کالو وه اود خپلې مور سره ناوې لیدو ته د بدرۍ کره تلې وه. د بدرۍ خاوند ددوي په زمکوکارکوو.
په هغه ورځ افروزه څومره ښکلي ښکاریده. د واده یې ایله څو ورځې شوی وی او هغې د بوډۍ ټال رنګونو جامې اغوستې میلمنو ته چاې راوړي وې. وروسته د امینې مور ورله د مخ کتنې څوروپۍ په لاس کیښودي نو هغه له شرمه تکه سره شوه. افروزې هغه وخت هم سرخي پوډرنه وکړي خو ګلابي مخ یې امینې ته سینګارکړې ښکاریدو. اوس پینځلس کاله وروسته افروزه په خړوجاموکې ورته ناسته وه. د لرې نه یې مخ هوارښکاریدو خواوس هغه امینې ته دومره نزدې ناسته وه چې هغې یې د سترګو او شونډو ښکته نرۍ نرۍ ګونځې لیدې شوې. ځان سره یې وویل، " دا به ما نه یوکال مشره وي او ځواني یې لاړه."
"څه چل دې افروزې؟" هغې په ټیټ غږ ترې پوښتنه وکړه " بدرۍ ترورخو به درته څه نه وي ویلي"؟
افروزې سر راپورته کړواوامینې ته یې هم هاغسې په ټیټ غږ وویل. " برکت الله واي چي کراچۍ ته به ولاړ شو، دلته حالات خراب دي..." امینې د افروزې سترګو ته وکتل. یو وخت به هغې د خپل مېړه برکت الله نوم نشو اخستې، څومره به شرمیده. اوس د هغه د نوم سره

ددی په سترګو کی نااميدي خپې وهلې. هغې د چايوتشه پياله پتنوس کې کيښوده او وې ويل " نو په کراچۍ کې کوم امن دې، هره ورځ پکې قتلونه کيږي"، د افروزې غږ نور هم ورو شو، "څه خبر يو، ليور مې ټيليفون کړې و، واي چي نورخلک هم راغلي دي. ماشومان به سبقونه ووايي. امينې په کرسۍ کې ډډه ولګوله او يوه ناخواله خندا يې وکړه، " دا ماشومان د سبق نه دي، وينې چې ټوله ورځ ځاروي ځروي، عمران خو ښکته د کلي په سکول کی داخل کړي ووکنه، څه ترې جوړ شول؟ افروزه نارامه شوه، " که ريښتيا وويم زه اوس پخپل کورکی ويريږم" امينې پوښتنه وکړه، "د څه نه ويريږې؟" افروزې لکه په سلګۍ کی وويل، " واي چې بره ټول غرونه وسله والو نيولي دي، په کلي کی د ډېرو خلکو خپلوان راښکته شوي دي، دوی خبرې کولې چې هلته يې سکولونه سېزلي او د خلکو نه په زړا ورځ مال وړي" امينه د هغې په خبره نارامه شوه خو ډاډ يې ورله ورکړو،" خلک د ځانه هم خبرې جوړوي، هيڅ به نه کيږي، دا څه قبايلي علاقه خو نه ده. دا سوات دی او په هرځاې کی د پوليسو تانه شته دې. که پوليس هم نه وي، مونږ خو يوکنه." افروزې د چايو لوښي يوړل نوامينه راپاڅيده او ورو ورو هغې خوا ته ولاړه چي د ماشومانوشور يې اوريدو. د سوما غږ له ټولولوړاو لکه د طوطي لګيا وه. د ماشومانو په خندا کې کله کله ددې د خواښی غږ او خندا به هم ورګډ شول.

هغې د لیرې نه  ولیدل چې نور ماشومان د زاړه نختر په ونه کې په دوو ټالونو ځنګیدل.  سوما په یو پربکړی چار تراش خپل د ګوډیانو واړه لوښي او د لوبو شیان په ترتیب ایښي و او د خیالي کټوی په پخولو دوو جینکو سره په خبرو بوخته وه. خرم په وړوکي بایسکل ګرځیدو او یو بل ماشوم یې د شا په سیټ کېنولې و.  انی د سابو پاڼې بیلولې او امینه چې ورنږدې شوه نو ورته یې د خرم د ورانکاری خبره وکړه. " ته ګوره ټول ساګ یې راته په زمکه واړول."  د انی په خبره کې د دروغو قهر د خندا سره ګډ و.  امینه پوهیده چې که خرم داسې وراني ونکړي نو د انی ژوند به نیمګړې وي.
ترغرمی امینې د خپلو بکسونو نه شیان راویستل اوخپلوخپلوځایونو ته یې رسول.  بدری په تناره ډوډی پورې کولې چې نابېره د ونو مارغان په هیړه والوتل او یو غړمب سره زمکه ولړزیده.  د څو شیبو لپاره یوه هیبت ناکه خاموشي خپره شوه او بیا ټولو ماشومانوښکته کلي خوا ته منډی کړې.  د امینې له خلی را وتونکي کریکه د سوما اواتل په لیدو په سلګی بدله شوه. دواړه د مورسره ونښتل او امینې پرې لاسونه تاو کړل.  هغه نه پوهیده چې دا زلزله وه او که بل څه، ځکه اوس په مزکه څه نه احساسیدل.  هغی خرم په غیږ کې اوچت کړو، د سوما لاس یې ونیولو او د انی په لوري لاړه چې هم هلته په کټ  قبلې ته مخ کړې، په سجده وه.  امینې شا و خوا

وکتل خو هیڅ نه پوهیده. بدرۍ او افروزه د کلیموپه تېرولو ددی په لوري راغلې.
"دا څه و هن؟" هغی بدرۍ نه پوښتنه وکړه. "لکه چي د غونډۍ نه بله کرکنډه ولویده" بدرۍ ورته وویل. امینې اخوا دیخواوکتل او د کلا هغه څنډه ورته سمه ښکاره شوه چې د سیند لوري ته یې مخه وه." کرکنډه! د امینې په غږ کې پوښتنه وه. بدرۍ وویل، "دغرونو نه رابېل شووتیړو ته مونږ کرکنډه وایو" خرم د بدرۍ خبره واوریده نو په زوره یې وویل، " کلکنده، کلکنده مه کوئ گني ملکنده به دېشې لاشي، ( کرکنډه کرکنډه مه کوئ گنې مرکنډه به درپسې راشي) سوما په دې وخت کی د هغه نه هم په لوړ غږ وویل، " کلکنده نا...کرکنډه....او د وروړ خوړ تر منځ د ژبې جنگ پېل شو.
انۍ سلام وگرځوو نود کوټېدروازو ته یې پام شوچي پخپله خلاص شوي و. افروزې ته یې د تمبو بندولو وویل او بیا یې امینې ته مخ واړوو، " ته دننه وگوره، څه مات خو به نه وي. امینې هغه وخت په برنډه کې لگیدلې ټیلیفون وکړنگووخودا بند و. په دی وخت کې د هغې موبایل وغږیدو او خرم ورته لاس اوږدکړو، امینه ودریده او د عمران سره یې خبری پیل کړې. هغه ورته ویل چې نن به کور ته نه راځي او شپه به وروړ کره په مینگوره کې کوي. امینې د اوسني پیښې اود خپل خیریت خبر ورکړو او بیا یې ویل، " زما په ټیلیفون کې چارج نشته زه ...

د هغی د خبرو ختمیدو نه وړاندی ټیلیفون بند شو نو خرم
په چیغو چیغو ژړا پیل کړه، په مزکه سملاستو اولتی یې
ټکولې چې په موبایل خبری کوم. انئ د هغه پام اړولو
او پخلاینې لپاره د یوې کسوړې نه تسپې را وویستلې
چې په هری مرئ کی یې رڼا ګانی ښکاریدی. بیا یې
خپله امسا را واخسته او هغې خوا ته روانه شوه چې
بدرئ وربانديي تللي وه. دواړو د اوسپنې د جنګلې نه
اخوا لویو تیږو ته کتل چې څو میاشتې مخکې د
جیولوجستانو یوې ډلې وربانديې سوررنګ شیندلی او
دوي ته خبرداري ورکړې و چې کلا دی پرېږدي.
بدرئ څه وونه لیدل نو انئ ته یې وویل، "هیڅ نه
ښکاري" انئ غږ ونکړو خو پخپلو سوچونو کی یې مشر
زوي جمشید څېره لیده. تېر ځلې هغه ورته څومره زارئ
کړې وې چې ښارته دې کډه وکړي خو هغې ورسره نه
وو منلي، " دا زما کور دې، زه پکې راواده شوې وومه،
اوس به زما جنازه ترې ووځي، که تاسوځئ نولاړ شئ،
زه نه ځمه." امینې افروزې ته وویل، " برکت الله ته وایه
دا ټیلیفون دې لږ وګوري چې څه چل دې"
سوما هم انئ پسی راغلې وه. او هغه تسپې چې خرم نه
وې اخستې غوښتل یې چې په خپل لاس کی واخلي، انئ
ورته تسپې ورکړې. دوی ورو ورو بیرته په خبروکولو
برنډې ته راغلې. د چینارو کلا یوی خوا ته د غره ډډه
وه چې پخوانئ لوې ونې یې لرلې. بلې غاړې ته د یوې
چینې اوبه په زوره د کلا د لوې دیوال نه څو میټر

اخواپه تیږو کی د مار په شان تاو ښکته په سیند کی به ورګډې شوې. ددی چینې اوبه پخوا چری هم نه وې زیاتې شوې او کال په کال به پکی کمې راتلو. خو د تیرو دوو کالو نه ددې د اوبو اندازه زیاته شوی وه او کله کله به یې زور دومره ډیر شو چې یوه تیږه به یې ځان سره یوړه. نن هم داسې شوي و. ښکته د سیند سره لوې سړک و چې یوه برخه یې د کلا د لوې شین چمن نه ښکاریده.
سوما اوس د تسپو په دانو کي رنګونو ته ځیر وه. د خرم ورته پام شو نو له مزکې را پاځیدو او د سوما نه یې تسپې راښکلې. هغې لاس ټینګ کړو او په بل یې خرم ته یوه څپیړه را خلاصه کړه. د انۍ او بدرۍ خبرې ګډې شوې. "مه کوئ... سوما پریږده...، هغه وړوکې دی...، خرم راشه زه یې درته اخلم." خو د بدرۍ او انا په چیغو هم دواړو ماشومانو تسپې ټینګې نیولې وې. " ګوره ووبه شلیږي... خرم پلار ته به دې وایم... سوما ورکړه تسپې ورور له ګني وهم دې." په دی کي یو ټک وشواو تسپې دانه وانه شوې. د بدرۍ له خلې ناڅاپه " آکه دې" راوتلو او دواړه ماشومان حیرانه ودریدل. بیا زر یې انۍ ته ووکتل چي لګیا وه، ما درته نه ویل...نه منئ کنه...ته صبر وکړه پلار مو راشي.." افروزې د تسپې دانې په راټولولو وویل، " دا به څه کیږي انۍ؟ زمونږ کورونه، څاروي او پټي..." انۍ مخ آسمان ته کړو، " پاک پرودګار موساتونکی دی، د هغه رضا ته به

غاړه ږدو." د بدرۍ میره چې دا وخت به د کلا په لویه دروازه ناست و، ښکته تللې و او ډیر وخت وروسته راغلو نو انۍ ته یې د کرکنډې د غورځیدو خبر ورکړو.
برکت الله د ټیلیفون تارونه آخوا دیخوا واړول او امینې ته یې وویل، " بي بي ټیلیفون جوړ شوې دې، زما په خیال تارونه یې خوځیدلي وو. امینې د عمران د موبایل نمبر ووهلو خو هغه بند و. دا په هغوکوټو کی وګرځیده چې دوی پکې ژوند کووخو هیڅ شې یې بې ځایه وونه لیدو. هر څه پخپل ځاې وخو د اوبو په شور کی یې بل شان غږ اوریدو، داسې لکه چې هره شېبه په اوبو کی کاڼي غورځیدل. دا د مخ برنډې ته راوتله نو د کلا لوې دېوال ته یې پام شو چې تیږې یې لمدې ښکاریدې.

دربم څپرکی

د پردې د اوسپنې کړیو شړنګ وکړو نو د پلاسټیک په تورو کرسیو ناستو دریو ښځو سرونه کاږه کړل چې د کلینک په کوټه کی په انتظار وې. نیلا کمیس پرتوګ کې سپین څادر په سر یوی خاله به وار په وار د یوې ښځې نوم په زوره اخیستو او هغه به یې د ډاکټر کتنځي ته بدرګه کړه. خو دا ځلې د پردې نه د یوې ځوانې جینۍ مخ را څرګند شو چې تر پښو په څادر کې یې ځان تاوکړی وو. دا ورو ورو د ناستو ښځو له مخې تیر ه شوه او په ګوټ کې اینې په یوې تشې کرسۍ کښېناسته.

www.safiahaleem.com

نزدې وه چې ورسره یوې ښځې خبرې پېل کړې وې،
خوجینۍ د خپلې بټوې نه یو وړوکې کتابګوټی را
وویستلواو په ولوستلو یې پېل وکړ.
یوې ښځې خپله غړانګه پورته کړه چې ووینې په کتاب
کې څه لیکلي و. یو چا ته عربي توري ښکاره شول، نو
د بل په غوږ کې یې پس پس وکړل. هغه جینۍ غنم
رنګې ،ډېره نرۍ او د اوولسو یا اتلسو کالو دعمر
معلومیده. په پښو کې نسواري بوټان یې په وچوختو
لړلي وو، خو نوره ډېره پاکه او تازه ښکاریده. مریم په
زړه کې وویل: " چې دا به یې چا ته ورکړي وي او که
نه...کاشکې ورور له یې وکړم' د مریم ورور معمولي
سبق ویلی او تراوسه یې د خپلې خوښې کار نه و پیدا
کړی. دا یو ځوځلي د هغه لپاره په مرکه تللې وه خو
بیکاره ځوان ته چا خور لور نه ورکوله. اوس دی
غوښتل چې د خپل ځای نه پاڅي او د جینۍ سره جوخته
کښیني. هغه وخت د پردې له شانه خاله رابنکاره شوه او
د مریم نوم یې واخیستونو هغه کتنځي ته ولاړه.
د انتظار په دی خونه کې شکره هم ناسته وه او ماشوم له
یې تې ورکوو خوکله نا کله به یې په جینۍ نظر واچوو،
هغې د جینۍ لاسونو ته پام وکړو چې نرۍ ګوتې یې
لرلې. د سوره یاسین پاڼو ته یې وکتل، اندازه یې وکړه
چې ځوشیبو کې به یې ولوستل پوره کړي، نو پوښتنه به
ترې وکړي چې نوم یې څه و. د ډاکټر په انتظار نرګس
هم له ډیره وخته خپل سر په لاسونو کې نیولی و. هغې

د راتلو سره ناستو ښځو ته د خپلې سر دردۍ سره سره ،د ظالمې خواښې او د ژبه ورې ایندرور حال ورکړې و. اوس د جینۍ په لیدو د هغې سرخوږې نور ډېر شوی و.  که د جینۍ په لاس کې د سوره یاسین په ځای کوم بل کتاب وې نو دی به ترېنه له کړکۍ بهرغورځولی وې.  د هغې لوستې ښځې ډېرې بدې شوی او لکه د خپلې یورپه شان ورته ښکارېدې.
په څو شیبوکې د انتظارخونه تشه شوه.  خاله بیا پرده راښکله او د جینۍ په لورې لاړه،  هغه یې په اوږه وټپوله.  جېنۍ  یاسین شریف لوستل بند کړل، نسواري غټې سترگې یې خاله ته واړولې نوهغې وویل،" تا پرچه څه کړه؟"  جینۍ راپاسیده اووې ویل، " زه د ډاکټر صېب ترله یم او یو ضروري کار له راغلې یم" په دی وېنا هغه د ډاکټر معاېنه خانې ته وردننه شوه.  خاله د هغې د ایسارولو هڅه وکړه خو په دی وخت د هغی پام شو چې په کوټه کې د چا غوټه پاته شوې وه.
طارق د یو مریض فایل په کتلو بوخت واو بې له دې چې جینۍ ته وگورې، د لاس په اشاره یې ورته د کښېناستو وویل " بي بي څه تکلیف دی ستا؟" "تکلیف که تکلیفونه، څه څه به درته یادوم؟" نورین په خندا شوه او طارق ټکان وخوړو. فایل یې په مېز کېښودو او هغې ته یې وویل،" بلا ته له کومه رانازل شوې؟  خېریت دی، ناروغه خو نه یې؟ "  نورین په توره بټوه کی لاس ووهلو او یوه لفافه (پاکټ) یې ورته په مېز کېښوده.  "دا

ستا پيسې دي چې ما درنه دوه کاله مخکې اخشتې وې."
طارق تندې ترېوکړو "ته دې معمولي پيسو لپاره دلته راغلې، ما نه خوهيرې دي" هغې په مېز ايښې لفافه په گوتونوره هم وړاندې کړه، "زما خو په ياد وو، که تا هغه وخت دا پيسې نه وې راکړې نو زما د کالج داخله نه کېده، نن مې تنخواه واخشته نوحساب مې وکړو چې ..."د هغې خبره په خله کې پاتې شوه.
طارق لفافه خلاصه کړه، په هغې کې دوه زره روپۍ وې. نورين ته يې وکتل، لفافه يې بيرته د هغې مخې ته په ميز کيښوده ، "په دی پيسو به زما له خوا تحفه واخلې" خوهغه د کرسۍ نه را پاڅېده، " ډېره مننه، ته ما پېژنې زما حېثيت...طارق ورته سترگې برندې کړې نو هغې خبره بدله کړه... " زه د بابا سره راغلې يم، د هغه ټوخې تراوسه نه دی ښه شوې او ډاکترارشد اېکسرې ته کښېنولې دې. څلوربجې به ورته ځواب ورکوي. ماورته وويل چې زه به ترهغی تا ووينم". طارق پوهيدو چې نورين سره د پيسو په اړه بحث بيکاره و. دې را پاڅېدو، د پيسو لفافه يې د کوټ جېب ته کړه او نورين ته يې وويل، "ښه ده مټکوربلا ، ته په " ويټنگ روم (انتظار گاه) کې کښېنه، زه درځم." نورين چې بېرته هم هغه خونې ته ولاړه نوخاله بورقه په سرکړی د دروازې نه سړک لوري ته روانه وه.
د بابا د اېکسرې رپورټ دا و چې د هغه په سينه بلغم ټول شوي و او تريوې مياشتې به اېنټي بايوټيک گولۍ

خوري. د کلینک د بندیدو وخت شوې و نوطارق ورله د کیمسټ نه پخپله دارووا خستل اودې یې د ښځو انتظار ګاه ته راوستلو.
هلته نورین د مائیګر د لمونځ نه وروسته دعا ته لاسونه نیولي وو، " ما ته هم دعا وکړه،" د طارق غږ او د بابا د ټوخي په اوریدو، هغې ژر دعا ختمه کړه او د مصلې نه را پاسیده. طارق ورته د اېکسرې او د داروګانو خبره وکړه او بابا چې اوس په کرسئ ناست و، وویل. " فکرمه کوه بچیه، ډاکټر دارو راکړل ښه به شم."
نورین وویل" ښه به شي خو چي دارو پورا وخورې...ستا عادت دې چي لږ درکې ساه وغړیږي نودارو پریږدې." طارق بابا ته وکتل او بیا یې نورین ته وویل،" دې خو پرون اېرپورټ ته ورغلې و." هغه حېرانه شوه، ته ګوره هیڅا ته یې نه وویلي، پرون ورپسې خدیجه ترور زاره چاودې شوه." طارق بابا سره نږدې کښېناستو، " که پرون دې راته وېلې وې نو نن به دې تکلیف نه وې زیات شوې" د کلینک یوخدمت ګارد چایو لوښي را دننه کړل اونورین د خبرې لپاره خله خلاصوله خو د لږ وخت لپاره غلې شوه، بیا یې وویل" نن مې بابا راوستو ځکه ستا پیسې ..." طارق ورته په سخته لهجه وویل، "د پېسو نه علاوه بله خبره کولې شي؟" نورین ترې سترګې واړولې، زر یې چېنک ته لاس کړو او په پیالو کې یې چاې واچولې. طارق په یو پرچ کې د کېک څو ټوټې بابا ته ورکړې، " دا وخوره

www.safiahaleem.com

چې بیا ورپسې ګولۍ وخورې. دارو په تشه خیټه چرې مه خورئ."

بابا د نورین مور سره خپلوي لرله خو ټول ژوند یې په مینګوره کې تېر شوې و. نورین د ښوونځي د سبق په وخت کله کله دده په کور کې ایساریده او اوس به هم د هغه پوښتنې له ورتله. پرون چې لاړه نو د بابا په کورکې شورو. مېرمنه یې په سپکو سپورو لګیا وه. د نورین په ورتګ شورکم شو نودده نمسۍ نرګس ورته وویل چې بابا له سهاره ورک و، چا ته یې غږ هم نه وکړې چې کومې خوا ته تللی و. نورین په کورکې ټول دلاسه کړل او سوچ یې کوو چې کوم ځاې کی یې ولټوي خو لږه شېبه وروسته بابا پخپله کور ته راغلو. ددوی د پوښتنو په ځواب کی یې وخندل او هیڅ یې وونه ویل.

بابا د چایو دویمه پیاله هم تشه کړه او نورین د خپل لاس ګړۍ او بیا طارق ته وکتل. دی پوهېدو چې دا وخت به هغې ځینو جینکو ته ټیوشن(سبق) ورکوو. " شاګردانې دی څه وخت راځي؟ هغه ترې پوښتنه وکړه، " اوس به راغلي وي، خو ما خپلې ملګرې ته ویلي و چې که په ما ناوخته شو نو هغه دی ورته پام وکړي". " ښه نو په ارام چاې وڅښه." طارق پخپله هم چایو ته کښېناستو. هغه نا ارامه شوه. " مونږ به لاړ شو، بابا به هم کور ته رسوم" طارق ورته په ګیله منوسترګو وکتل، " کله کله نورو ته هم چانس ورکړه چی د نېکۍ کار وکړي، ټول ثواب پخپله مه ګټه." څومره چې د نورین تادي وه،

طارق هم هغه هومره په مزه مزه چاې څښلې او هغه ښه پوهیده چې دده د زوروکو لپاره یې داسې کول. اخرطارق چاې خلاصې کړې او په پاڅېدوکې یې ورته وویل، " تاسو موټرته لاړ شئ زه به مو کورونوته ورسوم."
د کلینک شا ته په یوکچه میدان کی دری څلورموټری ولاړی وی.  طارق د خپل موټر دروازې دوی دواړو ته خلاصې کړې او پخپله بیرته دننه ولاړو.  بابا د موټرپه مخکې سیټ کښېناستواو نورین ته  یې مخ واړوو.  "زما دارو څه شول؟"  هغې ورته په لاس کې نیولې پلاستکې کسوړه وروښودله، چې د داروګانو نه علاوه د اېکسرې فلم او نورکاغذونه هم پکې و." ما سره دي." هغه ورته دعا ګانې پېل کړې خو نورین وویل، " بابا، اوس ډاکټرته دعا وکړه چې نه یې رانه د اېکسرې پیسې واخستې او نه د داروګانو، چاې یې هم راکړې او دا دې اوس پخپل موټر کې موکورته رسوي."
طارق چې په سیټ کښناستو نو بابا هغه ته په دعاګانوسرشو، "خداې دې کامیابه کړه زویه، کور دی تل اباد وي، د مور پلار ارمانونه دربانديې ورژیړي."
طارق موټر لوی سړک ته وویستونو زړه یې په تنګ شو.  "بس دی بابا یوځو دعاګانې دې تورسرې ته هم وکړه چې ته یې کلینک ته راوستلې."  نورین خپله خندا په شونډو کې په زوره ونیوله او وې ویل، " اوس د ثواب ګټلوستا وار دی." طارق د نورین په ټک موسکې شو،" اول به نورین  ورسووو، ستا کور ته به په واپسی

کی راشو." بابا و ټوخیدو او چې لږه دمه یې وکړه نو طارق ورته وویل، "اوس پوهه شوم چې ټوخې دی ولې نه ښه کیږي؟ ته خبرې ډیرې کوې ځکه."
نورین اوس خپله خندا نوره نه شوه ټینګولې او طارق د موټر په شیشه کی لیدل چې هغې په خپلې خولې لاس ایښې و. پوښتنه یې وکړه" کلینک ته په څه شي کی راغلئ؟" هغه په سیټ کې نېغه کښیناسته ،" د باباګاونډۍ رکشه چلوي، د سکول د چوټۍ په وخت ماشومان کورونو ته اوړي، ما بابا ته ویلي و چې د هغه سره راشي. کومې استادانې چې سیدو ته د سکول په لوې وېګن کی ځي، مونږ بیا هغوي سره تر ښاره راورسیدو. رش ډېرو نود ګرین چوک نه په پښوراغلو."
طارق خبروچې هغه د ښوونځي نه وروسته کورته نه وه تللې. ماځیګر یې په کلینک کی تېر شوی اود یوې پیالې چایو نه علاوه یې څه نه وو خوړلي. د هغه خیالونه له موټره ووتل، پرونۍ مېلمستیا ورته رایاده شوه. د څلویښتو نه زیاتوکسانو کې هغه د یوڅوځوانو جینکو نا اشنا څېرې هم ولیدې چې د ډوډۍ په وخت د ده کشرې خور زیبا او د ورینداري نه تاوېدې. دی پوهیدو، چې د موراو خویندو توقع یې دا وه چې پخپلو سیالو کورنیو کې د واده لپاره جینۍ خوښه کړي. نورکله د کور سړي به په داسې وخت کی دننه نه شول ورتلې، خو طارق به په څه نا څه بانه دننه رابلل کیدو. " طارقه...ګرمې وریژې راوړه، طارقه...نوره قورمه...طارقه

...چرګان...او طارق د دوی د غوښتنو د پورا کولو په وخت به د کور شاتني برنډې نه وراخوا په وړوکي چمن کی، د ډوډۍ لوی مېز ته وکتل چې چاپېره تری ښځې ولاړې وې. چا به خپله رکېبۍ دومره ډکه کړی وه چې ځلورو کسانوته به بس وه، بلې به د چرګ هډوکې په غاښونو ماتول، یو چا به پوراکباب خولې ته ورننه ایستو. دی به حېرانه شو، " دا د خانانو د کورنیو ښځې دي که د قحطۍ مولخان؟" زیبا ته یې وویل نو هغه په خندا شوه. " زه بس دی، سړي ددوی نه ډېره ډوډۍ خوري خو ستا همیشه ښځوته پام وي." طارق د ښځو جامو، فېشن او بیا د ډوډۍ لپاره ددوي لېوالتیا ته هک پک و. یو وخت د سروشوو چرګانو د یولوې غوری سره د برنډې په سر کی د زیبا په لټه و چې نابېره یوه ځوانه جینۍ وربادنې پېښه شوه. غوری یې داسی دده له لاسه وځغلوله لکه چې په زیارتونوکی خلک خېرات ورکوونکو د لاسه ډوډۍ اخلي.
او دا هر څه چې خلاص شول، مېلمانه له کوره ووتل او بهر د دېګونونه تاو خېرات وړونکي هم لاړل نونورین د خاله صاحبو سره راغله. طارق خبروو چې هغه د دریو بجو نه وړاندې نه شوه راتلې او له ډېره وخته یې په انتظار و. هغه څو شیبې دده مور اوزیبا سره کېناسته، بیا چې روانه شوه نو طارق ورته په قهر شو، "د دی نه ښه وه چې نه به راتلی." نورین ورته وخاندل، "بیا به نه راځم" طارق تر بهره ورسره لاړو، " زه به دی په

www.safiahaleem.com

موټر کی ورسوم" . نورین په څادرکی مخ پټ کړو، " په پښوبه زر وورسیږو." او د خاله سره په تېزو قدمونو سړک ته ووتله.
د آسمان څنډې اوس سری شوي وې او د مارغانو سېل یوې خوا ته روان و. هغه د نورین نه بله پوښتنه وکړه." د غرمې ډوډۍ دی کله وخوړه؟" هغه غلې وه لکه چې د ځواب لپاره یې الفاظ لټول. طارق خپله خبره بیا وکړه نو دی ورته وویل، "سکول نه په راوتلو کی مې وخوړه". طارق پوه شو چې هغه اوس له ویرې ورته دروغ واي خو نور څه یې وونه ویل.
څو ورځې وروسته ټولې استادانې د نورین په دفتر کی راټولې وې، نن شاګردانو ته د منې د امتحان نتیجو نه وروسته ژرچوټې ورکړی شوي وه او د یوڅو ماشومانو نه علاوه چې په انګڼ کې په ټالونو زنګیدل، نورڅوک نه و. د سکول مخی ته یو نوی موټر ودریدونو یوه خاله په منډه دننه لاړه او نورین یې خبره کړه. هغی خپل سپین څادرله ځانه کلک تاو کړو چې یواځې ددی مخ او لاسونه ترې ښکاریدل. بیا د کوټې د دروازی سره ودریده او خپلی معاونې ته یې مخ واړو،" خاله صاحبو ته دی وویل چې په وریژو کی دی غوړي لږ اچوي؟" هغی ورته یوه ناخواله خندا وکړه " وومې ویل خو هغه واي، پلاو به هم هاغسی پخوم چې د مورنه مې ازده کړي دي."

www.safiahaleem.com

یوی خاله د دروازی نه چق( پروړ پرده) لرې کړو نو ملک نصیر الدین د خپل زوې سره کوټی ته رادننه شو. ددوی په انتظار شل پینځویشت استازانې ولاړې وې چې ځینو اوس مخونه پټ کړي و. د نورین دفتر د استازانو د دمې او د تفریح ځاې هم و. د ملک صېب نه علاوه دی کوټی ته بل نارینه نه چرې نه و ورغلې. هغه ټولو ته په زوره سلام وکړو او بیا یې وویل "دا زما زوې دی... شهاب الدین، په سکاټ لېنډ کی اوسیږي او ما غوښتل چی دی هم وګوري چی مونږ څومره لوې کار شروع کړی دی" بیا یې اشاره وکړه " دا نورین ده، د مدرسته البنات مشره". شهاب ورته سلام وکړو او هغی د علیک په ویلومېلمانه څو لویوکرسیو ته بدرګه کړل چی د کوټی په بل سرکی ورته مخامخ یو ټیټ مېز ایښي و.

ملک صېب ټولو ته د کیناستو اشاره وکړه او نورین ته یې وویل، " ناوخته خو نه شو؟" "نه ملک کاکا مونږ لږه شیبه وړاندې ماشومان رخصت کړل." شهاب وکتل چې زیاتې استادانې د وړوکې عمر وې او د ټولو په سرسپین یا تورڅادرونه او په پښوکی بوټان و. خو د هغه لپاره تر ټولوحېرانونکی نورین وه. نرۍ نروچکې، په سپین لوې څادرکی د هغی مخ لکه د یوې دولس کلنې ماشومې ښکاریدو. هغه ترې سترګی واړولې او سوچ یې کوو، دا جینۍ ولې په دې عمر کې د سکول مشره شوه.

www.safiahaleem.com

نورين خپله غاړه تازه کړه اوپه خوړ. غږ يې د قران يوايت تلاوت کړو. بيا د ګتې د يوفايل نه يې کاغذ راوويستو او ورباندی ليکلی د ښوونځي د تعليمي کال رپورټ ولوستلو. ورپسې يوی استادی ته يې اشاره وکړه او هغې د استادانو له خوا ورته يوڅو وړانديزونه وکړل، د ځښلو د اوبوکولرې، د ماشومانولپاره د نورو ټالونو او د آرټ او د لوبو سامان نه علاوه د تنخا د زياتولو په خبره ټولولاسونه وپړکول. شهاب موسکی شو او نورين ته يې وکتل چي يوی خاله ته يې په غوږکی څه وويل.

د ملک د خبرو نه وروسته چې زيات يې د ښوونځي په ستاينه او نورې د تعليم د ارزښت په اړه وې، دوی د نورين سره سکول په کوټوکی وګرځيدل. شهاب يو کال وړاندې هم ښوونځي ته راغلې و خو اوس ځينې بدلونونه يې وليدل. هغه وخت دلته يواځې ماشومانې جينکۍ زدکړې لپاره راتلې اوده ته هره کوټه تياره او بې رنګه ښکاريده. اوس پکې واړه هلکان هم داخل شوي وو او په ټولوکوټوکې رنګ روغن تازه معلوميدو. د استادانو او ماشومانو په لاس جوړ انځورونه په دېوال لګيدلي واو شهاب ورته حېرانه ودريدو. په هره کوټه کې د لرګي په شيلفونو کتابونه ښکاريدل. ده يو کتاب را واخستو او د هغی پاڼه يې واړوله. د جغرافيې تصويري کتاب په انګريزۍ ژبه کی و او د پاڅه پرې د چا نوم ليکلې و." دا کتابونه مو د کوم ځاې نه راوړي دي؟" شهاب نورين

www.safiahaleem.com

ته په لومړي ځل مخاطب شو. هغې په ډېراعتماد وویل" مونږ ماشومانوته وویل چې د کلاس (صنف) لایبرېري لپاره خپله کتابونه راټول کړي. ډېرو خلکو راته خپل زاړه کتابونه راولیږل. خو دا کتاب چې ستاسو په لاس کې دی، ما پخپله د پېښور په کباړي بازارکي اخشتی و."
شهاب موسکې شو اونورین ته یې وکتل. سپین څادرد هغې له تندي لږ خوېدلی و او نسواري ویښتو ترې تا کوو. د نورین رڼې سترګې د خبرو پر وخت غټې شوی او نم ژنو شونډو یې د ملغلرو په شان غاښونه ورښکاره کړل.
شهاب د خپل پلار په لوري وکتل چې د ماشومانولپاره نوي کرسۍ اومېزونه یې معاینه کول اوپه څه خبره یې په زوره وخاندل. ده غوښتل چې د نورین سره خبرې اوږدې کړي خو د یوی استازې په اعلان چې ډوډۍ تیاره ده، دوی بیرته لوې کوټې ته ولاړل. هلته د مېزونو ترتیب اوس بدل شوې و او ورباندې سپین پوښونه غوړېدلي و. شهاب ولیدل چې د دوی د پلېټونو سره قاشق او پنجې هم ایښې وې. دوو خاله ګانو ټولو ته ډوډۍ کیښوده او ملک صیب اوس د استادانونه د کارونو پوښتنه کوله. شهاب اخوا دیخوا وکتل خو نورین یې ونه موندله. وروسته خبر شو چې د یو ماشوم مور ورسره لیدل غوښته. دوی چې د ډوډۍ نه وروسته له لوې کوټې راووتل نو دا ښکاره شوه. ملک صېب ترې د دفتري کارونو پوښتنه کوله اوزوې ته یې وویل چې په موټرکې

دی کیني. شهاب د ښوونځي لوی دروازې ته جوړد خښتو په لاره روان شو چې دواړو غاړو ته یې رنګا رنګ ګلونه کرلي و. شهاب د یوې مرموزې خوشالۍ احساس وکړو. په موټر کې پلار ورته وویل، څه فرق دی ولیدو؟" شهاب موسکی شو، " د زمکی او اسمان فرق، دا جینۍ ډیره تکړه معلومیږي." " نورین...نورین خولایقه ده." ملک ډیرپه ویاړ د هغی زکر وکړو. " ګوره د کالج سبق یې هم دلته په سوات کی پوره کړې دی. د یاسمین کلاس فیلو(هم صنفۍ) وه او اوس د ایم. اې د امتحان لپاره تیاري کوي." شهاب دا خبره د پلار له خلې نن سهار هم اوریدلې وه، ولې خبر نه وچی نورین ددوی ښوونځي ته کله او په کوموحالاتو کی راغله.

دوه نیمې بجې نورین پخپل دفتر کي رڼا بنده کړه نو د مېز په سرایښې ټیلیفون وکړنګیدو. هغه سخته ستړي وه او غوښتل یې چی کور ته لاړه شي اوپه ارام خوب وکړي، دا وخت هغي ته به یوکس ټېلیفون کوو اونورین پوهیده چي که خبري یې ورسره ونکړې نوطارق به په موټر کی ورپسې راشي. هغی په لاس کی نیولي کتابونه په مېز کیښودل او د ټیلیفون غوږوزې یې واخیستو. طارق ورته په زوره "السلام علېکم ورحمت الله و برکاته" وویل. نورین هم هاغسې په سوچا عربي لهجه ورته ځواب ورکړو نو طارق په خندا شو. "ورځ دی څنګه وه؟ څومره ماشومان مو وژړول ؟ د څومره مېندو

www.safiahaleem.com

ښېرې مو واخیستې؟ " نورین په وروغږوویل " زه اوس کورته روانه وم، که یو مینټ دی فون نه وې کړې، نو زه دفتر نه وتلې وومه، قسمت دی ښه و."
طارق په شوخه لهجه وویل، قسمت...او قسمت خومې اوس تا سره تړلې دی...خود به ښه وي، که نه زمونږ د خوارانو په نصیب کی د ورځې خو هسی هم آرام نشته او د شپې می ته خوب ته نه پرېږدی." نورین اوس پخپلی کرسئ کېناسته او د ټیلیفون تار سره یې په لاسونو کې تاوکړو. د طارق په خبرو د هغی ستوماني ختمه شوه. خاله صاحبو چی بهر ناسته وه یو وارې یې سر رادننه کړو او چی د هغی ورته پام ونشو نو بیرته د دروازی نه بهر په ټیټې چوکئ کېناسته.
لږوخت تیر شو نونورین راپاڅېده او طارق ته یې وویل،" زه اوس ځمه ښه، بهر راته خاله په انتظار ده" طارق په زوره وویل" او زه چې ټوله ورځ ستا غږ د اوریدو په انتظار تیروم، د هغی به څه کیږي؟" نورین ورته وویل " اوس دی زما غږ واورېدو، زړه به دی ارامه وي." طارق احتجاج وکړو" د زړه ارام خو مې تا سره دی، دا راتلونکی ځوګېنټې به څنګه تیروم؟ نورین د مېز بل سرته ولاړه، " هم هغسې چې تیرې څو ګینټې دې تیرې کړې. زه ټیلیفون بندوم." طارق ورته مینت زارئ کولې، " ګوره دوه مینټه نور..." هغې ورته وویل، " ته خبره وکړه او زه به ګړئ ته ګورم، خو پام دې وي چې خاله به هم خپل کور ته ځي." طارق غلې شو او بیا

یې وویل ښه زه لاړه شه، سبا پېنځه بجې تیاره وسه"
نورین ورته د خدای په امان وویل او بهر راووتله.
ماښام څلورواړو استادانو ډوډۍ وخوړه نو دستر خوان
یې راټول کړو. نورین د تیلو په انغري د سلورو چای
جوش نه ایشیدلی اوبه په یو بالټي کې واړولې او دا یې
بیا په نورو اوبو ډک، په انغري کیښودو. بالټې یې
غسلخانې ته په اوږلو کې یوی جینۍ ته یې وویل، " چاې
جوش ته پام وکړې، زه لامبم." یوی ورته وویل، " چاې
به څښې که نه؟" نورین په دېوال لګیدلې ګړۍ ته وکتل
او وی ویل ، "که ځان ته مو جوړوله نو زه به هم
درسره وڅښم" د هغی جمله دریو واړو جینکو په خندا
پورا کړه،" که نه ما ته یې مه جوړوئ." نورین ورته
هیڅ وونه ویل، دالمارۍ نه یې پاکی جامې را واخستې او
غسل خانې ته لاړه. نورو جینکو د یو بل سره ټوکې
کولې او لږه شیبه وروسته چې په غسل خانه کی د اوبو
شړشړ خلاص شو نو دوی چاې جوړې کړې.
نورین خپلې کوټې ته لاړه چې کړکۍ یې تراوسه خلاصه
وه. د "مدرسته البنات" ودانۍ یو ګودام مخې ته جوړه
وه. د ګودام په دویم پوړکې څو کوټې وې چې مخې ته
یې برنډه وه. یو وخت پکې د ملک ملازمان اوسیدل خو
اوس ټولې کوټې یې ویړیا د نورین په شان استادانو ته
ورکړې وې. ښکته په لویو خونو کې کله نا کله میوه او
نور شیان پیښور ته د وړلو لپاره ساتل کیده چې دوه
درې کسان به څو ورځې هم هلته پاتې وو. د ښوونځي

او په ګودام کې مستقل اوسیدونکې شینو کاکا و. نورین د کړکۍ پرده رابنکله چې د شیشې نه بهر ترې څو کورونه ښکاریدل. د خپلواوړ.دو لمدو ویښتو د ړ.منځولو په وخت یې د آسمان په څنډو د شفق وروستیو وړانګو ته کتل. د ځینو کورونو رڼاګانې بلې وې اوهغې پرده بیا په کړکۍ برابره کړه نو په کوټه کې تیاره شوه. دې د کوټې رڼا بله کړه، د یووړوکې بوتل نه لږ تېل یې په لاس واړول او مخ لاسونه یې پرې غوړکړل، لمده تولیه یې د دروازې په شا لګیدلې میخ سره ځوړنده کړه او د کټ سره نږ.دې میز ته یې وکتل. هلته د دې ټول دنیاوي دولت ایښې و. د لاس ګړۍ چې تره ورله په کالج کی د داخلې په وخت اخستې وه، د سپینو وړې والۍ چې مور ورته له ماشومتوب په غوږ.وکړی وې او دی به هره شپه لری کولې، هغه قلم چې طارق ورته له پیښوره راوړې و او دې به پرې لیکونه لیکل، چې سهار به یې څیرې کړل. د کوټې په بل سر کې په سیمټي فرش غوړیدلې په وړوکي قالین د کتابونو ډیرې پروت و. ورسره کاپیانې اوخپاره کاغذونه، پرون چې یې په کوم حالت پریښې وو، هم هاغسې و. دې ډېرۍ ته په کتلوهغې د سټړیا احساس وکړو. یو ورځ وروسته یې لومړۍ پرچه وه او ډیره تیاري یې نه وه کړې. "چاې جوړې شوې، نورین راشه!" د لوې کوټې نه یوې جینۍ ورته ناره کړه نو هغې خپل تور شال په اوږ.و تاوکړو او له کوټې ووتله. نورکله به دا استادانو سره په خبروکی

شریکه شوه خو نن یې د چایو مګ راواخستو او خپلې کوټې ته په تلوکی یې وویل، "د پرچې لپاره راته دعا کوئ." جینکو لاسونه پورته کړل او په خندا شوې.
په هغه شپه نورین ترناوخته په قالین ناسته، لیکلي نوټونه یې ولوستل. په ځینو یې د سور قلم نښې لګولې، بیا به یې یوکتاب یا بل راواخیستو او د معلوماتو لټه به یې وکړه. د هغې سترګې خوبوړې وې خو کله به یې اوبه وڅښل او کله به راپاڅیده او څو قدم به یې اخوا دیخوا واخیستل چې خوب یې وتښتي. یو وخت یې سترګې بندیدې چې د ډزو اوازونه یې ترغوږو شول. هغې زرکړکۍ ته وکتل اود نورو کوټو نه جینکی له وېرې ددې کوټې ته راغلې. کله چې ډزې بندې شوې نو د پوړو هغه دروازه چې دوی به هر وخت بنده ساتله، وټکیده. شینو کاکا په لوړ غږ پوښتنه وکړه چې خېرخېریت دې. یوه استاده دروازې ته ورغله او هغه ته یې ډاډ ورکړو.
له تېرو څو میاشتو دوي کله کله د شپې ډزې اوریدې او اوس ورسره عادت شوې وې خود ښار په پېښو ټول اندیښمن وو. استاداني خپلو کوټو ته لاړې نو هغې د لاس ګړۍ ته وکتل، دولس بجې وې. طارق به اوس هم ویښ وي، او یا به د خالد لالا سره بوخت وي او یا د میرزا سره د زمکو حسابونه ګوري. نورین غوښتل چې طارق سره خبرې وکړي، خو په دې کورکې ټیلیفون نه و. د سختې اړتیا په وخت دوی به د دفتر ټیلیفون

کارولو. "کاشکه راسره موبایل وای"، نورین ارمان وکړو. طارق ورته څو واري ویلي وو چې یو ساده ټیلیفون به ورته واخلي خو هغې ورسره نه منل. " د څه د پاره؟ بیا به هر وختې هم ته راته ټیلیفون کوې" هغه په خندا شوه نو طارق تندی تریوکړو،" ستا زما سره څه دښمني ده؟ نورین خبره واړوله،" ما ته خپل حېثیت معلوم دی، دا د خانانو د لوبو شې دې." طارق ورته په قهر شو، " ته خبره یې چې اوس د مزدورانو سره هم موبایل وي؟ زمونږ نوې ډریور ښایسته ګل دوه موبایله لري، یو یې خپلې مېرمنې ته اخشتې دې، چې ورته د غوا د لنګیدو او د کټي د زیږیدو خبر پری ورکوي" نورین په دې خبره دومره وخندل چې طارق هم ورته موسکې شو.

اوس هغی سوچ کوو چي که یوه پېښه وشوه نوطارق به څنګه خبروي؟ د کټ لاندې یو تور رنګ بېګ تسمه یې راښکله او بیا په بیګ کې یې یوجوړ جامې، کتابونه اوڅو کاپیانې ځاې کړې. د شپې یوه بجه وه او ماځیګر چې د ښوونځي نه ستړې ستومانه راغله نوخپال یې و چې زربه اوده شي خو تراوسه ویښه وه. شپبه وروسته چې په کټ پرېوته نو د سوچونو یوه لړۍ ترې راتاو شوه.

په شانګله کی جنګ و او هغه هیڅ خبره نه وه چې ددوی په کلي کی به څه حال وي. هلته یوه نوې ډله پیدا شوې وه چې د ملښیا د پوستونو نه یې پوځیان تښتولي و.

www.safiahaleem.com

نورين د خپلې مور او د تره د کورنۍ غړو ته اندېښمن وه. اوس د مورخبره ورته يادېده چې خويندې هم له ځانه سره بوځه. هغې ارمان وکړو، "کاشکه تېرځلې مې راوستې وای." خو بيا يې د کټ بل لوري ته مخ واړوو. " دلته به څه وکړي، سبق يې نه دې ويلې" د نورين پلار د طارق د نيکه باغبان و او دا د ديارلسو کالو وه چې مړ شو. هغې د ښوونځي نه وروسته د کالج سبق لپاره ځوکاله په مينګوره کې د تره په کورکی تيرکړي وو. "څومره ښې ورځې وې." هغې سوچ وکړو. تره يې په ريړې د ميوې خرڅولو نه وروسته د يوې وړې هټۍ خاوند شو نو څومره خوشالي يې کړې وه. دده هټۍ ته به څومره ښځې راتلې او ټول مال به يې زر خرڅ شو. د تره دوو زامنو باغباني پرېښې وه او د کراچۍ او لاهور نه به يې ورته د هټۍ لپاره نوي شيان راوړل. بيا يوه ورځ د شپې په هغه بازار کې ډيرو هټيو اور واخستو او هرڅه خاورې ايرې شول. نورين ته د تره څېره رايادہ شوه چې د هغې اور نه وروسته بيرته کلي ته تللې و. د ژورخفګان علاج هم دا و چې دې په کلي کې ژوند وکړي. تصوريې وکړو چې هغه به د وسله والوسره څنګه چلن کوي.

د تره د تلو نه وروسته د نورين سرپناه د بابا کور و. اړخ يې واړولو نو د نرګس ژړا يې اوريده. نرګس د بابا لمسۍ وه چې مور پلار او نور ورونه خويندې يې په کراچۍ کی اوسيدل. تېرځلې د نورين په ليدو ورته

ځومره ژړلي و. بیا د خدیجې خبرو نارامه کړی وه، " هغه جهاد والا خلک راغلي و او وېل یې چې پېغلې دې د دوی ځوانانو ته په نکاح شي." باباپه دې خبره ټکانې خوړلې و، " کله، څه وخت، ځوک و؟ خدایږوکه یې پرېږدم، دوي په چا..."خدیجې هغه خبرو ته پرې نه ښودو، "ته به د چا څه وکړې، په هره خبره دې نیسي چې تاسو کاپران شوي یئ. زه خو وایم، کراچۍ ته به لاړ شو." بابا وویل، "د پښتنو لاره د تېښتې نه وي". خدیجې له بیا قهر ورغلو، " ته د کومو پښتنو خبره کوې، هغه چې د یوبل نه په لپو پېسې اخلي او سکولونه سیزي، او که هغه چې ټوله مسلماني یې د ښځوپه لیدو الونیا کیږي".

د نورین په سر کی درد شو او زړه یې په زوره ودرزیدونو نو په کټ کې کیناسته. خو هرډول خیالونه لکه د کرغېړنو ځناورو پرې رامات وو. هغې غوښتل چې په زوره زوره چغې ووهي او بهر سړک ته ووځي.

بیا سملاسته او د لاس د ګړی ړنو ستنو ته یې وکتل چې د دوو بجو وخت یې ښودلو. " پینځه بجې تیاره اوسه" د طارق خبرې د هغې په غوږونو کی شات راوڅڅول.

سهار به هغه سره پېښور ته ځي، اودې سوچ په نورو ټولو بدرنګو خیالونو پرده راښکله . د سورت یاسین په تېرولوکمبله یې په ځان راښکله اوپه بالښت کی یې مخ پټ کړو.

# څلورم څپرکې

عمران د کالام نه بره "مټلتان" سیمې ته د رسیدو سره په سرکاري میلمستون کی خپلو دوو نورو مسلکي ملګرو جاوید او خورشید سره د سبا د کورس لپاره پلان جوړ کړی و. خورشیدد تیرو څو کلونو راهیسې د سوات په بره غرونو کی د نادرو بوټو او ونومعلومات ددوی اداري ته ورکول. ده او عمران له ډیره وخته یو بل سره پیژندل او د سوما د بوټي نوم یې له ده اوریدلې و. د عمران دا نوم دومره خوښ شو چې د کورنۍ د مخالفت سره یې پخپلې لوردا نوم کیښودو. څو کاله پخوا ورته خورشید د مټلتان نه دا بوټی راوړی و چې ځاي خلکو ورته " سومیانۍ" ویل. په هغو ورځو کی له دی نسوار جوړیدو. خو اوس عمران خبر شو چې دا بوټی په ورکیدو و. خورشید ورته وویل چې که باران وونشو نو دوی به بره " ماهو ډنډ " ته ورشي چې پخوا پکې دا بوټی ډیر موندل کیدو. عمران ته د سوات نامتو لیکوال پرویش شاهین خبرې را په زړه شوی چې په یو مجلس کې د سوما تاریخ او ددی د شیرې د څښلو د دود په اړه کړی وی. ده د خپلې کوټې له کړکۍ ولیدل چې د نمر ورستۍ وړانګې د خړو وریځو نه لکه د چترۍ وزرونه غوړولي و. د هغه دا ننداره ډیره خوښیده نوخپله وړه ډیجیټل کیمره یې د جیکټ د جیب نه راوویسته اودا ننداره یې پکې بنده کړه. بیا یې کیمره د یو تار سره

خپل لیپ ټاپ کمپیوټرسره ونښلوله چې هم هغه ننداره ددې په پرده وګوري. خو د کړکۍ ننداره هغسې نه وه لکه چې دده په کمپیوټر ښکاریده. دې په کړکۍ کی خاموشه ودریدو اوتر ډیره وخته یې آسمان ته کتل.
کوټې نه بهر د څو کسانو په خبرو دی د خپلو خیالونونه راووتلو خودروازه یې خلاصه نکړه. د خورشید غږ یې وپیژندلو چې د یو ناآشنا سړي سره یې خبری کولې.
دروازه وټکیده نو دی بهر لاړو. بل سړي ورسره روغبړ وکړو اوخورشید وویل، " سعیدخان سبا په کورس کی راسره دی، بره د کلي لاره سمه نه ده نونن یې ځان راورسوو." عمران د دوی دواړو سره په خبرو خبرو د ناستي لوی کوټې ته ورغلو. په پخلنځي کی دوو کسانو د شپې د ډوډۍ تابیا کوله. عمران سر وردننه کړو او په زوره یې وویل، " کاکا یو ملګری مو اوس رارسیدلي دې، ډوډۍ به زیاته پخوئ." دننه غبرګ اوازونه یې واوریدل، "هر څه موکړي دي. " خورشید د بهر نه په خندا وویل، "شکر چې هرڅه موکړي دي."
سعید وخندل او عمران موسکی شو خو په سترګو کی یې پوښتنه وه. خورشید د کوټې دروازه پرانسته او عمران ته یې وویل، " تا به پام کړي وي، چې په اشنغر کی کله د چایو یا د ډوډۍ ست څوک وکړي نو میلمه واي، "هر څه موکړي دي." عمران اوس په زوره وخندل. "ستا هم هر څه ته پام وي."

دوی لوې کوټې ته وردننه شول چې چاپیره پکی صوفې ایښې وې او د دېوال سره په یو میز کتابګوټي او قلمونه په ترتیب پراته و. دا د جاوید کار و چې ټول مواد یې له ګاډي رابهر او ځای په ځای کړي وو خو اوس پخپله ورک و. ډیر وخت وروسته دی راښکاره شو نوویښته یې لوند، پاکې جامې په غاړه او په یو رومال یې غوړ.ونه وچول. خورشید ناره کړه، " یو خو تا د ځان نه مهې جوړ کړي وي." جاوید په یوې کرسۍ کیناستو کی وویل، "سهار به نه په اوبو واروي او نه ددی ځای په موسم باور کیدیشي، ځان مې بې غمه کړو." بیا یې سعید ته وویل، بره څه خبرونه دي، ستاسو غاړې ته هر څه ټیک ټاک دي؟" سعید وویل، استاد هلته خلک په ډوډۍ پورې حیرانه دي چې څه وخوري. پخوا به یوڅه غړوسکي راټوکیدل اوس هغه هم نه وي." جاوید عمران ته وضاحت وکړو، "غړوسکي، ځنګلي مشروم ته واي" خورشید وخندل، "مړه سم دم ورته خریړي ولې نه وایئ؟". د عمران په تندي هغه رګ ښکاریدو چې د فکر پر وخت به نور هم را وپړسیدو.

د ډوډۍ نه وروسته عمران د خپلې کوټې نه کمپیوټر راوړو او دوی ته یې د هغو بوټوتصویرونه یو یو ښکاره کړل چې په تیرو څو ورځو کی یې اخستي و. سعید ورته ددی ټولو بوټوځایی نومونه ښودل او عمران به ورسره په انګریزي او پښتو ژبوکی ولیکل. د شپې تر

ناوخته د عمران کوټه د کمپیوټرپه تته رڼا کی روښانه وه او دده ګوتو زر زر ټایپ کوو.
په بل سهار دوی ایله چاې څښلې وې چې د کورس ګډون کوونکي د دوو او دریو په ډلو کی میلمستون ته راغلل. د ټولو جامې زړې خوپاکې اوسترګی یې رڼې وې. د عمران یو سپین بږیري ته پام شو چې د مخ هډوکي یې راوتلي واو رنګ یې زیړ و. د یو بل ځوان په پښو پوځي بوټان په ختو لړلي او داسې ښکاریده چې اوږد مزل یې کړې و. دا هغه کسان و چې د ځنګلاتو د شعبې سره یې څه نا څه کارونه کول. په دوی کی یو څو لوستي او نورهغه وو چې د سکول سبق یې نه و پورا کړی. دوی ټول د لوې کوټې په صوفو ناست وو او د میلمستون خدمتیانو ورته چاې او بسکټ مخې ته کیښودل. جاوید هر چا ته یو قلم اوکتابګوټې ورکړو، خورشید یوه لویه سپینه پرده د اوسپنې په دریو پښو ودرولې وه او عمران د وړوکي پروجیکټر د لاری د خپل کمپیوټر یوعکس وربانديې د راوستلو هڅه کوله. د ټولو سترګې دی مشینونو ته وې.
عمران د کمپیوټر نه سر راپورته کړو او په کوټه کی ناستو کسانو یې یو نظر وځغلوو. جاوید غاړه تازه کړه او د کورس په اړه یې خبری وکړی. پاتې ورځ د میلمستون خدمتیانو د چاې ډوډۍ راوړو په وخت هغه ماشومان به وشړل چې د کوټې د کړکیو په شیشو کی یې دننه کتل او د دومره ډیرو خلکو یو ځاې کیدل ورته

حیرانونکی و.  یو څو د پخلنځي نه هم تاویدل چې دننه پکی ډوډۍ پخیده.
ماښام په میلمستون کی ګڼه ګوڼه او په ټولو کوټو کی رڼا ګاني بلې وې. یو جنریټر روان و چې نن سهار ورته نور ډیزل راوړل شوي وو. عمران د پرون په څیر د خپلې کوټې کړکۍ پرانسته خو د جنریټر غږ او د ډیزل لوږی یې خوښ نشو او بیرته یې بنده کړه.  د هغه زړه و چې خدمتیانو ته ددې د بندولو وواي، خو بیا یې خپل کمپیوټر ته وکتل چې اوس یې د چارج لپاره ایښې و.  د کوټو نه د کورس د ګډون کوونکو خنداګاني یې اوریدې.
هغه خپل موبایل ټیلیفون راوویستو او یو واری یې بیا ولیدل چې سګنل نه و.  له پرونه راهیسې هغه څو واری دا کارکړی و سره له دی چې خورشید ورته ویلي و چې هلته موبایل کار نه کوو.  هغه په یو سیټیلایټ ټیلیفون امینې ته د خپل رسیدوخبرورکړی و.
د شپې ډوډۍ لپاره چې دوی لوی کوټې کی یوځاې شول نوبهر د پوځي جیپ غږ یې واوریدو.  ټولودروازې ته وکتل چې یوافسر پکی ولاړ و.  د سلام  نه وروستو یې د عمران نوم واخستو نو دی نږدې ورغلو.  پوځي ورته په ادب وویل، "کرنیل صیب موغواړي."   عمران بهر شو او د برنډې مخې ته د پوړوسره یې جیپ ولیدو.  د ګاډي رڼا ګاني دومره تیزې وې چې عمران په سترګو لاس کیښودو.  دننه ناست یو چا ډریور ته امر وکړو او رڼا ګانې مړی شوې. عمران ورنږدې شو نو یو خیټه ور

افسر تری رابهر شواو ده ته يې لاس وړاندی کړو. عمران ورسره روغبړ وکړو اود هغه مخ ته يې کتل چې د برندې په رڼا کی ورته اشنا ښکاريدو. افسر دده په اوږه لاس کيښودو او ورته يې وويل، " دومره خو نه يم زوړ شوې چې ته مې اوس وونه پيژنې" نابېره د عمران سترګې د هغه خاکي رنګ کميس د پاسه د نوم په وړوکي فلزي بيج ولګيدې. "اشرف" او په څو شيبو کی عمران د خپل ښوونځي په ميدان کی ولاړ و. اشرف دده د صنف تر ټولو وړوکې هلک و. دوی به ورته په ټوکو "پيکسي" ويل. کله چې هلکان په جنګ شول نواشرف به له ويرې منډې کړې او يو استاد به يې خبر کړو. اوس دی د عمران نه زوړ ښکاريدو خو په سترګو کی يې هم هغه شوخي وه چې څلميتوب کی يې لرله. دواړو ښه شيبه هم هلته خبری کولې او د نورو ملګرو معلومات يې يو بل ته ورکول. جاويد د برنډې نه کتل او په انتظار و چې يو مناسب وخت کی دوی ته د دننه راتلو وواي. خو وې ليدل چې عمران او پوځي له نورو بې خبره وو. خدمتيان ناارامه وو چې ډوډۍ به يې سړه شي او د کورس خلک په انتظار و چې کله به ډوډۍ خوري. خورشيد هم برنډې ته راووتلو، غاړه يې تازه کړه اووې ويل، "ډوډۍ تياره ده، ټول ستاسو په انتظار دي." عمران د اشرف لاس ونيولو او دننه راتلو لپاره يې ورته وويل. هغه عذر وکړو، "زمونږ لنګر ماځيګروي، تاسو وخورئ او مونږ به چايو له راشو."

دا يې وويل او په جيپ کې کښيناستو چې د مخې سره روان شو. خدمتيانو زر ټولو ته ډوډۍ کېښوده او عمران راغلو نو خورشيد او جاويد ته يې وويل، "اشرف په سکول کې مونږ سره و، په وروستي ځل مې د لسم د امتحان په اخري ورځ ليدلې و، اوس ډير بدل شوی دی."
خورشيد د چرګ هډوکې په قاب کې کېښودواو وې ويل، "خير دی مونږ پوښتنه نه کوو چې تا لسم کله کړې و، لا د ځلويښتو کالو نه ښکارې." نږدی ناست کسان چې ددوي خبرو ته يې غوږ نيولې و، وموسيدل خو سرونه يې ښکته اچولي، ډوډۍ يې خوړله. جاويد وويل، په پوځ کې کرنيل د ډيرعمرنه وي او هغه ځوک چې پکی خپلوان لري، زر بره رتبو ته وورسيږي." عمران د يو کاغذي رومال سره لاسونه پاک کړل، " دا ريښتيا دي، د اشرف پلار هم په پوځ کې افسر و، مونږ ته به يې کله کله د هغه کيسې کولې."
په بل سهار د درس او چايو نه وروسته ټول يو کلي ته د تلو لپاره تيار شول. هر چا ته د غرمې خواړه په کسوړو کې ورکړې شوي و چې جاويد نن سهار تر خپلې خارنې ورته جوړ کړي و. د تبخي په دوو ډوډيوکې سرې کړې اګۍ تاوشوې وې. ورسره د پيازو غوټه او يوه مڼه وه. عمران خپل سامان په هغه لوې بيګ کې کېښودو چې په شا به يې ګرځولو. د تګ لپاره کلک بوټان، د جيکټ په هر جيب کې يې څه نا څه ايښي وچې په ځنګل کې يې پکاريدې شو. له کړکۍ يې وکتل

نو لمر راوتلې و. ده یوکریم په مخ او په لاسونو ومښلو، توری عینکې یې په سترګو کړی او بهر راوتلو. دده په لاس کی کمپیوټر و چې د ورځې لپاره یو خدمتي ورته دامانت ساتلو لوز کړې و.

له برنډې یې ولیدل چې د کورس زیات کسان  په انتظار ولاړ وو.  ټول هم هغسې په زړو جامو کی و ، د چا په پښو کی څپلۍ او د جاګر ( کرمچ) بوټان، په لاسونو کی یې د پلاسټکو خلتې نیولې وې چې پکی ډوډۍ وه.  یو څو کسانو د کمیس پرتوګ د پاسه واسکټ اغوستې او پکې خپل کتابګوټې او نور شیان یې ایښي و.  خورشید او جاوید ددی ډلې یو برخه شوي وو، دواړو خړی جامې اغوستې او په واسکټونو کی خپل ضروري شیان ایښي و. عمران ته خپل ځان لکه د یو بهرني ښکاره شو.  ده خپل کمپیوټر جاوید ته ورکړو چې خدمتي ته یې وسپاري او په منډه بیا خپلې کوټې ته لاړو. زر زر یې جیکټ لیرې کړو او واسکټ یې واغوستو. د جیکټ د ټولو جیبونو نه یې شیان راوویستل، ځینې یې هم هلته په کټ پریښودل او څو یې اخوا دیخوا د واسکټ په جیبونو کی کیښودل. د لوی بیګ یو زنځیر یې راښکلو نو ددی پاسنۍ برخه تری بیله شوه.  په دی کی یې خپله ډوډۍ او څو نور شیان ځای کړل او په دیوال ځوړند شیشې کی یې وکتل. بیا په منډه بهر ووتلو.

د عمران په لیدو د جاوید په سترګو کی اطمینان ښکاره شو اوورته یې سر وخوځوو. خورشید پری ټک وکړو،

www.safiahaleem.com

"ډیره خواري دی وکړه خو زمونږ په شان کیدې نشي، د کلي ماشومان هم پوهیږي چې ته ددی ځاې نه یې."
عمران په خندا وویل، "او ته د کوم کلي یې؟ زه خو بیا هم د مینګوری یم، ستا کلی خو په چارسده کی دې، په ټولو کی لرې" یو څو کسانو د دوی په خبرو وخندل او بیا یې جاوید ته وکتل چې د برنډې په پوڼۍ ختلې او دوی ته یې معلومات ورکول چې کوم نباتات ته به پام کوي.
هغه لاره او غرونه ډیرعجیبه وو او عمران پری وړاندی نه و ورغلې. د لویو لویو تیږو نه بوټي راشنه شوي و. ونې پکی لږې وې چې دده په اندازه پخوا به خلکو وهلي وي. د سعید نه یې پوښتنه وکړه نو هغه ورته وویل چې په دی غرونو تل واړه بوټي کیږي او ځینې یې میوه هم لري او ځاي خلک یې خوري. په څو ځایونو کی دوی به د دمې لپاره په تیږو کیناستل او که چا یو نوی بوټې موندلې او معلومات یې لرل نو دا به یې نورو ته ښکاره کړو. عمران به په یو وړوکي ټیپ کی دا معلومات ثبت کړل، د بوټي عکسونه به یې واخستل او دا به د پلاسټکو په وړکي کسوړه کی کیښودو چې وربانديې د نوم لیکلو ځاي جوړ و. په یو رنګین قلم به یې د بوټي نوم ولیکلواو دا به یې جاوید یا خورشید ته ورکړو چې وې ساتي.
دوی د سومیانۍ بوټې تر اوسه نه و موندلې خو د عمران لپاره په دی لاره کی ډیر څه نوي وو. یو ځای دوی د اوبو د یوې چینې سره ودریدل نو پکی واړه واړه رنګین

کاڼي ښکاریدل. عمران اوبو ته لاس کړو خو دومره یخې وې چې زر یې ترې راښکلو.  خورشید د پلاسټکو مګ د خپلې کسوړې نه راوویستلو، دا یې له چینې راډک کړو او عمران ته یې ونیولو.  ده اوبه وڅښلې او غوښتل یې چې پاتې اوبه بیرته چینې کې واچوي خو د سعید غږ یې واوریدو، "مونږ جوته اوبه بیا په چینه یا سیند کې نه اړوو، دا ګناه ده."  عمران لاس ونیولو او سعید ته یې وکتل، بیایې اوبه ورو غوندې د یوې تیږې شاه ته واړولې.  ټولونه یې پوښتنه وکړه، " تاسو ددې روایت نه خبر یئ؟  ډیرو پکې په مثبت سر وخوځوواو یو تن وویل، " صیب دا چینې خو زمونږ لپاره لکه د زیارت وي، هلته لږ وړاندې په ډنډ کې مهیان دي خو هیڅوک یې نه نیسي او نه یې څوک خوري." جاوید ددې عقیدې د ګټو په اړه ټولو نه پوښتنې وکړې او شیبه وروسته دوی بیا روان شول.  د غرمې ډوډۍ دوی د رنګینو مهیانو د ډنډ غاړې ته وخوړه.  هلته د مرغیو شور و او عمران ډیره هڅه وکړه چې تصویرونه یې واخلي خوتر څو چې ده ورته کیمره برابروله او فوکس کوو، مرغۍ به والوتې. د کورس یو سپین ږیرې چې ښه تکړه وجود یې لرلو، په کاغذ د عام پینسل سره د ونو او بوټو انځورونه جوړول.  عمران ورته یوه مرغۍ په ګوته کړه چې که د هغې خاکه یې ورته جوړه کړه نو دی به یې وروسته پخپله رنګ کړي.  ټولو دمه وکړه او

جاوید خپله نقشه دوو کسانو ته ښکاره کړه چې د شمال لوري ته د تلو اشاره يې ښودله.
ټول کسان اوس د کچه لاری نه یو میدان کی روان و چې وړی ونې يې لرلې. عمران یوځاې د غټې تیږې سره جوخت د سپیره رنگ یو بوټې ولیدو نوجاوید ته يې د ودریدو وویل. ټول د تیږې چاپیره راټول شول او سعید ورته کښیناستو. بیا يې وویل، "آو صیب هم دا سومیانۍ ده". ټولو پر زمکه شنې وړی نلکۍ خپرې ولیدی چې په یو بل کی ورننوتې او یو وړوکې پیازي گل يې کړی و.
عمران پخپله کیمره څو تصویرونه واخستل، خو رڼا سمه نه وه او ده اخوا دیخوا وکتل. جاوید اوس ټولو ته ددی بوټي خاصیتونه ښودل. یو کس وویل، زمونږ د بزو(وزو) دا ډیرخوښ وي او چې وخوري نو داسی مست شي چې سم ټوپونه وهي. خورشید ډیر په احتیاط ددی نل ډوله پاڼه راوشوکوله نو زیړ بخڼه شیره تری راوتله. یو بل کس وویل، زمونږ په کلي کی یو کس ددی نه نسوار جوړوو او ویل يې چې ددی په شان نسوار بل ځاې نشته. نږدې وه چې خورشید دا شیره پر ژبه ایښې وې خو عمران منع کړو. "مونږ خبر نه یو چې نسوار جوړونکي ورسره څه گډوي، ممکن زهر ژن وي." خورشید دا پاڼه د جاوید په لاس کی ورکړه، بیا نورو هم وار په وار دا ولیده او اخر یوې پلاسټیکي کسوړی کی يې کیښوده. انځورگر یوې ډډې ته ناست و

او د بوټي خاکه يې جوړوله. عمران د هغه اوږدو گوتو ته کتل چې ډير په مهارت يې پينسل نيولې و. ځان سره يې وويل، "په بل ملک کی به دا سړی څومره مشهور وې، دلته د خپل کلي نه بهر يې څوک پيژني هم نا!"
جاويد اوس د ټولو نه پوښتنه کوله چې د سوميانۍ بوټي د ساتنی لپاره څه کول پکار و. ټولوخپله خپله راې ورکوله چې نابيره د ټوپک يو ډز وشو او مارغان والوتل. جاويد او خورشيد د عمران سره پر زمکه پريوتل خو نور کسان ولاړ و او اخوا ديخوا يې کتل. جاويد په چيغه وويل، ښکته شئ او يو څو کسان کيناستل خو نور هم هغسې ولاړ و. عمران د خپل واسکټ په جيب کی د سيټيلايټ ټيليفون بټن له زور ورکړو چې د وړوکي "پيپ" سره چالان شو. په ولاړو کسانو کی يو وويل، "دا ښکاريان دي، مرغۍ وولي." خو د دويم ډز سره ولاړ کسان هم کيناستل. عمران د ټيليفون په پرده د سگنل په لټه وچې تر اوسه نه و ښکاره شوی. ځان ته په قهر و چې د بيټري لپاره يې ولې دا بند ساتلې و. څو شيبې خاموشي وه او بيا دوی د قدمونو ښکالو واوريده. اوس ټول ناست وو او د غرږ لوري ته يې سترگې نيولې وې. دوی لږ په لوړه د تيږو سره ناست و او ښکته د لويو پاڼو او ازغن لرونکو بوټو په منځ کی يې درې کسان وليدل چې په اوږو يې ټوپک ايښې و. د ټولو ږيرې ببرې او د گوريلاي پوځ لباس يې په غاړه و خو د خپل تگ نه دوی پوځيان نه ښکاريدل. مخونه يې سره

او وجود کی لوړ دنگ او تکړه وو.  خورشيد او جاويد د نورو کسانو سره اوس په هم هغه ځاې ولاړ و، خو عمران د تيرېږ سره ډېره لګولې د تيليفون پردې ته ځير و.  جاويد په تشويش ورته وکتل او وې ويل،" ټيليفون او کيمره دی پټ کړه." عمران زر ټيليفون جيب کی دننه کړو.  هغه دری کسان رانږدې شو او يو پکی په زوره سلام وکړو.  ټولو په ګډه ورله ځواب ورکړو او بيا يو يو هغوي ته لاس ورکوو او روغبړ يې کوو.  هغه چې د دوي مشر ښکاريدو، په زوره وويل، "څنګه چل دی؟ لکه چې سيل له راوتلي يئ؟  جاويد ورته ځان وپيژندلو او د خپل کار په اړه يې يو څو خبری وکړی نو هغه وخندل.  "دا څه کاردې؟ مونږ خو د پړانګ ښکار له راوتي يو."  خورشيد د هغه کس په اوږه ځوړند بوجۍ ته اشاره وکړه چې د وينې نسواري داغونه يې لرل، "لکه چې نيم پړانګ خو مو ويشتې دې؟"  يو څو کسانو په زوره وخندل او نور موسکي شو. هغه مشر تندی تريو کړو او خورشيد ته يې وکتل چې په سترګو کی يې شوخي وه.  خو دويم کس د هغه په ټوکه پوهه شو او ورته يې وويل، يو څو مارغان مو ويشتي دي چې بيګا له به يې کباب کړو."  جاويد د خبرې لپاره خله خلاصوله چې خورشيد تری مخکی شو، "يره، په ښکار پابندي ده او دی غرونو ته خو څوک د وسلې سره نشي راتلې، تاسو يې څنګه پريښودئ؟"  دويم کس پخپل ټوپک داسی لاس راښکلو چې د عمران په څټ ويښته

www.safiahaleem.com

ودریدل. هغه کس په یو مړاوي خندا وویل، "دا زمونږ خپله خاوره ده، دلته د پنجابیانو قانون نه چلیږي." مشر چې وړاندی ګام اخستې و، په زوره یې دوی ته سلام وکړو اودری واړه ګړندي لاړل د لویو بوټو شا ته پټ شول.

جاوید څو شیبې غلې ولاړ و، بیا یې خپلې خبری داسی پیل کړی لکه چې هیڅ نه و شوي. خورشید د کسوړی نه منه راویستې وه او په مزه مزه یې خوړله. عمران چاپیره وکتل او د جاوید خبری چې خلاصې شوې نو پوښتنه یې تری وکړه. " دلته پړانګ وي؟" یو کس زر وویل، "پخوا به ډیر وو او کله کله به ورپسې خلک د ښکته نه راتلل خو اوس ډیره موده کیږي، نه چا لیدلې او نه مو چری اوریدلي دي." بل کس وویل، "دلته رنګا رنګ مارغان ډیر وي او د ځینو ښکلي وزرونه وي." عمران د مارغانو د نومونو پوښتنه وکړه او ټول ورو ورو بیا پخپله لاره روان شول.

په غرونو کی د غرمې او د شپې تر منځ وخت لنډ وي او کله چې دوی بیرته خپل میلمستون ته راورسیدل نوسم ماښام و. عمران خپلې کوټې ته لاړو او وې لیدل چې دده هر څه هم هغسې په کټ ایښي و چې سهار یې پریښي و. پام یې شو چې په دی کی د پیسو بټوه هم وه. دی ډیر وخت په کټ ملاست و او د ورځې پیښې یې لکه د فلم بیا بیا لیدلې. هغه ټول ځای ورته داسی ښکاریدو لکه چې پخوا یې پکی ژوند کړی و. د خوږو

او یخو اوبو چیني، د مارغانو شور، هغه بوټي او ددی پاڼې. دده د سیټیلایټ ټیلیفون یو غږ وکړو او رڼا پکی بله شوه. دده د مرکزي دفتر نه چا ورته ټیلیفون کړی و.
په لویه کوټه کی د ډوډۍ په وخت د هغو دریو کسانو خبره چا یاده کړه نو جاوید او خورشید تر منځ بحث پېل شو. خورشید ته هغه یو کس چې خبری یې نه وې کړی د بل ملک ښکاریدو. جاوید دا خبره ورسره نه منله.
نورو هم کله کله پکی څه وویل خو د سعید په خبره عمران حیرانه شو،" دی کسانو زمونږ په ژبه خبری نه کولې." جاوید وویل، "څه مطلب؟ دوی خو ډیره ښه پښتو ویله." سعید وویل،" زمونږ د سواتیانو په ژبه کی لږ فرق دی، پام دی و چې یو کس وویل، "ځنګه چل دی؟ دا زمونږ طرف ته خلک نه واي،" خورشید په خندا شو، "دا جمله زمونږ د اشنغر خلک واي، او دا هم تیرو څو کالو کی رواج شوې دی." عمران وویل، " دا دویم سری درته د کوم ځاې ښکاره شو؟ یو څو کسانو په ګډه وویل، "د باجوړ" جاوید سر وخوځوو، هغه خو څرګنده وه، " د مارغانو کباب!" یو ځوانکي وویل، "مونږ مارغان په اور وریتوو، دا د کباب ټکې د علاقه غېر خلک واي" عمران وخندل، " دا غیرعلاقه پکې کومه یوه ده؟" خورشید ورزیاته کړه، "هغه متل دې واي، خپلو نه پردي ښه دي او د پردو نه اپریدي. دا غیر خلک هم هغه پردي به وي." د دریم کس په اړه د ټولو

په راې کی اختلاف و. چا د کشمیر، چا ته د چیچنیا او یو کس خو وویل چې ده ته د روس یا د یورپ ښکاریدو. عمران خپل رپورټ لیکل پورا کړل نو د کمپیوټر په مخ ګړۍ د شپې درې بجې یې ښودلې. هغه د ستړیا احساس نه کوو. ده نور کله هم لږ خوب کوو او اوس چې دومره لنډ وخت کی ډیر کارونه ورته پاتې وو نو غوښتل یې چې هر څه هم نن شپه پورا کړي. سهار د کورس وروستۍ ورځ وه او ده تر اوسه د سومیاني بوټي د ورکیدو په هکله څو نظریې راټولې کړی وې. هغه بوټی چې ده لیدلې او اوس یې تصویرونو ته کتل، ډیر عام بوټې ښکاریدو. سبا لپاره یې کارونه پاتې وو چې یو پکې سهار وختي ددی بوټي یوه نمونه د نورو سره اسلام اباد کې لیبارټرۍ ته ورلیږل و. د بیټري د کمیدو نښه سره شوی وه نوده کمپیوټر بند کړو او کړکۍ سره ودریدو خو بره اسمان کی یو ستوری یې هم ونه لیدو.

پینځم څپرکې

بهر نری نری باران وریدو او د موټر په شیشو لوخړه جمع شوه نو د طارق زړه راټک شو. ده موټر د سړک یوې ډډی ته ودراو، بادامي رنګ پکول یې په سرکړو او بهر ووتلو. په لاس کی نیولي ژیړ ټوکر یې په شیشه ووهلو او د باران د څاڅکو سره دده اوښکی هم یوځای په موټر پربوتې. بیا د موټر شا ته لاړو او په لوند

خیشت ټوکر یې شیشه پاکه کړه. په آسمان کی د تالندې
د غړ سره دده له خلې سلګۍ راوتلې اود سترګو بند یې
مات شو. عینک یې د سترګو نه لیری کړو او په جیب
کی کیښودو. له غرونو وریځی ډیری را ټیټې شوې وې
او اوس هغه ته ښکته د سوات سیند نه ښکاریدو خو د
اوبو شور یې آوریدی شو. یو څو شیبې یې ښه وژړل،
بیا دنورین خبرو یې په غوږ کی انګازې وکړې،"وژاړه،
وژاړه، زه به دې په کېمره فوټو واخلم، لوې پوسټر به
ترې جوړکړم او د سکول ماشومان به پرې وېرووم."
ناڅاپه هغه موسکې شو. ځان ته حېرانه و چې د ژړا
سوب ورته نه و معلوم. د جیب نه یې پاک رومال
راوویستو، پوزه او سترګی یې پاکی کړې، عینک یې بیا
په سترګو کړو او بېرته په موټر کی کښیناستو.
تېرځلې چې دی نورین سره له پېښوره راتلو نو هغه د
موټر شا سیټ کی ناسته وه. کله چې د خپلې تورې
بټوې نه د جوارو د نینو پیکټ یې راوویستلو نو طارق
په خندا شو،" او زه وایم چې په موټر کې د جوارو
خوشبوې د کومه شوه؟" هغې ورته پیکټ خلاص کړو
او وی ویل،" دا مې مخامخ د ګاډې واله نه واغشتل، د
ډوډۍ وخت راسره نه و." طارق د نینو نه یو څو خولې
ته واچولې او نورین ته یې وویل،" تا سره نه د ډوډۍ
لپاره وخت وې او نه زمالپاره." هغې د جوارو له نینو
خوله ډکه کړی وه او څه یې ویل. طارق پوښتنه وکړه.
"مخکې سیټ ته ولې نه راځې؟ څټ مې کوږ شو درته."

www.safiahaleem.com

نورین هم هغسې ناسته وه، د نینو نه په ډکه خله یې بیا څه وویل، طارق ورته وکتل نو په خندا شو، "څه چل دې ؟ ولې پخپل سیټ نه کېنې؟" نورین زر زر نینې وخوړې او په زوره یې وویل، " نه کېنم، نه کېنم...بس ستا زور راباندی رسېږي نو وکړه چي څه کولې شې؟ طارق دواړه لاسونه غوږونو ته یوړل، "خدایه...جنګیالۍ ښځې نه مې وساتې." بیا د موټر په وړه شیشه کی یې ورته وکتل،" زه لسو پورې شمېرم، که پخپل سیټ رانغلې، نو بیا دی په زوره غېږ کی را اخلم." نورین ورته په شیشه کې سترګې راوویستلې. "ها بله ورځ چا لیدلي وو، بابې د خپلې ملګرې د لور داخلې لپاره سکول ته راغلې وه. ما ته یې دا خبره پټه وکړله چي طارق د یوې جینۍ سره ګرځي او په موټر کې په مخامخ سیټ ورسره ناسته وي." طارق د دروازې د شیشې سره ډډه ولګوله او وې ویل،" بابې د خالد لالا د حاله خبره نه وي چې هغه به څه وخت کوم دارو خوري او زما د هرې شیبې معلومات خپل فرض ګڼي." نورین پریشانه شوه، "بابې ته به چا وېلي وي هن؟" طارق د ریډیو سویچ تاو کړو، "هر چا چي ویلي دي ښه یې کړي دي." نورین د موټر شا ته په شیشه کې، بیا د سړک د پاڅه څو کورونوته ووکتل، په خپل سیټ ودریده اود شا نه یې مخامخ سیټ ته ورودانګل. د طارق سپېږمې په یوخوشبوي وتښنیدی. " دا کوم عطر دې لګولي دي؟" هغه په سټېرنګ لاس کېښودو. "ما سره عطرمطر،

کریم مریم، شیمپو میمپونشته." نورین په سیټ ځان سم کړو او بیا یې ځادر کې مخ پټ کړو. د طارق خیالونو لړۍ ماته شوه او هغه بیا موټر کې کیناستو.
د طارق پلار د شیشې نه بهرکتل، مخامخ راتلونکې لارۍ ته یې پام شو چې چارتراش پری باروا‌و یوی ډډی ته کږه شوی وه. "خدای دی ورله انصاف ورکړي، که دا هر څه راولویدل نو..." د هغه پلار له خلی ښکنځله راووته خو طارق د نورین خبری رایادولی چی ده ته به یې سکون وربخښلو. "ته زما د زړه خبره آوری؟ یوه ورځ هغی ورته وویل" که آوری نو شاعري مه کوه، بس دا راته ووایه چی ځان له ډوډۍ پخولې شې؟ طارق ورته حیرانه ووکتل،" ولې، ته به راته ډوډۍ نه پخوې؟" نورین ورته ووکتل، " زه غواړم چې ستا په شان کار وکړم، دا د کورکارونه خو هره ښځه کولې شي." طارق ورته موسکې شو،" په دې خبره به زمونږ په کورنۍ کې هیڅوک باور ونکړي. ټول سوچ کوي چې کار یواځې د پیسو ګټلو لپاره کیږي اوچا سره چې ښې ډیرې پیسې وي هغه به تش خاني کوي، نور هیڅ هم نه. زما مور پلار زما کلینک ته تلل عبث ګڼي."
طارق موټر روان کړو اود هغې چینې نه تېر شو چې په ماشومتوب کی به دی ورته د کورنۍ سره راتلو. دا چینه د یوغر ډډی ته بهیده چې په رنوا‌وبو کې به ده او نورین خپل مخونه لیدل اویو بل ته به یې پېښې کولې.
کله به یې ترې واړه رنګین کاڼي راټولول اولویانو ته به

يې ښودل. كله به په اوبوکی د ونو عجيبه شان پاڼې را ښکاره شوې. بابا به ماشومانوته ويل،" دا چينه د کونړ د يوه سپيڅلي غره د ښېخ نه راووځي اوخلک وايی چي پکې ښاپيری لامبي. دا د ونو پاڼې د ښاپيريو زړې جامې وي. نورين به دا پاڼې راواخستې او د وچولو وروسته به يې سمبال کړې. يوه ورځ هم هلته د چينې په غاړه ناسته وه چې ددې پاڼو نه د خپلې گوډۍ لپاره کميس جوړکړي. پداسې وخت به طارق ددې پام ځان ته د اړولو لپاره به د هغی د اوږدو نسواري ويښتوکمڅۍ راښکله. بيا به په شور او چيغو کې يې يو بل پسې منډې وهلې.

طارق د خپل خيالي جنت نه په يو کرغيړن غږ را بهر شو. يوی لارۍ دده موټر شا نه ، په دی تنگ سړک د مخکي کيدو لپاره هارن غږاو او د طارق پلاړ ورته څو ښکنځلې وکړې، بيا يې شيشه ښکته کړه اوپه زوره يې د لارۍ ډريور ته وويل" سترگي دي کارنه کوي؟ ببړه دې غرقه شه، هغلته وگوره، خوړ راختلی دی." د طارق هم پام شو، د غرونو نه د باران اوبه ژوری ته روانی وی او په سړک تلونکي گاډي په دې بارانی اوبو کې ورو ورو تيرېدل. د طارق لپاره دا ننداره نوې نه وه خو اوس يې ليدل چي په خړو اوبوکې واړه بوټي او کبل هم را بهيدل. د کالام په لاره کی پخوا هم ورباندی باران وريدلی و خو نن دوی د امينې کره د غرمې ډوډۍ ته

www.safiahaleem.com

ایسار شول او اوس د تورو وریځو له کبله کوز ماسپښین وربانديږ تور ماښام شوی و.
پلارترېږ څه پوښتنه وکړه نوطارق لکه د روبوټ مخ ورته واړوو."څه مو وویل؟" پلار یې خپله خبره بیا وکړه." وړاندې ته تګ پکار دی که نا؟ د پلارد پوښتنې په ځواب کې هغه د موټر په هنداره کی وکتل. دوی چی په کومه لاره راغلي وو هغه اوس شا ته په نوروګاډو بنده وه. د بیرته تګ لپاره د موټر د تاویدو هیڅ ځای نه و. "اوس خو وړاندی تلو ته مجبور یو." هغه په وروغږ وویل او د موټرګېر یې بدل کړو. په دی غرنۍ لاره دی څوڅو واری تللی و. هغه وخت چی ده لا د موټر چلولو لایسنس هم نه و اخستې، شاه ولي کاکا سره به یې سیټ بدل کړو، د مور او د خویندو د چیغو پرواه به یې نه کوله او ګاډې به یې په هوا کړو. تر څو چي ده د ډریوری لایسنس اخستو نو د موټر د هرې یوې برخی سپېردل او جوړول یې زده کړي و. کله چې د امینې لپورعاطف امریکې ته تلو نو خپل موټرېې په لږو پېسو ده ته پرېښودو. د شاه ولي کاکا د مړینې نه وروسته دوی نوی ډریور ساتلی وخو پلار به یې د زمکود کارونو لپاره طارق سره تلو. اوس هم دوی د ځنګلاتو د شعبې یو تن سره د لیدو لپاره روان و.
د دوي موټر د بې شمیرو نورو ګاډواو لاریو پسې د غرونو په مینځ کی ودریدو نود پلار یې ګېربکس سره جوخت په وړه خانه کې د خوږو ګولیو رنګا رنګ پیکټ

ته  پام شو.  د هغې نه يې يوه  راواخسته، کاغذ يې ترې ليرې کړو او خولې ته يې کړه.  طارق د خپلې موسکا د پټولولپاره مخ کړکۍ ته واړو.  تيرځلې نورين د رنګا رنګ خوږوګوليو ډبلی ورته په موټرکي اړولې و.  "هن واخله سوګت کاکا په دی به ګوزاره وکړې." طارق موسکې شو، "کاکا خو به راته خپل وريرونه واي، ستا کاکا له کومه شوم؟" نورين د يوې ګولۍ نه کاغذ ليرې کړو او خولې ته يې کړه، بيا يې د هغې په ژولو ژولو وويل" وريرونه به خداې خبر کله درته کاکا واي خو ته دا ووايه چې په تندي دی ولی دولس بجې دي؟" طارق د موټر شيشه بنده کړه او ورته يې وويل، "ځکه چې زماپه ګړۍ کې ديارلس نه وي.  تا پرون ټيليفون ولی نه وچتوو؟  نورين ورته په سخته لهجه وويل" تا ولې ناوخته ټيليفون کړي و؟ طارق تندې تريوکړو." دوه بجی ناوخته وي؟ نورين ګيله من شوه، " ته خبر يې چې زه څو بجې وزګاريږم؟  طارق په قهر وويل، "او ته خبره يې چې زما څومره کارونه وي؟ " نورين کټ کټ په خندا شوه. "مونږ دواړه  د يو بل نه سوالونه کوو، لکه چې ځواب مو  عادت نه وي."

طارق وموسيدو، بيا يې د سترګو د ګوټ نه وکتل چې نورين د يوی بلې خوږی ګولۍ نه کاغذ ليری کوو." که دا سپين ملغلرو په شان غاښونه دی خراب شول نو زه به دی علاج نه کووم."  نورين د لاس په تلي کی ورته سره ګولۍ ونيوله نود طارق پام شو" ښه دا دی زما لپاره

سپینوله؟ د نورین خندا په سترګو کی راتوله وه او هغه وخت د طارق زړه و چي د سرې ګولۍ په ځای د هغی مخ ښکل کړي. نورین ورته خپل لاس نورهم وړاندی کړو او طارق د هغې ګلابي ورغوي لیکو ته ځیر شو.
"ګوره ډاکټره ، زه درته د لاس معاینې له نه یمه راغلی دا ټافي وخوره، ډیره خونده وره ده. " طارق د ګولۍ په اخیستو د هغی لاس کلک ونیولو. نورین وویل،" زه شابه وګوره زما قسمت، ته خو په نجوم پوهیږې، فیس دی رانه اول واخیستو." طارق د هغی د ورغوي په لیکو خپله ګوته کیښوده، " ته ډېره خوش بخته یې، یو سړی درسره مینه کوي او ...او " طارق د نورو الفاظو لپاره په سوچ کی نورین ته وکتل، د هغی په سترګو کی نم و.
"ولې څه چل وشو؟" طارق په تشویش تری پوښتنه وکړه. نورین خپل لاس راښکلو، مخ یې واړوو او په ژړغوني غږ یې وویل" ستا کورنۍ به ما قبوله نه کړي."
طارق شا ته په لارۍ کی د خیال محمد دسندرې په غږ له خیالي جنت بهر شو، " څوک په لمبو څوک په سکروټو ستي شونه، هو، مینه اور دې"، هغه د لوې سړک نه موټر په یوې تنګې او غرنۍ لاری روان کړې و نو پلار یې خپلی ګړی ته وکتل، " زه ښه ده چي ډېر نا وخته راباندی نه شو، حاجي صېب به په تمه وي."
موټر اوس په دری کی ځغلیدو او څو شیبی وروسته د یو سرکاري دفتر مخی ته ودریدو. د سرو خښتو جوړددې

ودانۍ په یو دېوال محکمه ځنګلات لیکلي وو خو چار چاپیره په برنده کی هیڅوک نه ښکاریدل. یوه شین ډاټسن لیرې د ونو په مینځ کی ولاړ و. طارق ولیدل چې په هغی کی د وسلوسره څو کسان ناست و، داسی لکه چې د چا انتظار یې کوو.
باران اوس هم وریدو خو زور یې کم شوې و. طارق د موټر د ډالې نه یوه توره چترۍ را وویسته، بیا د پلار لپاره یې د موټر دروازه پرانسته او چترۍ یې ورباندی ونیوله. دی د موټر نه رابهر شو، چترۍ یې ترې واخسته او د برنډې په پوړو وختلو. طارق ورته وویل، " زه به درته بهرانتظار وکړم." پلار یې د برنډی نه څه وویل خو طارق د هغه د ځواب آوریدو په ځاې د موټر د انجڼ پوښ پرانستې او د تېلو ټینکۍ سر یې تاوکړو. د موبلایل او تیلو د جاج اخستلو نه وروسته، په موټر کی ایښې یوی ریچی سره د خپلوغوړو لاسونو په پاکولو، دی د موټر چاپیره وګرځېدو او ټول ټیرونه یې له نظره تېرکړل.
د نورین خبرو یې بیا په غوږ کی انګازی کولی. تېر ځلې دې په لاره د موټر پټرول کتلو لپاره ودرېدو نو هغی ورته وویل،" زه زه ناوخته دی، کور ته چې ورسیدی نو بیا وګورې چې پټرول پکی شته که نا."
طارق د انجڼ سر په خلاصولو ورته په زوره وویل،" که پیټرول نه و نو نن شپه به دلته په موټر کی تیروې؟
نورین د موټر له کړکۍ سر بهر کړو، " آو...آو ته به

پېټرولو پسی لاړ شي او زه به درته موټر ساتم." طارق هم هغسی د غوړو لاسونود پاکولونه وروسته خیرنه ریچه د نورین په سر واچوله نودا په چیغو شوه. " تا دی خدای د لاری ډریورکړي چي همېشه د تیلو لړلي لاسونه دی نیولي وي." بیا یې غاښونه وچیچل او په غوړه ریچه یې طارق وویشتو. هغه ورته کټ کټ په خندا شو. "لکه زیړه مچۍ ښکارې، گوره وومی نه چیچې" نورین د موټر په بهرنۍ وړې هنداری کې خپل مخ ته کتل او طارق په خندا خندا پخپل سیټ کیناستو. بیا تر ډیره وخته نورین ترې مروره ناسته وه او ده د موټر په سي- ډي کله یوه او کله بله سندره ورته غږوله.
طارق د موټر ټولی شیشې پاکې کړې او د برنډی نه یې د قدمونو ښکالو واوریده. یو ځوان هلک ورته سلام وکړو، لاس یې وړاندی کړواو ورته یې وویل، " حاجي صېب وایی چې دننه راشئ،چاې تیارې دي." طارق ورته وویل، " زه به اول مخ لاسونه وینځم." هلک ورته په منډه د برنډې په بل سرکی یوه دروازه پرانسته او رڼا یې بله کړه. طارق د موټرټولی دروازی بندی کړې او برنډی ته وختلو.
د تیرو څو میاشتو نه ټولو لیدل چې د طارق کړه وړه بدل شوي وو. د ږیرې د اوږدولو نه علاوه په کورکی به یې زیات وخت پخپله کوټه کی تېراو. زیبا او مور سره به یې د نورکله په شان زړه خواله نه کوله او دوی چې پلار ته دا خبره یاده کړه نو هغه وویل تاسو د بهر د

حاله نه يئ خبر، هر يو کس د بل نه ويرېږي. زيبا په دی پوهيده چې د ښارحالت اوختې و. دوی ته په روغتون کی د ښځو مريضانو نه علاوه نورو واردونو ته د تلواجازه نه وه. د ناروغو ښځوشميره کمه شوې وه او کومې چې راتلې نو هغوی به مرگي حال وې.
زيبا د طارق نه دوه کاله کشره وه. په پيښور کی د طب وروستی کال يې پورا کړي و او اوس د هاوس جاب (سيتاج) لپاره بيرته سوات ته راغلی وه. له وړوکي عمر نه دې د طارق سره په هره خبره کې سيالي کوله خو يو بل ته يې خپل ټولې خبرې هم کولې. اوس هغې داسې احساس کاو چې ورور ورسره زړه خواله نه کوله.
هسې خو به د طارق کوټه يو نوکر ورته سموله خونن يې ملا وتړله چې د هغه په کوټه کې څه ولټوي. هغه خپله هم نه پوهيده چې په څه پسې گرځيده. د کټ څادر يې ورته بدل کړو، د بالښت پوښونه يې ولټول، هلته يې څه وونه موندل نو د وړوکي مېز د پاڅه شيانو ته يې پام وکړو، د عېنکو پوښ، د لاس طلاي گړی، ټيليفون، د موبايل کارډونه، وړوکې کتابچه چې د ونو وچې پاڼې او د خواږو رنگين کاغذونه پکی ايښې و. زيبا دا ټول لرې کړل او په لوند ټوکر يې مېز پاک کړو. بيا يې بېرته هرڅه په ترتيب کېښودل. ددی مېز ښکته خانه کی يې کتابونو ته پام شو. يو يو يې راواخستو اود څنډلو نه وروسته بيا يو بل د پاڅه کېښودل. د کوټې يو دېوال د لرگي په الماريو پټ وچې د طارق جامې او بوټان پکې

ايښي و. هغې وار په وار دا الماری چاڼ کړې، د طارق هر يو کوټ او د جېکټ په جېبونو کی يې لاس ووهلو. د يوی الماری بندولو په وخت نابېره په لويه شيشه کی د طارق څېره وليده چې له څه وخته په دروازه کې ولاړ و. زيبا وارخطا ورته وکتل، نوده وويل، "تالاشي دې واخشته؟" هغې زر ووېل، "ما درته کوټه پاکوله." طارق موسکی شو، " نوکران لکه چې ټول مړه شول." زيباخپله ماتې وومنله خوپه قهرشوه، "که تا مونږ ته د خپل زړه حال ويلو نو ما به تالاشي نه اخشته." طارق په خندا شو، "ښه نوڅه دې لټول او څه دې وموندل؟ زيبا په کټ کيناسته. "گوره ستا په معاملو کی زما څه کار نشته خو بابي خبره شوې ده چې ته په موټر کی جينکی گرځوې." طارق د ښو نه ځپلی وويستلې، "ريښتيا وايی، زما په موټر کی ته او ستا نورې ملگرې، د بابي خوېندې او زما ټولې خپلوانې تللي راغلي دي." زيبا موسکی شوه، "هاغه نه يادوې، دوې...د هغې خبره نيمگړې پاته شوه ځکه طارق د کوټې په بل سرکی غسل خانې ته ورننوتو او د شاوراوبه يې ورخوشې کړې. د شپې ډوډی نه وروسته د طارق مشر وروږخالد، لويه کوټه کی په ټيليويژن هندي ډرامه ليده. د دويمې ميرمنې نه هم دده اولاد ونشو نو ژورخفگان ورته پيدا شو. کله کله به ورباندې داسی چپه راغله چې هر څه به يې په زمکه ويشتل. مشری ميرمنې چې ټولو ورته بابي ويل، ورسره وه خو د کشرې مېرمنې ورسره گوزاره ونشوه

او د خپل پلارکره کیناسته. د طلاق ټکې په دې کورکی یو پېغورگڼل کېدواو د کشرې میرمنې د کورنۍ دا غوښتنه ددوی تر منځ د پټنې سوب شوه.
طارق د خپلې مور په کوټه کې د زیبا او بابې سره یو ځاې شین چاې وڅښلي او په دې وخت به یې مورد ورځې حال اخیستو. بابي لوښي راټول کړل خو پټنوس یې یوې خوا ته کړو او پخپله له کوټې ووته. زیبا ورپسې بد بد وکتل او مور ته یې ووېل، "د نواب لور دا لوښي ماته پرېښودل، "طارق موسکی شو، "بیا هم ستاسو د نوابانو لوڼه پکار دي." زیبا سترگې یوې او بلې خوا ته واړولې او اسویلې یې وکړو. هغې د خبرې لپاره خله جوړوله چې د کورد لوې دروازې ټلۍ وغږېده او د څو کسانو لوړغږ یې واوریدو. په دروازه کی به شاه نذر دا محال د شپې څوکیداري کوله.
طارق بهر ووتلو نو پلار یې هم د ناستې د کوټې نه ورپسې لاړو. په ټېلیویژن اوس د نڅا پروگرام پېل شوې و. زیبا لوی کوټې ته ورغله نو بهر ځینو سړو په زوره زوره خبرې کولې. هغې چې د " اسلام ...مسلماني او داسې نور ټکي واوریدل نو ټیلیویژن ته یې پام شو. ارو مرو ددې غږ بهر اوریدل کېدو، نو هغې وارخطا د ټېلیویژن ریموټ کنټرول ته لاس کړو چې هغه غږ ورله ورو کړي. خالد د خپل ځای نه چیغه کړه او په ریموټ پسې یې ور ودانگل. زیبا یې ټېله کړه نوهغه په مېز پرېوته. بابي هم کوټې ته راغلې وه او د خالد لاس یې

ونیولو. دی اوس په ښکنځلو سر شو او ریموټ چې د زیبا له لاسه لوېدلې و، د زمکې نه راواخستو اود ټېلیویژن غږ یې دومره لوړکړو چې په کوڅه کې خلکو موسیقي آورېدې شوه.
په دروازه کی وسله وال کسان لا د وړاندې نه طارق او د هغه پلار ته په نصیحت وو چې د موسیقۍ په لوړ غږ د ټوپکو کړپ کړوپ ووشو او ځینو سړو په ماشو ګوټې کېښودې. طارق په منډه کور ته راغې نو د کړکۍ د شیشې نه یې په خالد سترګې ولګیدې. هغه د ریموټ د غږ په بټن ګوته ایښې وه اوزور یې ورله ورکوو. د هغه له خلې ځګونه راوتل او سترګې یې سرې وې.
طارق بېرته د لوی دروازې لوري ته لاړو او د برنډې په دېوال یې د برېښنا په میټر لګېدلې یوه سپین بټن له زور ورکړو. ټول کور په تیاره کی ډوب اوچپه چپیا شوه. په دروازه کی ولاړو کسانو کی یوتن په زوره وویل، " بهتره به دا وي چې مونږ سره تعاون وکړئ."
ددی خبرې سره ټول په یوه لیکه له کوڅې ووتل.
طارق د برنډې په یوې پوړۍ کېناستو. دی نه د وسله والو، نه د ورور او نه د بل چا په غم کی و. هغه وخت ده په تیاره کی د نورین مخ لیدو. دده پلار، شاه نذرسره خبرې کولې چې طارق اوریدې خو نه پوهیدو چې دوی څه وایی. چا په کوټه کی ایښې موم باتۍ بلې کړې نو تته رڼا خپره شوه. خالد اوس هم ریموټ په لاس کی نیولې و او د هغې ټولو توکمو ته یې په ګوتو زورونه

ورکول. زیبا د مورپه ځنګون سرايښې په ژړا وه. بابي زیبا ته په قهر وه چې ولې يې د ورورد لاسه ريموټ واخستو او خالد یې دلاسه کوو. هغه ښه پوهیده چې خالد د داسی چلن سره راپاره کیدو اوچپه به وربانديې راغله. بابي نورکله د برېښنا په بنديدو خفه شوه خو اوس يې شکرونه وويستل.

پلار يې شاه نذر ته د دروازې د بندولو وويل او دننه راغلو. طارق دده په ليدورا پاڅېدو او دواړه لوې کوټې ته ورغلل چې خالد پکی په ښکنځلو سرو. طارق د جيب نه موبايل ټېليفون راوويستو او خپل هغه ډاکټر ملګري ته يې ټېليفون وکړوچې د خالدعلاج يې کوو. څو شيبې په ورو غږ يې هغه ته ټول حال وويلو او د خالد حالت يې ورته بيان کړو. د ډاکټر په وېنا دی دننه لاړو او ټېليفون يې ورور ته ورکړو، "لالا ستا ملګرې صدر صېب درسره خبرې غواړي." خالد ريموټ وغورځوو، ټېليفون ته يې لاس کړو او په خبرو بوخت شو. ډاکټر به د خالد سره ټوکې کولې او دی به د هغه په خبرو دلاسه شو.

په پخلنځي کی د ګېسو يو څراغ بل و او بابي په ورو غږ طارق ته لګيا وه. هغه دارو چې په تېروڅو ورځو کی يې ښه نتيجه ورکړې وه، خالد نه وو خوړلې ځکه بابي د خپلو مېلمنو په پالنه دومره اخته شوه چې د ياده يې ووتل. طارق ترې د ګوليو ډبلی وغوښتو او يو ګيلاس کی يې اوبه واړولې. بيا په نرمه لهجه يې

وريندارۍ ته وويل، " په دارو کی ناغه نه ده پکار."
بابي د خپلوګيلو پنډ ورته پرانستو، د خدمت ګارۍ سستي، د مېلمنو پالنه او له نامعلومو کارونو نااوزګارتيا چې طارق ډيرځلې پخوا هم اوريدلي وو.
خالد چې ګولۍ وخوړه نو طارق هغه د خوب کوټې ته بوتلو. ګړۍ ته يې وکتل، لس بجې وې. دی ډېر وخت د برنډې په کرسۍ په تياره کی ناست واو کله چې پوهه شو چې وروربه يې اوده وي نوپه ټول کور کی وګرځيدو. ځای ځای د بريښنا بټن يې بندې کړې. د ټېليويژن تور سويچ يې له دېواله راوويستو اود برنډې په ديوال لګيدلي ميټرسپين بټن يې ببړته کښيکاږلو. هغه وخت د کور په څو ځايونو کی رڼا خپره شوه. پلار ورته غږ وکړو نو دی د ناستې کوټې ته ورغلو. د هغه په وېنا د پوليسو مشر ته يې ټېليفون وکړو چې د پلار يې پخوانی ملګرې و او ورسره په خبرو بوخت شو. طارق وليدل چې زيبا او مور يې په دی وخت کی کوټې ته رادننه شوې. دوی دواړه انديښمنې ښکاريدې خو طارق نه پوهيدو چې سوب يې د وسله والو کسانو راتګ و او که د خالدحالت.
پلار يې خبرې خلاصې کړې نو ټولوته يې وويل، "داسې ښکاري چې دې کسانو د چا کورغلط کړې و، اکرم واي چې دی هم اوس خپل سړي ورپسې ليږي." طارق د خپلې خندا پټولو لپاره په خله لاس تېر کړو، خو زيبا غلې پاتې نشوه، " مانا دا چې پوليس خبر دی چې دا

خلک څوک دي او د څه لپاره په ښار کې ګرځي اوکه وغواړي نود نيولو جوګه يې هم دي." د طارق پلار د صوفې نه راپاسيدو اوخپلې کوټې ته په تلوکې يې وويل، " زه به سبا پخپله د اکرم سره وينم چې ټول حال ترې واخلم. زما به موټر پکار وي." طارق ورته دروازه خلاصه کړه او دې ترې ووتلو.

د ښوونځي څوکيدار شينو کاکا، د نورين لوري ته ګړندې روان و. دا هم هغه وخت د دفتر نه وتلې وه او وې ليدل چې د هغه په لاس کې يو کاغذ و او د نورين زړه دومره په زوره ودرزيدوچې په لاس کې نيولې کاپيانو يې لاس کلک کړو. خاله د شينو نه کاغذ واخستواو ډېر په ادب يې نورين ته وسپارلو. د نورين پښې سستې شوې، داسې لکه چې د يو يو من کانې يې چا له پښو سره تړلې وي. هغې په زړه کې ټولې کليمې تېرې کړې. دغسې پاڼې د شا و خوا سکولونو کې اچول شوې وې، د مرګ، د بم، د تباهۍ پيغامونه به پکې ليکلي و. په ريږديدلو لاسونو يې قت شوی کاغذ پرانستو او په هغې ليکلي متن ته ځير شوه.

کوز ماسپښين څو شاګردانې د ټيوشن لپاره راغلې او په هره کوټه کې ددوی د خبرو غږ د ودانۍ سکوت مات کړو. هلته اوسيدونکو ټولو استادانو د لسم شاګردانو سره د امتحان لپاره تياري کوله. کله کله واړه ماشومان چې په سبق کې ښه نه و، راتلل. د نورين په سر کې درد و خو د سبق په ورښودلو کې يې سستي نشوه کولې.

www.safiahaleem.com

د جینکو مېندو به په دوی ډېر باورکوو. شاګردانې لاړې نو هرې خوا ته بیا خاموشي شوه. نن د ډوډۍ پخولو وارهم د نورین و. د پیاز پرېکولو سره له سترګو یې اوښکې روانې وې، زر زر یې پریکړې پیاز په غوړو کی سره کړل، مساله او د آلوګانو ټوټې یې یو ځاې پکې واچولې اود دیګچې په خله یې برغولې کېښودو. دوه ورځې وړاندې هغه ځومره خوشاله وه. پېښورنه د طارق سره په موټر کی تګ د هغې د ژوند د کتاب یو ښکلې پاڼه وه. ځومره ټوکې یې ورسره کړې وې او د سړک پرغاړه د چایوخوند بل شان و. د طارق خبرو تر اوسه د هغې په غوږکی انګازې کولې،" دا ځومره ظلم دې چې تا سره یوه ورځ په یوه شیبه کې تیره شي. دا وخت ولې دومره لنډ شي؟ طارق چې دا پېښور ته ورسوله نو پخپله ترې بېرته راغلې و. نورین د یوې اوونۍ لپاره یاسمین سره د هاسټل (لېلیه) په کوټه کی وه. هغې د سوشیالوجي (ټولن پوهنې) د ایم اې د لومړي کال امتحان ورکوو. یاسمین ورته ډاډ ورکړې و چې د ایم- اې نه وروسته به په کالج کی لېکچرر شي. د امتحان په وروستي ورځ طارق بیا ورپسې پېښور ته لاړو او دا یې مینګورې ته راوستله. د هغه سفر ننداره یې لکه د فلم لیدله. د کور د پوښیو دروازه وټکیده نو هغه پوه شوه چې شینو کاکا به د نانواي نه ډوډۍ ورته راوړي وي. یوې جینۍ له دروازې ډوډۍ او ماتې پېسې د شینو کاکا له لاس نه واخستې. د ماښام د لمانځه

نه وروسته نورين شنه مرچ او دنيا د تيزې په هاوڼ کی وټکول او چټني يې جوړه کړه. بيا يې ټولو ته ناره کړه، "راځئ جينکو، ډوډۍ تياره ده."
نن شپه دا د چايو د مګ سره په قالين ناسته وه او د وروستي کال کتابونو ته يې کتل. خو ددې پام به بيا بيا هم هغه کاغذ ته لاړو چې ماسپښين ورله شينو کاکا راوړې و. هغې کاغذ را واخستو، څو وارې لوستل شوې جملې يې بيا ولوستې او دا يې بېرته په ميز کيښودو خو د دماغو نه يې پوښتنې لرې نشوې. " ملک صېب به څه وايي؟ تره ته به څه وايي؟ مور خو به يې سمدلاسه واده کړي. او طارق...
دوه ورځې وروسته طارق د پلار مخې ته غلې ناست د باغونو د حاصلاتو حساب کتلو. کله کله به يې په وړوکي کېلکولېټرګوتې ووهلې او بيا به يې کاغذونو کې نښه ولګوله. سږ کال د منو حاصل ښه نه و خو پياز ښه ډېر شوي و. د طارق په غوږ کی د مور خبرو انګازې کولې چې نن سهار يې ورته د يوې کورنۍ صيفتونه کړي و او کله چې ده په سخته وويل چې واده به پخپله خوښه کوي، نو موريې په قهرشوه، " مونږ د سيالو سره خيښي غواړو، هغه جينۍ چې اوو پښتونه يې خانان نه وي، زمونږ انږورکيدې نشي. طارق خپل موبايل په جېب کی ايښودو نوګوتې يې د هغه ليک سره وجنګيدې چې اوړمه ورځ نورين ورته ورکړې و. د ليک څو کرښې د هغه په زړه زلزله راوستې وه.

اوړمه ورځ نورین د بابا سره بیا دده کلینک ته راغلې وه او لیک یې ورته په مېز ایښې و. د لیک په لوستلو هم طارق غلې ناست و. د نورین په سترګو کې پوښتنې وې او د ځواب لپاره یې ورته کتل. لیک د کاغذ وړه ټوټه وه او ملک صېب د زوي، شهاب له خوا لیکل شوې و. په انګریزي ژبه درې لیکې وې." ته زما ډېره خوښه شوې او غواړم چې درسره واده وکړم، د سوچ لپاره وخت لرې." څو شېبې هم دغسې تېرې شوې نو د نورین د صبر کاسه نسکوره شوه او په زوره یې وویل، "ولې دې ژبه بنده شوه، څه خو ووایه کنه." طارق یوه ناخواله خندا وکړه، "زه به څه ووایم، مبارک دې شه،" نورین ټکنۍ شوه، "څه دې وویل، ته شرمیږې نه؟" د نورین په سترګو کې هغه شوخي نه وه چې طارق به ورته لیونی شو. د هغې رنګ زېړ او بیا بیا یې په وچو شونډو ژبه راښکله. د زړه درد یې سترګو ته کډه وکړه او په مخ یې مرې اوښکې روانې وې. طارق خپل موبایل ټیلیفون راوویستو. " شابه شابه وژاړه چې فوټو دې واخلم، ماشومان به پرې ویروم." نورین هم هغسې ژړل. "څه آسمان راپرېوتې دې؟" طارق په قهر وویل. "که ته ژاړې نو زه بهر ووځم، دا کلینک دی، خاله که ولیدل نو واي به، ما څه غلط کار کړې دې." نورین ددې خبرې په اوریدو زر اوښکې پاکې کړې، "ښه نو زه اوس څه وکړم؟" طارق راپاڅیدو،" ته هیڅ مه کوه، شهاب زه پیژنم، هغه لکه چې د انګرېزي ښځې نه بېل

شوې دې اوس غواړي چې د وطن د ښځې ژوند برباد کړي. خوکه بیا یې څه وویل، زما د ټېلیفون نمبر ورله ورکړه." د نورین په شونډو یوه موسکا خپره شوه نو د طارق په سترګو کې اطمینان ښکاره شو. "ستا په مخ باران هم دی او نمر هم راختلې دې، داسې موسم کی خلک وای چې د ګیدړ واده دی." په دی خبره نورین په زوره وخندل او طارق هم موسکې شو.

د طارق په کور کی د نورین سره د ماشومتوب راهیسې ښه چلن کیدواو د ډوډۍ په وخت هغه به د طارق او زیبا سره کښیناسته. دی به پخپلې وړی ژبې دومره خوږې او هوښیارې خبری کولې چې ټولو تری خوند اخستو. د ښوونځې د سبق په وخت دا د طارق د وروڼو خویندو سره په لوبوکې شریکه وه. او د پلار له مړینې وروسته هم ددې کور د غم او خوشالۍ په موقع ورتله. د طارق د مور دا خفګان و چې د باغبان لور ته دومره سبق نه و پکار. اوس کله راهیسې چې هغې د ملک په ښوونځې کی کار پیل کړې و د طارق پلارهم پرې خوشاله نه و. د ملک نصیرالدین سره د زمکو په سر دده یوه لانجه شوی وه. زیبا په دې خفه وه چې نورین اوس ورسره سمې خبرې نه کولې. پاتې شوه امینه نو هغې د عمران سره له واده وروسته زیات وخت په سفرونو کی تیراو. یوه بابې وه چې د نورین سره یې هم هاغسې پخوانې چلن کوو.

طارق د پلار په خبره له خپلو خيالونو را بهر شو چې د کاغذونو گېډۍ يې په خپل تور بېگ کی بندوله. "مور دې واي چې کار خلاص کړې نو د هغې سره ووينه." دی پوهه شو چې د سهار خبره به اوس بيا ورسره کيږي. هغه له خپله ځايه راپاڅيدو خو د مورکوټې مخې ته په دهليز کی يې يو سيورې وليدو. بابي له څه وخته د خوابښې او د ايندرور خبرو ته غوږ ايښې و، طارق خبر نشو. دننه مور په صوفه ملاسته او ښکته په فرش ورته نورين په يو لوې بالښت ډډه لگولې وه. "مور يې څټ ورته واړو، " تا څه سوچ وکړو؟ زه خو وايم دا خلک زمونږ د سيالۍ دي، که غواړې نو يوه مېلمستيا به وکړو او ته به يې پخپله وگورې." طارق د صوفې بل گوټ کې د مور پښو ته کېناستو او وې ويل، "ستاسو لپاره زما په واده کی تر ټولو زيات اهميت د څه شي دی؟ زما خوشالي که خپله سيالي؟" زيبا وخاندل، " دواړه" مور يې وويل، " گوره زويه، زمونږ عمر اوس ډېر وتلې او لږ پاته دې، دنيا مو ليدلې ده او پوهيږو چې ستا لپاره به څه ښه وي اوڅه نه، تر اوسه چې کومه جامه پېزار مونږ درته خوښ کړي دي، په هغې کی څه نقص و؟...تر ټولو بهترين ځيز مو په بازار کی درته خوښ کړې او اخشتې مو دې." طارق په ورو غږ وويل، " هم دغه خو غضب دی کنه چې تاسوجامه پېزار او انسان ټولوته د خريدار په سترگه گورئ." زيبا په شوخه لهجه وويل، "دا د کومې ډرامې مکالمه ده ؟" مورهغې ته

سترګي راوویستلې، "ته غلې کېږه." بیا یې طارق ته په نرمه وویل، "ښه که زمونږ په خوښه نه کوې، نو راته ووایه چې که څوک دې خوښ وي نو هغه درته وغواړو." طارق لږ په جرات وویل، " لوظ وکړئ چې راته به یې غواړئ." زیبا نه صبر ونشو، "ښه نو څوک ده چې ته یې غواړې؟" طارق د صوفې یوه ګدۍ په غېږ کی ونیوله او زیبا ته یې وویل، " ستا څه خیال دې چې دا به څوک وي؟ زیبا اوږې پورته کړې او شونډې یې بوڅې ونیولې. مور یې وویل، " ګوره زویه هر څوک چې ده، که زمونږ په سیالۍ پورا وه نو درته به یې وغواړو." طارق شیبه غلی و، بیا یې وویل، "زما په سیالۍ خو برابره ده خو ستاسو سیالان بل شان خلک دي." زیبا وویل، "بس اوس نور د چیستان پروګرام پرېږده، زاره مو چوي." طارق وروغږ کی وویل، " هغه د نواب لور نه ده خو د یوې شریفې کورنۍ عزت منه جینۍ ده. نوم یې دې نورین، تاسو به یې ومنئ؟" مور یې په صوفه کی نیمه ملاسته وه، ددې خبرې په اوویدو نېغه کېناسته.

شپږم څپرکې

موټر د مینګورې نه په لاره د بحرېن له بازاره تیریدو نو د رابیا تروربښکته سیند ته پام شو چې په پورا شور بهیدو. خو د دې سپین څګ جوړونکي اوبه د عام حالت

نه ډېرې معلومیدې. هغې د موټر شیشه ایله پرانستې وه چې د شاتو یوه مچۍ را دننه شوه. سوما چیغې کړی، "هله موچی (مچۍ) ده...موچۍ مې خوري..موچۍ ده...موچۍ...عمران د موټر بله شیشه لږه ښکته کړه نو مچۍ ترې ووتله. لور ته یې وویل "ولې ترې دومره ویریدې؟ دا مچۍ شات جوړوي، تا ته مې په کتاب کې ښودلې وکنه..." سوما لږ سوچ وکړو بیا له خپل سیټ ودریده ، په مخکیني سیټ کې ناست د پلار په اوږه یې لاس کیښودو. "هغه چې ما ورله زیړرنګ ورکړې و؟" رابیا ترور ورته لاس اوږد کړو، " ګوره سوما بچې موټر کې مه ودریږه، سر به دې وجنګیږي." خو دا هم هغسې ولاړه خپله خبره یې جاري وساتله. "هغه چې سترګې یې په سرکې وي؟" رابیا ورته وویل، "او هم هاغه مچۍ خواږه شات جوړوي چې ته سهار د ډوډۍ سره خورې." سوما سر وخوځوو، " مونږ خو د ببو په کورکې هره ورځ شات نه خوړل." رابیې هغه د سکول د نیلا کمیس د پاڅه ټڼلې سپینې فیتې نه ونیوله او په سیټ یې کینوله. " ببو درته سهار په ناشته کې څه درکول؟ د سوما سترګې وځلیدې، "مونږ به جوس هم څکلو، برګر، آیس کریم...او..او.. مونږ هلته په ټرام کې به تلو، د ببو کور په تریني کې و...او...او مونږ به هره ورځ پارک ته تلو او...او په لوې جهیل کې سپینې بطې وې. دومره ډېرې." سوما خپل دواړه لاسونه خلاص کړل او نږدې وه چې په روان موټرکې راغوځار شوې

وې خو رابيې د لاس نه ونيوله او په آرام يې سيټ کې کينوله. موټر اوس د پوخ سړک نه کچه لارې ته تاو شوی و. رابيا لرې په سيند کی هغه لوې تيږې ته ځير شوه چې د اوبو لاره يې ډب کړی وه. هغه لاره چې دې په ماشومتوب کی ورباندې خلک په تګ راتګ ليدلي و اوس ورکه وه. د شنو پټو په ځاې کې وابنه راټوکيدلي و. هغې عمران ته وويل، "سوات په ورانيدو دې، ته وګوره د سيند نه اخوا ټولې ونې وهل شوي دي."
عمران هيڅ و نه ويل خو سوما بيا ودريده، "ببو راته ويل چې د سوات زوړ نوم سواستو و، کنه پاپا، راته يې ويلي و کنه... او خرم وايې چې "تواتو" سوما پخپلې خبرې پخپله په زوره وخندل نو رابيا له هم خندا ورغله.
عمران وويل، "ما چې د سوات کوم نوم درته ښودلې و، هغه څه و؟" سوما سترګې اخوا ديخوا واړولې، " سواستو؟ نه ريشتيا دا خو راته ببو ويلي و." عمران نيم ټکې ورته وښودلو، " اود...اود..." د سوما سترګې وځليدې او په چغه يې وويل، " ما ته پته ده...اوديانه ...اوديانه...دا خو راته ببو هم ويلي وو."
تيره مياشت چناروکلا ته د سروی ټيم ورغلې او نن عمران ته د هغوي رپورټ را رسيدلې و. د چينارو سيمه اوس په خطرکې وه. څو ورځې وړاندې چې کومه کرکنډه غورځيدلې وه، هغی د غره ډېره برخه رژولې او اوس واړه واړه تيږې په اوبو کی غورځېږي. په اوبو کې څو لارې شوې وې او يوې ويالې د کلا دېوالونو ته سر

ایستلې و چې په دې ټول اندیښمن وو. د ماځیګر آزان لا نه و شوې چې موټر د کلا په دروازه وردننه شو. رابیا د خپلو پټیو لورې ته روانه شوه چې هلته انۍ په مرغانچه کې چرګانو ته دانه غورځوله. خرم د برنډې نه رامنډه کړه. پلار ورته د موټر دروازه پرانسته نو ده سیټ ته ور ودانګل او د نور کله په شان یې د موټر سټیرنګ په تاوولو د غوم غوم آوازونه یې راوویستل. عمران ډېر وخت ورسره په سیټ ناست ښکته د سیند اوبو ته یې وکتل.
افروزې سوما ته مخ لاسونه ووینځل. "شابه زر کوه سوما ګلې." او ددې وینا سره یې د الماری نه د هغې پاکې جامې را وویستلې. امینې خرم له موټررا ښکته کړو نو سوما یې ولیده چې دی ته یې منډې وهلې. هغی د ماشومانو خبری آوریدی چې د یو بل شکایتونه یې ورته کول، بیا دواړه یې له لاسه ونیول او د رابیا ترور لورې ته ورغله. انۍ او رابیا د مرغانچې سره ایښې په هغو لوېو تیږو ناستې وې چې د کور د جوړیدو په وخت هم هیچا له ځایه نه وې خوځولې. رابیا د جمشید د کورحال بیانولو. دا چې د هغه میرمنې شهناز اوس حجاب اغوستل شروع کړي وو، د کشرې لور ساجدې ساه لنډی اوس ښه و خو کشر زوې عمر ټوله ورځ په کورکی کمپیوټر ته ناست وي او د سبق نه یې زړه تور شوی دی. د امینې په لیدو رابیا موضوع بدله کړه او د کلا او د سروې خبرې یې پیل کړې.

عمران د ترکارۍ پټي سره ولاړ دنګو چينارونو ته
ځيرو. دلته د هغه ماشومتوب تير شوی و او په دی
برخه کې هغه وخت يواځې ځنګلي ګلونه کېدل. کله کله
به يې د بوټو نه سرې بيرې راټولولې چې خوړ والې يې
تر اوسه له ده هير نه و. دده نيکه به ورته د بوټو
نومونه ورښودل چې د هغه له ياده وتلي وو. يو ډول
واړه سور بخن توتان چې سخت تراوه و، سيملونومېدل
او مور نه به يې په پټه خوړل. موماڼې به توری وی او
دده ژبه به يې توره کړه...کرکڼې، ګيلاس او سابه به
څومره ډير و. په سپرلي کې به ورته ښځې راتلې، ټولو
به د سابو پنډونه تړلي و...څه ښه نومونه به يې
و...پيشترې، شلخی، پنېرک، بوشکه، جميا...او د ونو
رنګا رنګ پاڼې. پخوا به دی د مينګورې نه څو
کلوميټر بره غرونو ته وروختلو نو د زالغوزو، صبر،
نختر، بادام، اچر، شوي او د صنوبر خوشبوي به په هوا
کی خپره وه. هغه د تورو املوکو ونې چې په پنجاب کې
ډيرو خلکو يې نوم نه و اوريدلې اوس يې نه موندل.
عمران د خپل پلار د مرګ نه يوکال وروسته جرمني ته
د سبق لپاره لاړو. ده هغه وخت هم د برګ غاټول،
خړوچکو د سپين رنګ او د ربډي د سرو ګلونو په
کميدو پلټنې کولې. د لښتو په غاړه راټوکيدونکي تور
خربړي چې دوی به ورته "ګوجۍ" ويل، په بهر ملکونو
کی کله کله د سرو زرو په بيه خرڅيدل. د سوات هغه
وړې خرماڼۍ (ذردآلو) چې د "اشاړي" په نوم يې پيژندل

اوس په بازار کی چا نه موندل. د نیکه پخوانۍ کلا اوس ورته داسې ښکارېده لکه چې یو مرض پرې لګیدلې وي.

عمران د زمکې نه د خاورو یوه لوټه راواخسته او په لاس کی یې ورژوله، دا یې بوي کړه اوبیا یې لاس وڅنډلو. هغه به د سړک نه ددې کلا برجونه نشول کتلې ځکه چارچاپېره ورته دومره ونې وې چې ټول دېوالونه به پکې پټ و. ښاي یو وخت به دا له زمکې لوړه وه خو اوس د سیند اوبه ددې نه څو میټر ښکته بهیدې. په دی پخوانۍ کلا کې څوکوټې به تل قلف وې او په کې دعمران د مشرانو ورونو زاړه شیان ایښي و. جمشید اوس په مینګوره کی کورجوړکړې و اوعاطف په امریکا کی اوسیدو.
د جمشید مېرمنې شهناز به کله کله د خپلو اولادونو سره په دې کلا کی له دې وېرې شپې کولې چې د ملکیت حق له لاځه ورنکړي. د عمران د تګ نه وروسته رابیا چې ناواده په کور کی زړه شوې وه، د خپل یواځیتوب علاج په دې کوو چې د رنګا رنګ ترکاریو بوزغلې او تخم یې راغوښتل او بوټي به یې شنه کول. په پیل کی دوی د برنډې سره جوخت چمن یوې ډډې ته پودینه، ټماټر، پیاز او توری وکرلې او دی ترکارۍ ورله داسې خوند ورکړو چې د نورې زمکې لپاره یې بابا راوغوښتو. هغه ورته له خپلې تجربې څو وارې وویل چې د کلا وروستۍ څنډه دې ځنګلي بوټواو مارغانو ته

پرېږدي. خو شهناز يو ښاري باغبان راوبللو چې خاوره يې واړوله او د کيمياوي سرې په زور يې پکې نوره ترکاري او گلونه وکرل.
يو کال وروسته چې عمران بيرته راغلو نو د کلاحالت بدل او هغه څنډه لکه د ډېرانو ورته ښکاره شوه. ددې پټيو په جوړويدو هغه ډېرخفه شو. پخوا به دې ونوکي په دې محال د مرغيو داسې شور و چې که چا خبرې کولې نو بل کس به نه اوريدې. اوس ونې لږې وې، يو څه جمشيد د خپل نوي کور د جوړولو لپاره پرېښکړې، نورې هر کال په يوه او بله بانه ووهل شول. "اوس د مارغانو راتلل کم شوي دي." هغه يوه ورځ مورته وويل نو هغې وخندل، "دا هرسهارد کرم خان زوې زما له پټي په سوونو مرغۍ شړي، دا د کوم ځاي نه راځي؟" عمران به وويل. دا خو هغه مرغۍ نه دي. هغه شنه طوطيان، هغه وړې توتکۍ، هغه لاټوان، هغه توريانۍ، هغه چټي...پخوا په اوړي کې دلته د شاتو مچۍ هم بنگېدې خو اوس خاموشي وي." عمران به ټکنې شو. "ښه بس دې بس، دا تعليم په مونږ مه خرڅوه." مور به ورته په قهر شوه نو دې به غلې شو.
"دادا وگوره، ما ته شاله (شهلا) گل راکړې دې." سوما په لاس کې د کاغذ جوړگل پلار ته ور وړاندې کړو. د عمران د خيالونولړۍ ماته شوه او سوما ته يې وکتل. هغې کاغذي گل پوزې ته ونيولو او سپيږمې يې راښکلې. "مم ..څومره ښه خوشبوي دی." عمران

www.safiahaleem.com

موسکی شو. "کاغذ کې خوشبوي نه وي لورې، هاغه اصلي گل بوي ورکوي." عمران د لاس په اشاره ورته د رامبېل گلونه ور ښکاره کړل چې تر اوسه سړو بادونو نه وو مړاوي کړي. سوما د مور په غېږ منډې کړې اوعمران د پټي په څنډه په يوه لويه تيږه وختلو. د کلا دا برخه د غونډۍ سره نښتې وه. هغه بره زمکې ته وکتل نو د ناجوگانو د ونولوې جرړې له زمکې راوتلې وې. د ازغن تار نه وراخوا ورته يو څه ښکاره شول. دی د لويو تيږو د پاڅه نور بره وختلواو د ونو په سيوري کې يې وليدل چې يو ځوان هلک د غټې ونې يوه تنه په اوږه بار کړې، روان و. ده يوه تيږه راواخسته او غوښتل يې چې په ځوان يې وولي، خو بيا يې ښکته وغورځوله. ده ته د پلار خبره ور په زړه شوه چې زمکه د خداې ده. په دې د هر چا حق دې خو مونږ ددی ساتونکي يو. عمران په يوه لويه تيږه کېناستو او له ځان سره يې سوچ کوو، "مونږ ددې زمکې په ساتنه کی پاتې راغلو." د غره په بره ځنگلونو کې پخوا "پيشو پړانگ" موندل کيده او دده نيکه يو پکی ښکار کړی وچې تر ډيرې مودې يې څرمنه ددوي د ميلمنو د کوټې په ديوال ځړيده. بيا د پلار يو ملگري په خواست دا د بهرملک يو ميلمه ته ډالۍ شوه. د پړانگ د څرمنې سره عمران ته را ياد شول چې هغه به له دې ځنگلونو د مارغانو وزرې هم راټولولې او څومره په احتياط به يې د سکول د کاپيانو په منځ پاڼو کې ايښودلی. بيا د ژمي چې کله ددوي ښوونځی

به بند شو نو ده به ددې وزرونو نه وړې مرغۍ جوړولې.
د خرم په ژړا دی له لوړې راښکته شو. هلته وروراو خور جنګ کړي و او خرم غوښتل چي پلار يې سوما ته سزا ورکړي. عمران زوی په غيږ کې ونيولو، اوښکي يې ورله پاکې کړي او د کور په لوري روان شو. خرم ورته په خپله ژبه د سوما د ورانۍ کيسه کوله، دا چي هغې ورله ګل نه ورکوو او دا چي هغه اوس ګل نه غواړي او بيکټ( بسکټ) خوري. د عمران په ليدو مور ورته غږ وکړو، "راشه زويه، چاې وڅښه، تا څوک وليدل نن؟" عمران ورته وويل، "او سبا به دلته څو کسان د کار لپاره راځي، مونږ به مينګوری ته ځو. زه د کلي خلک خبروم. تاسو تياري وکړئ، بس ضروري شيان واخلئ."
د ماځيګر د آزان سره عمران ښکته د کلي وړوکي جومات ته روان شو. اميني ته احساس وشو چي د چايو پټنوس له ډيره وخته افروزې ددوي مخي ته ايښې و خو هيچا ترې پياله نه وه ډکه کړې. هغې سوما ته وکتل، "وروردې څه شو؟" سوما په دي وخت کې د خپلو ګوډيانو لپاره چاې جوړولې او ځان سره په خبرو بوخته وه. " تا ته وېم سوما..." هغې مور ته وکتل او اوږې يې پورته وغورځولې. "ما ته پته نشته." اميني د خرم غږ نه اوريدو او د کور په چپتياهغه پوه شوه چي دی به چرته په ورانۍ اخته وي. په تيزو قدمونو يې برنډې ته

خلاصیدونکې د کوټې ور پرانستو نو وې لیدل چې خرم د بسکټو په خوړلو خوړلو هم هلته د شیشې په مېز سر ایښې اوده و.
عمران چې جومات ته ورسیدو نو ملا عظیم جمع پېل کړې وه. هغه زر نیت وتړلو او په صف کې ودریدو. نن ده له ډیرو ورځو وروسته په دې جومات کې لمونځ کوو او د نورکله نه زیات کسان یې ولیدل چې لمانځه ته راغلي و. له دعا وروسته ملا عظیم ځوکسانو ته د سترې مشي نه وروسته دعمران نوم یاد کړو چې له سفره را گرځیدلې و. هغه کسانو ده ته مخ واړو نوعمران ورسره روغبړ وکړو. ده ته ځیني ځوانان پکې تعلیم یافته ښکاریدل چې د بره سوات نه راغلي وو او د هغو کلیوحال یې وویلو. دا چې په بشام او کوهستان کې د جینکو سکولونه بند و او د هلکانو سکول ته به په زړه ورځ وسله وال ورننوتل او د خوراک هر څه چې به چا سره وو دوی به ترې را ټول کړل. پولیس او ملیشیا هم ورته څه نه ویل.
عمران د دوی نه د ژوند د ضرورتونو پوښتنه وکړه او بیا یې ملاعظیم ته وویل."ټولې څو کورنۍ دلته راکډه شوي دي؟" ملا یو ځوان ته وکتل، نو هغه وویل، "یره اوس خو زمونږ د یو ټبر دیرش کسان دي. که دا نور ټول چې په ټبره میاشت کې راغلي دي ، ورسره یو ځای کړو نو سل، یو نیم سل کورونه به وي. عمران ترى پوښتنه وکړه، "تاسو په مینگوره کې پولیسو ته خبر

ورکړې دې یا د کمشنر دفتر ته ورغلي یئ؟" دوی یو بل ته وکتل او په انکار یې سرونه وخوځول. عمران غاړه تازه کړه او د غره د حالت او د سیند د اوبو په اړه یې خبر ورکړو. د ټولوپه سترګوکې اندیښنه وه او د ماسخوتن تر لمانځه ددوی خبرې روانې وې.
امینې هغه ټول سامان چې ځو ورځې وړاندې یې په الماریو کی ایښي و اوس بیا په بکسونو کی بنداو.
سوماد بستې نه کتابونه راویستي اود حساب سوالونه یې کول. په دی وخت کي د کور ټېلیفون وغړیدو او امینې چي واخستو نو د زیباغږ یې واوریدو. هغی اخوا دیخوا وکتل او خورته یې وویل، "ته ماته لږوخت راکړه چې دا جینۍ پلار ته وسپارم." ټېلیفون یې بند کړواو دعمران په لټه شوه چې هم هغه شېبه د جومات نه راغلو. دې د سوما سره په قالین کښېناستو چې ورته د حساب سوالونه وښاي. سوما د ضرب او د جمع نښې ګډې کړې وې او اوس ترې هېر وو چې دواړو سره څه کول و. عمران کتابونه یوې خوا ته کړل او ځو قلمونه یې ورته مخې ته کېښودل. سوما ته یې د شمېر وویل.
د امینې او زیبا خبرې تر ډېره وخته روانې وې او افروزی چې د پخلنځي نه وربانډې غږ وکړو نو د خور سره یې خداې په اماني وکړه. شېبه وروسته ټول په دسترخوان ناست وو، سوما او خرم بیا ناندرۍ وهلې او رابیا او انۍ ددوی په خبرو خندل. د ډوډۍ نه وروسته عمران د یو غټ بالښت سره ډډه ووهله او نږدې وه چې

www.safiahatech.com

مور يې د کلا په اړه خبره پېل کړې واې چې دې ترې وړاندې شو. "د سوات حالات ښه نه دي. داسې اوازه ده چې پوځ به راشي." ټول غلي شول. امينې وويل، "دا خو به ډېر ښه کار وي. اوس خو څوک بازارته نشي تلې، هغه بله ورځ زما ملګرې نصرت کم بختته سودا ته روانه وه خو يو ملا پرى داسى چغه ووهله چې د ويرې نه کور ته راواپس شوه، ويل يې چې ښځه يواځې له کوره نشي راوتلې او محرم سره وګرځه." رابيا تندى ګونځې کړو، " څومره بى شرمي چې اوس زمونږ په ملک کى راغلي ده، د هغې علاج هم دا دى. تر څو چې سختي وونشي، خلک نه سمېږي." د امينې مخ سور شو او په ګيله من غږ يې وويل، "نصرت کونډه ده، خپلو يتيمانو ته يې د بازار نه ډوډۍ راوړه، چرته سېل له نه وه روانه." هغې د ملاتړ لپاره عمران ته وکتل. خو هغه د خرم سره اختته و. انۍ دواړه پښې يوې ډډې ته وغزولى او رابيا ته يې وويل، دا کوم خلک چې د نورو د سمولو لپاره راوتلي دي، دوى به پخپله څومره ګناهګار وي، څوک ترې څه خبر دي؟ هر څوک به په خپل قبر کى د خپلو اعمالو حساب ورکوي، د بل چا نه." رابيا د څه ويلو لپاره خله جوړوله چې سوما پوښتنه وکړه، "انۍ ګوناګار څه وي؟ خرم د پلار له غېږې سراوچت کړو او خور ته يې وويل، "ګلاګال،ګلاګال "، ټولو وخندل نوخرم لا شوخ شو، "ته ګلاګال يې، پاپاهم ګلاګال دى، مور هم ګلاګال دى، انۍ ، انۍ، او ته خو

www.safhaleem.com

گلاګال نه يې." ټولو ببيا وخندل نو سوما په خرم ورټوپ
کړل او د دوی پرزونې پيل شوې. انی پوښتنه وکړه،
"پوځيان خو دلته شته کنه. اوس دا نور به څه د پاره
راځي؟" اميني خواب ورکړو، " ظاهره ده چې خلک په
ويره دي نو زمونږ پوځ خو هم داسې نشي کيناستې، څه
خو به کوي کنه." رابيا وويل، "جمشيد ويل چې د
زمردو په غونډی جنګ دې، هر څوک غواړي چې
وربانديې خيټه واچوي." عمران وويل، يواځې زمرد خو
نه دي کنه، دا زمکه د هر چا پکار ده، د پنجاب د
هوټليانواو سرمايه دارو چې پوره پوره غونډی يې په
لړو پيسو اخستي دي او غواړي چې بزنس وکړي.
سوات لکه د مالدار سړي د ښکلې کونډې په شان دې
چې هر څوک ورسره واده کول غواړي."
يوه اوونی وروسته دوی ټول د جمشيد د کور په لويه
کوټه کی غلي ناست وو. شهناز کله عمران او کله اميني
ته کتل، رابيا پخپلو سوچونو کې ډوبه وه او د انی مخې
ته چاې هم هغسې ايښي وې. د هغی داسې حالت د
خاوند په مړينې هم نه و شوې. افروزه د دروازې سره
ناسته وه او د چاې جوش نه کله کله تشو پيالو کی شنې
چاې واړولې. عمران غاړه تازه کړه، "مونږ به کلا
پرېږدو، اوس هلته خطره ده." انی ورته وکتل، "څومره
خطره؟" هغه د بالښت سره ډډه ولګوله، " بره غرونو
کی اوس ونې وهل شوي دي اوخاوره نرمه ده، دا خو
تاسوهم ليدلي او وينئ يې چې د باران د اوبو سره خاوره

www.safhaleem.com

او ځنګلي بوټي څومره ډېر اوس ښکته راروان وي. په کلا کی هم زړې ونې وهل شوي دي خو نوي نه دي لګول شوي." جمشيد په دې خبره ناارامه شو.
عمران خپله خبره جاري وساتله، " تيره مياشت چې مونږ دلته نه وو، د سروې د ټيم څو کسان هغلته د غره سر ته ختلي و. دوی نن ما ته وويل چې يو څو لوی تيږې معمولي زلزلې ته په انتظار دي چې را ولوېږي او زمونږ کور ددې تيږو په لاره کې دي." د امينې زړه درز وکړو. هغې ته اندازه نه وه چې کور يې دومره په خطرکې و. داسې يې انګيرله چې تيږې په سيند کی غورځيدې او سيند تر اوسه هم له دوی لرې و. د چيناروکلا زياته زمکه اوس هم له ونو بوټو ډکه وه خو د عمران په وروستۍ خبره ټول هېښ شول، "اوبو د کلا چاپيره زمکه خوړلې ده او يو لوې سېلاب که زمونږ کور لاهونه کړوخو ديوالونه به يې چپه کړي."
ده امينې ته وکتل نو د هغې رنګ ژيړ و. عمران په دروغو خندا وويل، "هر څه به سم شي، مونږ سبا لارۍ وړو چې پاتې سامان رابارکړو." جمشيد لاس وخوځوو او وروړ ته يې وويل، "زما دا دومره ژوند ووشو او په دې سيند کی مې په سخت اوړي کی هم چرته سېلاب نه دې ليدلې."
شهناز هم په جوش کی راغله، " دا د سروې ګانو خلک ټول رشوت خوري، د ځان نه رپورټونه ليکي او هر چا چې ورته ډېرې پېسې په لاس کيښودې، د هغه په ډول

www.safiahaleem.com

ګډېږي." امينې ته د يور خبره پيغور وه خو هغې ته يې
څه وونه وېل، انۍ صبر ونکړی شو او شهناز ته يې
وويل، "ته خبره يې چې څه واې؟" دا دې زما زوې ته
وېنا وکړه؟" د شهناز رنګ والوتواو زر يې جمشيد ته
وکتل چې ورته برند و. خو عمران وويل، "که تاسو کلا
پرېښودل نه غواړئ نو ستاسو خوښه، ما نن د عاطف
لالا سره خبرې کولې، راته يې وويل چې دې دومره زر
د امريکې نه نشي راتلې، ويل يې دده سامان پېښور ته د
سخر کور ته ورواستوو. د غزالې خور يو څو بکسونه
دي، هغه به مونږ ځان سره يوسو." بيا يې مور ته وويل،
"ما يوکور مخکې په مينګوره کی کتلې دې، د ګوزارې
لپاره به يو څو مياشتې پکې واړوو، وروسته به ګورو."
جمشيد وويل، "تاسو به هيچرته نه ځئ، دا کور ډېر لوې
دې او هر څه به پکې ځاې شي." دواړه وروڼه له کوټې
ووتل نوشهناز د خوابښې سره جوخته کېناسته اود خپلې
خبرې په سپيناوي اخته شوه. د انۍ د سترګونه اوښکې
رواني وې او رابيا ورباندې لاس راتاو کړې تسلي يې
ورکوله. شهناز نه پوهيده چې څه وکړي او کله چې
امينې ورته غږ وکړو، "راځه، اوس افروزه هم دلته ده،
کوټې به ورباندې اوزګارې کړو چې سبا بيا سترې ورځ
ده." نو ددې له زړه لوې بار لرې شواو امينه ورته
فرشته ښکاره شوه. په هغه شپه انۍ او رابيا ترناوخته د
کلا پخواني وختونه يادول.

په راتلونکو څو ورځو کې د چینارو کلا نه د سامان لړۍ یوې او بلې خوا ته رواني شوې او کله چې هر څه ترې وویستل شول نو عمران او جمشېد د ښځو سره کلا ته ولاړل. د کلي خلکو څو ورځې وړاندې کورونه پرېښي واو ځینو پکې د عمران له خوا کرایه شویو ګاډو کې نن سامانونه وړل. د غرمې ټول ماشومان د طارق سره په یوجیپ کې راغلل چې په وروستي ځل د نیکونو په کلا کې لوبې وکړي. کوز ماځیګر انۍ د خپلې کوټې په هغه ګوټ کې لمونځ وکړو چې ددې د واده پالنګ ترې وړل شوې و. د هغې له سترګو د اوښکو دارې نه ودرېدې.
رابیا ځان له ژړل او د پلار څېره ورته مخې مخې ته کیده. په هر دېوال کې یې د خپل ماشومتوب او ځوانۍ نښې لیدې. په دې کور کې هر څه وو او هغې د خپل ژوند وروستۍ شپې هم دلته تصور کړې وې، ان تر دې چې عمران ته یې یو ځل ویلي و چې د هغې مړی به له دې کوره ووځي، ځکه خو نه د ورینداري او نه وربرونو نه څه غوښتنه کړې وه. د کلا په بل سر کې شهناز په دې چرت وهلو چې د کور ټولې ونې که ووهل شي نو د هر چا په برخه به څومره پېسې وي. کله چې جمشید ته یې دا خبره یاده کړه نو هغه وویل، "زه به د ملک صېب نه پوښتنه وکړم هغه ټېکه دار پېژني."
طارق د کلا په هرځاې کې د سوما او د خرم تصویرونه د عمران او امینې سره واخستل. عمران د ځینو ځنګلي بوټو او ونو نومونه په زوره ویل او په خپل ویډیو کېمره

کی يې فلم جوړاو.  امينه د شهناز په لټه يوې خوا ته لاړه نو پام يې شو چې شهناز ونې شميرلې.  هغې ته يې وخندل، "زه خير دې که يوه ونه مونږ درنه زياته واخيسته."  شهناز نه شميره غلطه شوه، "ته چپ شه" بيا په گوتو يې د ونو حساب پيل کړو.  اميني سوچ کوو، د خپلې برخې په پيسو به په اسلام اباد کی ځان له ښه کور واخلو، د ماشومانو ژوند به ښه شي.
د چيناروکلا ته پيښ خطرد طارق په کورکی په هغو ټولو بدو خبرونو پرده غوړولې وه چې دوی به هره ورځ په ټي وي او اخبارونو کی کتل.  د مينگورې په گرين چوک کی د وژل شويو کسانو مړي، د شپې ډزې او په جوماتونوکی د جهاد خطبې دوی ته معمولي خبرونه و.  کله چې د امينې د کور سامان طارق کره راوړل شو نو بابي ته نوی موضوع پيدا شوه.  هغې به هرچا ته دا بيان کوو چې، "په کورکی ځاې نشته، خو بد وخت په هر چا راتلې شي." د طارق مور د انږورخبری اوريدې خو هيڅ يې ورته نشو ويلې. د کور په دويم پوړکی يوه لويه برنډه تشه وه او د امينې د واده درانه شيان هم هلته کېښودل شول.  يوڅو بکسونه يې د زيبا او نور د مور په کوټه کې ځاې کړل.
کلا تشه شوه نو ددې چاپيره په لويو تختو سرې نښې او اعلانونه ودرول شول چې هلته پاتې کيدل خطر لري.
عمران د چنارو غونډۍ سره نږدې د سيند اوبه په نښه کړې.  د جيولوجسټانو يوې ډلې بره په غونډۍ خپلې

خېمې ټک وهلې وې. په دوی کی د سویډن اوسیدونکې نکولاکلاز د عمران ملګری او دده په هلو ځلو ورله اجازه ورکړې شوې وه چې دا سیمه وڅاري خو د پوځ یوافسر به هره ورځ په دې کېمپ کی ناست و. هغه به د نکولا کمپیوټر او نورو وسایلو ته ځیر واو کله کله به یې لکه د ماشومانو ترې پوښتنې کولې.
یوه ورځ عمران له کارونو وروسته ماځیګرکور ته راتلو نو مخې ته یې د اشرف جیپ ودریدو. دی ترې راښکته شو اوعمران سره په موټر کی کیناستو. جیپ هم ورپسې و او عمران د موټر رفتار ورو ساتلې و. اشرف په لاره د سوات د هوا او د شنو درو صیفتونه کول. بیا یې عمران ته وویل، " داسې امکان شته چې مونږ د نکولا کمپیوټر د دوو ګېنټو لپاره درنه قرض کړو؟" عمران حېرانه شو، " ولې تاسو پرې څه کوئ؟" اشرف موسکی شو، " بس لږ انټرنیټ مې پکی کتلو." عمران په زوره وخندل، "انټرنیټ خو په هر کمپیوټر لیدی شې خو ته په انټرنیټ کی څه ګورې؟" اشرف غلې و او عمران وویل، "وایه کنه، څه دې پکار دي، زما کمپیوټر واخله، په هغې کې هم انټرنټ شته." اشرف ورته وویل، " صفا خبره درته وکړم؟ د بهر ملکونو هرڅوک چې دلته دي، زمونږ پری نظر دی، ته خو پوهیږې چې زمونږ ملک ته ټیررسټان (اورپکي) راغلي دي." عمران لږ په قهر شو، آ بله ورځ مونږ بوټو پسې تلي و هلته دری کسان د ټوپکو سره ګرځیدل، یو پکی د

بهر ملک و، ستاسو په دوربین کی دا خلک نه ښکاري؟"
اشرف ورته په بې شرمۍ وخندل، " دا خلک د غرونو نه اوړي او لکه د مارغانو کله یوی او کله بلې غاړی ته ځي،" عمران ورله طعنه ورکړه، "که د جیپ په ځاې په پښو وګرځې نو دا خیټه به دی دننه شي او دومره زوړ به نه ښکارې." اشرف بیا وخندل "نکولا د سویډن اوسیدونکې دې؟" عمران په زوره وویل، "آو، ستا څه خیال دی چې دده په کمپیوټر کی به داسې څه وي چې..." اشرف دده خبره پریکړه، " عمران ګله! ته ډېر ساده یې، په جنګ کی مونږ په هیچا باورنه کوو، حکومت ستاسو د ماحولیاتو په اداری هم باور نه کوي. ما ته دا ویل شوي دي او زه په بله لاره هم دا کمپیوټر رااخشتې شم خو ته مې ملګرې یې ځکه..." عمران ورته وویل، " ښه به داوي چې دا ملګرتیا مو پاتې شي، ته په بله لاره دا کار وکړه، زه درته نشم کولې او پام دې وي چې نکولا هم زما ملګرې دی." اشرف ورته د لاس اشاره وکړه نو عمران موټر ودراو. اشرف ښکته شو او خپل جیپ کی کیناستو نو عمران خپل موټر وځغلوو.
په هغه شپه عمران څو ټېلیفونونه وکړل چې یو پکی شهاب ته هم و. څو شیبې وروسته شهاب د سرینا هوټل نه د نکولا سامان رابارکړو، کور ته یې بوتلو اوپه بله ورځ سهار تر اسلام اباد ورسره لاړو. نکولا دوبۍ ته په رسیدوعمران ته ټېلیفون کی پیغام ورواستاو. په هغه ورځ عمران د پوځیانو په یو دفتر کی ناست د یو افسر د

پوښتنو ځوابونه ویل. دا چې د ماحولیاتو ډلې د چا په اجازه خپل کېمپ لیرې کړې و او نکولا ولې نابېره لاړو؟ عمران په سړه سینه دده پوښتنې ځوابولې. دا چې د جنګ د خطر له کبله هغه د سروې ټوله ډله لیرې کړې وه او نکولا پخپله خوښه تللې و. پوځي افسر ورته نېغ نېغ کتل او وې ویل، "عمران صېب ، ښه به دا وي چې مونږ سره تعاون وکړې." د عمران تندی تریو شو او غوښتل یې چې پوځي ته کلک ځواب ورکړي خو په دې وخت کی بهر یو لوې درز د دفتر دروازې وخوځولې.
عمران ته د تلواجازه ورکړې شوه نو دی د هغه دفتر نه راووتلو. په لوې دروازې د پوځیانو او د ایمبولنس ګاډي ولاړ و. ده د جیب نه موبایل ټېلیفون راوویستلو او د ډریور سره یې خبری وکړی. د راتلو په وخت دوی ته د دفتر نه ډېرلرې د ګاډي د ودریدو امر شوې و. عمران په پښو روان شو او سوچ یې کوو چې که هغه د دفتر ګېټ سره ولاړ وای نو اوس به یې د ډریور مړې پکی لټوو.
په موټر کی د کېناستو سره یې ټېلیفون کې د خپل ملګري سلامت سره خبرې وکړې." یاره ددې پوځیانو نه مې خلاص کړه." بل خوا ته سلامت وویل، ولې؟ څه شوي دي؟ پیکسي څه شو؟ " عمران وویل، " پیکسي پرون راسره و خو نن مې پیدا نکړو او د هغه ټیلیفون هم بند و، خو دی خلکو نن ډېر وخت راته ضایع کړو، په سړیتوب نه پوهېږي." سلامت دده نه د تفتیش کوونکي

نوم او د منصب پوښتنه وکړه او وې ویل، "ښه ...ښه...دا سړی زه پېژنم، تازه د آي اېس آي نه پوځ ته راغلی دی. غم يې مه کوه، زه دده مشر سره خبرې کووم."
د شپې له ډوډۍ وروسته امينې زيبا ته ټېليفون وکړو اوتر ډېره وخته دواړو خويندو يو بل ته د زړه حال ويلو، ان تردې چې خرم له خوبه راويښ او په ژړا شو.
امينې د ټيليفون بندولو نه وړاندې زيبا ته وويل، زه به پخپله د طارق سره خبرې وکړم، د هغه ماغزه خراب شوي دي." زيبا وويل، "اصل خرابي په جينۍ کی ده، که هغه يې پاره نه کړي نو دی هيڅ نه شي کولې." امينې وويل، " خبر يو څه نا څه گناه به زمونږ د ورور هم وي، پوه به يې کړو. بيا هم که وې نه منل نو سکول ته به ورشو خو پام کوه چې بابي درنه خبره نشي." عمران چې کور ته لاړو نوهلته يوه چپتيا خپره وه. اوس د ماښام اوو بجې وې اوهوا سړه شوې وه. په دې وخت به سوما او خرم په خندا گانو او لوبو ټول ټبر مشغول و.
هغه د موركوټې ته سر وردننه کړو نو وې ليدل چې انۍ د شهناز او رابيا سره په لمانځه ولاړه وه. د ناستې په کوټه کی د ټېليويژن غږ ورو و او جمشيد د اولادونو سره د فټبال لوبه کتله. خپلې کوټې ته په ورننوتلو پوهه شو چې د ماشومانو په سر امينې څه لانجه کړي وه.
خرم او سوما دواړه په کټ کی مور سره ملاست و او هغې ورته د يو کتاب نه کيسه لوستله. د خرم سترگې د

پلار په ليدو وځليدې او پلار غبږ ته يې توپ کړل. هغه ښکل کړو نو په خپله وړه ژبه يې د ورځې حال تېر کړو. سوما پکې خپلې خبرې ورزياتولې. ماشومان چې اوده شول نو امينې غوښتل د عمران سره خبرې وکړي خو هغه پخپل کمپيوټر کار پېل کړې و او دې ته وويل، دا رپورټ هم نن پورا کول دي، ما سره خبرې مه کوه." څو ورځې وروسته د ماحولياتو ډلې خپل رپورټ کی د پام وړ جملې وليکلی. دا چې د چينارو او ددې شاو خوا سيمه به څو مياشتو کی د سيند په اوبو لاهو شي. دا يې په گوته کړې وه چې که سخت بارانونه وشول نو ممکن د سوات سيند اوبه نورې هم ډېرې شي او د سخت سېلاب خطر شته دې. خو سېلاب به کله راځي، ددی وخت يې نه و ښودلې. د سيند د پاڅه جوړو پلونو په اړه په باور يې ليکلي و چې دا د سيلابي اوبو زور نشي زغملې. عمران دا رپورټ حکومت ته وسپارلو او څو ورځې وروسته ورته د وزارت له خوا خبرداري ورکړې شو چې دا رپورټ به ميډيا ته نه ورکوي او يواځې د حکومت لوړو کسانو د مطالعې لپاره دی.

## اووم څپرکې

ماځيگر د جمشېد په کورکی ماشومانو شور ماشورجوړ کړې و او شهناز په قهر وه. امينه د هر څه نه بې غمه، بره په چت خپل موبايل کی خبرې کولې. د کورکارونه

www.safiahaleem.com

ترې پاتې وو خو د هغې خبرې نه ختميدې. شهناز ورته څو وارې په خبرو کې ياده کړی وه چې کارونه خلاصوه او بيا ټېليفون ته کېنه. اوس څومره چې ورځې تيريدې، هغې به يور ته څه نا څه خبره بانه کړه او ددوی نانډری به پېل شوې. امينه د بره ګېلرۍ په ټيټ دېوال ناسته، زيبا سره لګيا وه. پوښتنه يې وکړه، "طارق په کور کې دی؟" هغې په ګيله من غږ وويل، " نه...هغه اوس ځان رانه ورک کړي، ما ورته ټېليفون هم وکړو، خو ده وويل مريضان ډېردي...ما ته خو داسې ښکاري چې دوی اوس بهر د يو بل سره ملاقات کوي." امينې ورته وويل، "ته پرې نظر ساته، ګوره طارق يو څه باغي دی، هغه د پېښور د جينۍ کيسه دې ياده ده؟ څه حال به و، څومره بدې ردې مو ورته وويلې خو دی نه منع کېدو، ښه شوه چې جينۍ ترې واده شوه" زيبا وخندل، "او دا خو اول ځل نه دې. زه خو کله کله سوچ کووم چې دی پخپل حال پرېږدو نو ښه به وي، زړه به يې ترې تورکړو." امينې خپل غږ ټيټ کړو، " ګوره، پخوا خبره نوره وه، هغه د واده خبره نه وه کړې. دا ځل چې ده مور ته خبره کړې ده نو داسې يې نشو پريښودې. بله دا چې جينۍ مو د کور ده او ډېره غريبه ده نو هغې پخپل موټې کې کلک نيولې دې. زه داسې جينکۍ ښه پېژنم، په خوږه ژبه يې خلک تيرووځي او طارق خو لکه د ګډورې غوندې دې، هرڅه چې جينۍ ورته واي، دی يې مني. زما په سلوکی سل يقين دی چې د واده

خبره هم هغې ورته کړې ده، ګني مونږ خپل ورور ښه پېژنو."

امينې څو وارې مورکره د طارق سره اوږدې خبرې وکړې خو هغه يې قانع نکړې شو. تراوسه د هغې په سخرګنۍ کې هيڅوک خبر نه وو، ان چې عمران ته يې هم غږ نه وکړی. نن د زيبا سره له خبرو وروسته هغې طارق ته فون وکړو. هغه ته يې وويل چې نورين ډيره تکړه او هوښياره وه خو واده د هلک او د جينۍ نه زيات د کورنيو ترمينځ د خپلوي نوم و. طارق وويل، "نورين زما خوښه ده." د امينې غږ ورته خوږ شو، "روکيه! هغه زمونږ د ټولوخوښه ده، په بازار کی هره ورځ په دکانونو کی په سوونو شيان به ستا خوښيږي. دا خو ضروري نه ده چي هر څه به کور ته وړې."

طارق وويل، "تا چي پخپله خوښه واده کړې دې." امينه ددی خبری لپاره له وړاندی نه تياره وه. " آو آو، خوپام دی وي چي دعمران او زمونږ د کورنۍ په مينځ کی دومره فرق نشته څومره چې ددې جينۍ او ستا په کورنۍ کی دې. ته پخپله سوچ وکړه، ستا واده په سرينا هوټل کی وي نو د کوهستان کلي وال به پکی څنګه ښکاري."

طارق په قهر شو، "زه نه کووم په سرينا کی واده." او ټيليفون يې بند کړو.

"د چا واده په سرينا کی دې؟" د شهناز په غږ د امينې زړه درز وکړو. هغه له څه وختنه ددی شا ته ولاړه او خبرې يې اوريدې، امينه خبره نشوه، خو په قهر يې

www.safianaleem.com

ورته ووېل، " څه دي چې راپسې دلته راغلې؟" شهناز د هغې په لهجه خفه شوه، "خرم د سبکل نه راپرېوتې دی." هغې د خرم ژړا واوریده. زر یې ښکته منډې کړې او شهناز ورپسې د ماشوم د پالنې او د اسلام د دین هغه خبرې کولې چې نن یې په "ایف ایم ریډیو" اوریدلې وې. خرم ته په پښه د پټۍ تړلو په وخت هم د شهناز خبرې بندې نشوې. څو ورځې د مخه هغې د خپل لاس بنګړي د "ایف ایم ریډیو" ملا ته د جهاد لپاره په چنده کې ورکړي وو. نن یې انۍ او رابیا هڅولې چې کفارو سره جهاد په هر چا فرض و. امینه د انۍ او رابیا سره کیناسته نو شهناز بیا د کفر په اړه لګیا شوه. له امینې صبر وونشو او ترې یې وپوښتل، " ته د کوم کفر خبرې کوې؟ د خدای فضل دی، مونږ ټول مسلمانان یو...شهناز د هغې خبره ونیوله، " زه د امریکیانو خبره کوم..." شهناز هم خبرو ته نه پرېښوده، "دوی خو په افغانستان کې دي، زمونږ په وطن کې خو نه دي." شهناز هم ماتې نه منله "ته د بونېر بازار نه خبره یې؟" امینې ووېل، " آو، هلته سندرغاړي اوسېږي، خپله دنده کوي، مونږه یې هم واده ښادۍ لپاره راغواړو." د شهناز غږ لوړ شو، "یواځې سندر غاړي نه دي، هلته ښځې ګډیږي، ماښام ددوی بازار تود شي، انۍ! ته خبره یې چې هلته څومره پنجابیان ورځي او زمونږ دا بې غیرته ورته خپلې لوڼه او خویندې ګډوي، د پېسو لپاره..." انۍ او رابیا غوږونو له ګوتې یوړې، " توبه...توبه..." امینه غلې شوه او د

ځواب لپاره يې الفاظ لټول. د شهناز مخ سور شو، " زه خو وېم چې د بونړ بازار په ټولو دله ګانو جهاد کول پکار دي، چې د يو يو نه ښځې پريکړي نو ښه به وي." هغې غابښونه وچيچل، " د دوی دنده په کوم اسلام کې روا ده؟ دا هم کفر دې، تاسو خو د هيڅ نه خبر نه يئ. ما خو يواځې خپل بنګړي جهاد لپاره ورکړي دي، خو اوس وېم چې ټول سره زر ورله ورکړم ځکه د سوات نه يې د ډمانو اډه جوړه کړې ده." انۍ ورته ښو شيبې وکتل، " ته ريښتيا واې لورې ، په اوړي کې د بحرېن په بازار کې مې د تور سرو حال د موټرنه ليدلې دی. د والي په وخت به ښځې د کوڅې او بازار نه تيرېدې نو په لاره تلونکو سړو به مخ بلې خوا ته کړو او ورته به دريدل چې ښځې تيرې شي. اوس د خلکو په سترګو کې حيا نه ده پاتې. خو دا ملايان هم زياتې کوي، ګوره د وسلې په زوردوی د خلکو نه مسلمان نشي جوړولې. هلته په افغانستان کې دوی څه حال کړې و، ياد دې نه دي چې ښځې يې هيڅ بهر نه پريښودې." امينه لږه ډاډه شوه او وې ويل، " ته ورله خپل ټول سره زر ورکړه، خو دوی به پرې څه کوي، ددې نه خو هيڅوک خبر نه دي." شهناز وويل، " ملايان ساده خلک دي، نه د چا کورشته او نه يې مال راټول کړې دې، د خداې د دين لپاره راوتلي دي او هر څوک چې ځان ته مسلمان واي، پکار ده چې د دوی سره څنګ په څنګ جهاد لپاره ودريږي" امينې ته د "ايف. ايم ريډيو" خپرونه راياده

شوه. دا خبرې چې شهناز کولې، په ریډیو خپرې شوې وې. رابیا د خپلو غوږونو والۍ راوویستلې او شهناز ته یې په لاس کېښودې، " دا به زما له خوا دوی ته ورکړې، زه په وروستي عمرکې اوس په دې سرو زرو څه کووم؟"
د طارق په کور کی دده د مینی داستان لکه د یو سوړجنگ ورته د ناندریو او پېغورونو وړ وګرځېدو. د نورین نوم اوس ده ته په ملنډو کی یادېدو. "زویه! ایله بیله د باغبان لور "...مور به ورته د اوږدو خبرو په اخره کی وویل، "د نورین مور به ما سره په کرسۍ کښېني، ما سره...د میر عالم خان لور سره چې د چارسدې او مردان نیمې زمکې ورسره وې." زیبا ور زیاته کړه، خلک وړاندې ځي او مونږ شا ته روان یو." بیا به یې وخندل "زه خبر، د باغونو ساتنه به مو مفت کېږي." بی اولاد بابي به پکی خپله خبره وکړه. "د ماشومانو د سکول داخلو نه به بی غمه شو." طارق به په زخمي نظر دوی ته وکتل او کله کله به یې غږ لوړ شو، " تاسو د نورین په شان یوه جینۍ راته وښایئ." زیبا به ورته سره شوه، " بس بس، هغه درخانۍ نه ده چې څوک به یې د سیالۍ نه وي، رنګ خو یې وګوره."
طارق به هم تېز شو، " زه درته رنګ نه یادوم، د هغې پوهه او عادتونه..." مور به ورته په ورو غږ وویل، "دا څه لکه د ماشومانو ایرۍ وهئ. غلي شئ چې خالد او پلار موخبر نشي."

د طارق پلار په کاالام کی د خپلو منو د باغونو په غم کی و چې حکومت له خوا وربانديې سړ. کال زياته ماليه ټاکل شويې وه. هلته ځيني نورې ونې يې هم لرلې چې غوښتل يې ووهي خو د ځنګلاتو په اداره کی اوس يو ايمانداره افسر کارکوو چې د ونو وهلو اجازه يې نه ورکوله. نورو کسانو په معمولي پېسو ورسره خبرې نه کولې." پلار يې طارق ته وويل،" وګوره که څوک پيژنې چې له دی بلا نه ځان خلاص کړو، يو ځل واورې شروع شوې نو بيا مزدوران به نشو پيدا کولې." طارق ډېر په ادب پلار ته وويل، "ښه به دا وي چې په قانون وچليږو." پلار يې په قهر شو، " ته لا ماشوم يې، دلته نه د حکومت٠ نه د رياست او نه د قام خبره څوک مني. خبره د حساب ده، چې حساب لرې، کارونه کيږي." طارق ورته د چينارو غونډی وريادہ کړه. " عمران وايی که په لوړو غرونو پخوانی ونې نه وی وهل شوې نو دوی او په سوونو نور خلک به نه بې کوره کيدل." پلار يې څو شيبې غلې و او بيا يې وويل، "سبا له به عمران وايی چې زلزله هم ځکه راغلې وه چې خلکو ونې پريکړې. هلکه! دا د خدای زمکه ده او هر څه د خدای له خوا کيږي، بنده په دې کی څه نشي کولې." طارق وېزاره شو نو خپل ټېليفون يې راوويستو. نورين ورته ټېکسټ (پېغام) راليږلې و. "په تندي دې لا دولس نه دي بجې؟" طارق موسکی شو. نورين ته يې يو

ټېليفون نن ورکړې و او دا يې هم وېلي و چې يواځې دده سره د خبرو لپاره به کاروي.
په بل ماښام امينه د زيبا سره په خبرو بوخت وه چې په يو لوې درز د کور د ځينو کړکيو شيشې ماتې شوې او د شيبه سکوت نه وروسته د خلکو شور زوږ راپورته شو.
امينې ښکته منډې کړې او وې ليدل چې ټول په انګڼ کې ولاړ و. " څوک خوږ شوي خو نه دي؟ هغې شهناز نه وپوښتل چې اوس يې آسمان ته کتل. انی او رابيا دواړو د لرګي په ټيټ تخت مصلې هوارې کړې اونفلونه يې کول. "خداې دې خېر وکړي، بم زوره ور و." شهناز لکه چې ځانه سره لګيا وه. د هغه زوی په دې شيبه په موبايل د چا نمبر لټوو، "هله د پلار پوښتنه وکړه." شهناز ورته په چغه وويل.
طارق د کلينک نه کور ته په لاره و چې په اسمان کې يې تور لوږې وليدو او د موټر کنټرول ترې خطا شو نو د سړک يوې ډډې ته يې ودراو. په موبايل يې د نورين نمبر ډايل کړوخو ټېليفون چا نه اخستو. د ماښام آزانونه شوي و او هغه پوهه شو چې نورين به په لمانځه ولاړه وي. ټېليفون يې ايله بند کړو نو ددی په وړه شيشه د زيبا نوم ښکاره شو. موراو خور ته يې ډاډ ورکړو نو بيا يې د نورين نمبر ووهلو او ورسره يې خبرې کولې چې د هغه پام سړک ته شو. خلکو د چودنې ځاې نه سړک لوري ته منډې وهلې. د ځينوپه سر يې خاورې وليدې، د يو کس د سر نه وينې رواني وې. نورين سره يې

خبرې ختمې کړې او په زړه کې یې راغلل چې نږدې روغتون ته ورشي. خو هغه وخت یې یو ایمبولنس ولیدو نوځان یې ورنږدې کړو. دی خبر وو چې په داسې وخت کی ایمبولنس یواځې د مړو او زخمیانو د وړلو لپاره کاریږدو او پکی د علاج لپاره به څوک نه و. هلته یو کارکونکي ته یې خپل ځان ور وپیژندلو نودی خوشاله شو. د یو دکان دار نه یې شړی وغوښته او په زمکه یې وغوړوله. د خپل موټر نه یې یو لوې بېګ راوویستو چې د داسې پېښو لپاره به یې ځان سره ساتلو. کوم کسان چې ډېر زخمیان نه و، هم هلته یې تداوي کول. بیا دوه واړه هلکان چې په بازار کی یې هغه وخت د پلاسټکوکسوړې خرڅولې او اوس یې له سرونو وینې روانې وې، یو چا دده مخې ته ودرول. د دواړو هلکانو په مخ وېره او په سترګو کی دومره وحشت و چې طارق وبوږنیدو. زر یې د دوی پر هرونه په سپیرټ پاک کړل او پټۍ یې پرې وتړلې. د هغه سره اوس سپیرټ هم خلاص و او ایمبولنس روغتون ته روان شوې و. دده په شان ځینو موټر چلوونکو نور زخمیان روغتون ته وړل. طارق یو کس ته د پاکو اوبو او د سپیرټ د راوړو وویل. ده د څښلو د اوبو تش بوتل یوې ډډې ته کېښودو او وې لیدل چې وړوکي هلک اوس په پټه خله ژړل. طارق ورته په سر لاس کیښودو او وې ویل، "مه ژاړه بچو، زه به دې کورته ورسوم." هلک په ژړا وویل، "زما خیزونه هلته په بازار کی پاتې دي."

بیا په سلګو شو. طارق ورته ډاډ ورکړو چې د خلکو ګڼه کمه شي نوځیزونه به یې ولټوي او که نه ونو دی به د پخپله ورته نور واخلي. بل هلک چې په عمر کی لږ لوی و، غلې ولاړ او په نم ژنو سترګو یې طارق ته کتل. شیبه وروسته، یو چا د اوبو څو بوتلونه دده مخې ته کېښودل او طارق چې سر پورته کړو نو یوه اشنا څېره یې ولیده. هغه هټۍ وال چې طارق به ترې د کور لپاره سودا کوله ولاړ و. " ډاکټر صیب، خداي راستي چې فرشته یې، هلته یو چا راته وویل چې په سړک یو ډاکټر د زخمیانو ملهم پټۍ کوي، نو ما ویل دا به هم ته یې." طارق ولیدل چې د هغه په لاس پټکې تاو و. "که د مختیار کېمسټ دکان خلاص وي، نو ورته ووایه، د داروګانو سره راځغله، زما نورمالوچ اوسپیرټ پکار دي..." د طارق خبره نیمګړې پاتې شوه ځکه د خلکو په ګڼه کی یې د مختیار لوی برېتې او سپین مخ ولیدو چې یو لاس یې د تندي په پرهر ایښې و.
د شپې تر دولسو بجو طارق د ملهم پټۍ نه وروسته زیات خلک کورونو ته وراستولي و. دواړه هلکان هم هلته د یو بند دکان دروازې مخې ته ګونج مونج اوده وو. د پټۍ په وخت طارق خبر شو چې دوی د بره سوات نه راغلي و او هره شپه به یې هم هلته د بازار په یوه برنډه کی تېروله. اوس هم چا ورله د خواړو لپاره بسکټ ورکړي اودوی بې له کمبل او څادر پراته و. مختیار کېمسټ او د بازار نوردکانداران د پولیسو سره له خبرو

وروسته خپل خپل زیان یو بل ته یادوو. د مړو شمیره تر اوسه نه وه معلومه خو یو کس ویل چې دریو کسانو دده په لاس کی ساه ورکړې وه. د ځینو خلکو خپلوان تر اوسه هلته ولاړ و او پولیسو وړاندې نه پرېښودل.
طارق د بوتل په اوبو مخ لاسونه ووینځل، په زمکه هواره کمبله یې په دواړو ماشومانو وغوړوله او هم هلته ورته نږدې کېناستو.
په بله ورځ نورین له ډېره وخته په دفتر کی هغه کمپیوټر ته ناسته وه چې څو ورځې وړاندې ورته په میزاېښودل شوې و. کمپیوټر زوړ و خو هغه خوشاله وه چې په دې به چل زده کړي. اوس یې هم د "اېکسېل" په سیسټم ځان پوهیوو. کله کله به یې د بهرني دفتر د بابو نه مرسته وغوښته. په مدرسته البنات کی د ماشومانو شمیره کمه وه او ټول خبر وو چې زیات خلک له ښاره په وتلو وو.
نن دوی د دوو کلاسونو شاګردان په یوه کوټه کی کښېنولي و او نورین په کمپیوټر ځان مشغول کړې و. د هغې په موبایل د پېغام د راتلو پیپ وشو نو وې کتل. "د پېري له خوا" دا د طارق نوم و چې ورته یې د منې تصویر رالیږلې و.
هغه موسکۍ شوه. ترور زوی یې اوس د چا د منو په باغ کی کار پیدا کړې او مور ورپسې د یو کس په خله پېغام رالیږلې و چې کور ته راشه. تیر ځل هغې طارق ته دا خبره وکړه نوځومره وار خطا شوې و. "تا خو به ورته آو نه وي کړي؟" نورین په ارمان وویل،" څه

وکړم، نور څوک خو د واده خبره راته نه کوي، سوچ به پرې وکړم." طارق ټکنې شو، "نورين...نورين زه به يې مړکړم ...ستا د ترور زوې...پام کوه چې د مجبورۍ احساس ونکړې...ته زما يې...زما يې...زما يې." هغه په جوش کی وويل. نورين کټ کټ وخاندل، " د ماشوم توب ډايلاګ درنه هير نه دي؟" هغې طارق ته ورياد کړل.
د طارق په کورکې په اختر ښادۍ کې نورين د خپل پلار سره ورتله او کله چې به ټولو ماشومانو لوبې کولې نو طارق به د هغې لاس نيولې و او بل څوک به يې ورته نږدې نه پريښودل. په يو اختر کی خالد چې تر ټولومشر و، د هغې لاس د خلاصولو په هڅه د طارق څپيړه خوړلې وه. بيا دواړو ورونو څومره وهل ټکول کړي وو. د طارق پلار ددوی د خلاصولو لپاره راغې نو هغه په مزکه ملاست لتې ټکولې او په چغواو ژړا يې هم يوه خبره کوله چې، "نورين زما ده، زما، دا به ما سره لوبې کوي." اوس هم کله کله هغې طارق ته دا خبره يادوله نو ورته به يې وخندل، " وګوره زما مينه څومره پخوانۍ ده."
هغې پرون ماښام ورسره څومره اوږدې خبرې کړې وې، د ژوند وړې وړې خبرې او کله چې نورين ورته د ښار د پيښو يادونه وکړه نو طارق وويل، "د نورو خبری به نه کوو...هغه د احمد خان سندره دې اوريدلې ده..."ما ته چې راځې نو د بل چا خبرې مه کوه." نورين په

تشویش وویل. "طارقه دا به اوس څه کیږی هن؟" طارق په زوره وویل،" زما سر به کیږي!" نورین کړس کړس وخندل. اوس هغې غوښتل چې په موبایل کې طارق ته ځواب ولیکي خو د دفتر دروازه ناڅاپه خاله پرانسته اونورین موبایل د میز په دراز کی کېښودو. دواړه خویندی را دننه شوي نووې لیدل چې نورین د دوی په لیدو حیرانه شوه خو بیا ډیر په خندا او خوشالۍ یې دوی ته ستړي مشي وویل. خاله لاړه نو امینه د دې مخامخ په کرسۍ کیناسته. زیبا تراوسه ولاړه وه ، " مونږ د سکول مخې نه تیریدو نوستا لیدو ته مو زړه ووشو." امینې خپل سپین بیګ د هغې په میز کیښودو چې وربانديې طلاي زنځیر ځوړند و. بیا یې څادر د غاړې نه سست کړو او د دې په ګوتو د الماسو رڼا وځلیده. نورین زیبا ته د کیناستو وویل نو هغې ترې د سکول پوښتنه وکړه. دې ورته د یو بل لوي بلډنګ خبره وکړه چې بل کال ته به تیار شي. هغی نه لیدل چې زیبا او امینې یو بل ته په سترګو کی څه ویل خو دا احساس ورته وشو چې دواړو خویندو ورته په عجیبه نظر کتل. نورین یو څه نا ارامه شوه خو هغوی ته یې څرګند نه کړل. امینې ترې پوښتنه وکړه " تنخاه څومره درکوي؟ نورین وشرمیده. تراوسه ترې مورهم د تنخاه پوښتنه نه وه کړی. په ورو غږ یې وویل،" حاضره خو راله پینځه زره راکوي، په نوی کال کی به راته زیات کړي." زیبا سر وخوځوو او وی ویل،" دا هم ډېرې دي، نن سبا

www.safianaleem.com

خلک روزګار پسې سرګردانه وي، ته خوش قسمته يې چې ملک صيب دا سکول جوړ کړو او ددی مشوره هم ورله داجي ورکړی وه." د زيبا په لهجه کی زهرګډ وو او امينې ورته په سترګو کې خبرداري ورکړو، خو نورين د سکول جينکو په لاس جوړ شوي يو څو انځورونه ورته وښودل چی مخا مخ په ديوال لګيدلی و.
خاله چاي رادننه کړې نو څو شيبې خاموشي شوه او چې دا له کوټې ووتله نو امينې غاړه تازه کړه او ورته يې وويل. "نوري، ما يوه خبره درسره شريکوله، ته خو زما د کشرې خور په شان يې." د نورين زړه په زوره ودرزيدو. په کور کی يواځې طارق ورته "نوري" ويل.
هغه پوهه شوه چې دوی د څه لپاره راغلې وې. امينې خپله خبره جاري وساتله، "ته زمونږ په کورکی لويه شوې يې او ستا پلار زمونږ ډير خدمت کړی دی ځکه ستا په مونږ ډيرحق دی، خو هاغه څه چې ته او طارق غواړئ، ناممکنه خبره ده. زما او د زيبا پری هيڅ اعتراض نشته، خو ادې او داجي دواړه، ته زمونږ نه زيات ښه پيژنې" زيبا د نورين مخ ته کتل چې هيڅ ډول تاثر پرې نه ښکاريدو. "ادې مې اوس د زړه په مرض اخته ده او خفګان ورته ښه نه دی، داجي د خالد بيماري تراوسه نه ده منلې، دا بله بدنامي به برداشت نه کړې شي." نورين لکه د بوت پخپل ځاي ناسته وه او په لاس کی نيولي قلم سره يې د کتابګوټي په سپين کاغذ ليکې راښکلې. د امينې په وروستۍ خبره د هغې مخ سور او

www.safiahaleem.com

له خلې يې سلگۍ راوتله، "بدنامي؟" زيبا خور ته بدبد وکتل او وې ويل، " ددې مطلب هاغه نه و، خلک اوس هم د خالد لالا د ناروغۍ خبرې کوي، شيرين د پلار په کور ناسته ده چې يو ډول زمونږ ه بدنامي ده." امينې ورزياته کړه، "بابي يوه ورځ بره د کړکۍ نه کتل، ويل يې، په لاره دوه ښځې تيرېدې، زمونږ کور لوري ته يې په لاس اشاره کوله چې د دوی زوی د اولاد په نه کيدو لېونی شوی دی."
زيبا وويل، "مونږ نه غواړو چې خلکو ته زمونږ په باره کی د خبرو نوی موضوع پيدا شي." نورين د خبری لپاره خله جوړوله خو امينه ترې وړاندې شوه، "مونږ نورڅه درته نه وايو، ته پخپله هوښياره جينۍ يې او که د طارق سره ليدل بند کړې نو هغه به ډېر زرتا هېره کړي. او دا هم ياد لره چې د طارق دا اول ځل نه دې چې جينکۍ يې خوښيږي. هغه به درته نه وي وېلي، خو په پېښور کی يې يوه جينې دومره خوښه وه چې نږدې سبق يې ورته پريښودی و. که زيبا مونږ نه واې خبرکړې او يا داجي ورپسې پخپله ځو مياشتې په پېښور کی نه واې تېرې کړې نو دی به اوس ډاکتر هم نه وای."
خاله صاحبو د ځينو فايلونو سره رادننه شوه نو دوی غلې شوې. هغې دا د نورين مخې ته په ميز کيښودې، "بابو صېب واې چې د دستخط نه وړاندې يې وگوره." نورين ورته سر وخوځوو نو دا له کوټې ووتله. امينې د

چيني چېنک نه په پيالوکی چاې واړولې او نورين ته يې يوه پياله کيښوده. زيبا د خپل لاس ګړئ ته وکتل. هغې د خپل مشر ډاکټر نه تر يوی بجی چوټې اخيستې وه او اوس دولس بجې وې. نورين ته يې وويل. " بابې دې پوښتنه کوله چې ته اوس مونږ کره ولې نه راځې؟"
هغې ورته په عاجزئ وکتل خو ژبه يې ګونګه وه. د امينې او د زيبا په خبرو هغې ته خپل ټول وجود شل معلوميدو او خله يې وچه وه. د چايو پياله يې راواخيسته او د ګرموچايوګوټ د هغې اعصاب لږ ارامه کړل. امينې ورته وويل، " ښه به دا وي چې د پخوا په شان مونږ سره تګ راتګ وکړې، ستا په ليدو مونږ ټول خوشالېږو. دا ستا فرض دي چې که طارق يو غلط قدم اخلي نو ته يې منع کړې. هغه خو هلک دې، نن تا سره ملګرې دې، سبا به بل سره وي. واده خلک پخپلو سيالوکی کوي." زيبا غاړه تازه کړه، "ريښتيا، ستا هغه ترورزی نن سبا څه کوي، چې ته يې په نوم کړې وې؟" د نورين زړه په زوره ودرزيدو، " دا خبره ورته چا کړې ده؟...زما او طارق نه علاوه خو هيڅوک نه و خبر..." نورين د ځواب په ځاې د چايو پياله يې خلې ته ونيوله چې اوس تشه وه. هغې خپل ځان ډير بې وسه وګڼلو. امينه پوه شوه چې له نورين اوس نورې خبرې نشي راويستلې نو هغې ته يې وويل، "ته زما کشره خور يې، ما ته په زيبا او تا کی هيڅ فرق نه ښکاري، ستا هره مسئله چې وي، راته په ټيليفون ووايه." بيا دواړه

www.safiahaleem.com

خويندې راپاڅيدې او زيبا چې له دروازې وتله نو هغې ته يې وويل، "زمونږ د راتلو نه په کور کې څوک نه دي خبر، طارق ته هم مه وايه."
تر لوی دروازې امينې د سکول په ستاينه خبرې کولې او بيا يې نورين ته وويل، "ټيليفون راته وکړه ښه." نورين د ځواب په ځای ورته سر وخوځوو او بيا يي وېل، "کوشش به وکړم." هغې د نيم خلاص دروازی نه وليدل چی بهر په وړوکي ميدان کې د عمران سرکاري موټر ولاړ و. دا چي بيرته خپل دفتر ته راغله نو د تفريح وخت شوی و. خاله ته يې وويل "زما په سر کی درد دی، زه تر کوره پورې ورځم، مس نسرين ته ووايه چې دفتر کی دې کېني.
په موټرکی زيبا غلې وه، د ډريور په وړاندې هغی خبری نه کولې. امينی ورته د تورو عينکو تر شا وکتل او بيا يې وويل، "سکول خو يې ډير ښه روان کړی دی، تنخا يې دومره ښه نه ده." د زيبا په تندي گونځې ښکاره شوی، خور ته يې مخ واړو او په انگرېزي ژبه يې وويل."هغه څوک چي د يونيورسټۍ مخ يې هم نه وي ليدلې او نه يې څه ټريننگ اخشتی وي، تش د بي،اې په ډگري کار پيدا کړي، زما په خيال نن سبا وخت کی ډير خوش قسمت دی."
امينې خپلو د لاس نوکونو ته وکتل چي ورباندی نارنجي رنگ وهلی و او خور ته يې په انگريزي وويل، " ستا خبره سمه ده خو دا لايقه جينۍ ده، ستا يادېږي چي د

حساب سوالونه به يې درته حل کړل، هغه وخت ته په پینځم کي وي او دا په ځلورم کی." زیبا په قهر شوه، " زه په انګریزۍ کی ښه ووم، تاسو ټولو به ما نه پوښتنې کولې." امينې وخندل" هغه ځکه چي تا او طارق په انګریزي سکول کی سبق ویلې دې." زیبا د روغتون په لویه دروازه د موټر نه ښکته شوه، خور سره يې خدای په اماني وکړه او په تیزو قدمونو دننه ولاړه.

په مدرسته البنات کی د ماشومانو شور نورین پخپلې کوټې کی هم اوریدې شو. هغې مخ په بالښت کی پټ کړې او له ډېره وخته يې ژړل، دومره چې اوس يې لکه د ماشومانو سلګۍ وهلې. په کورکی هغه محال هیڅوک نه وو او د ګودام مخې ته مزدورانو د یوې لوی لارۍ نه د اوړو بوجۍ رابنکته کولې. هغې پوزه په رومال پاکه کړه او بالښت ته يې وکتل چې لوند خیشت و. د یوې کیسې هیروین ورته رایاده شوه چې په ژړا ژړا يې بالښت لوند شي. یاسمین ورته ځومره په خوند خوند دا جمله د کتاب د مخ نه لوستې وه او دواړو پرې ځومره خندلي و. " دا د نه منلو خبره ده، دومره ژړا به څوک کوي؟" نن ورته خپل ځان د کیسو یوکرېکټر ښکاریدو.

د زیبا او امینې خبرو د هغې په غوږ کی انګازې کولې، "دا بله بدنامي به برداشت نه کړي." د امینې او زیبا خبرو له هغې وارخطا کړې و او اوس نورین ځان ته په قهر وه چې ولې يې د هغوي په وړاندې ژبه ګونګه شوه. هغې ته خوخپل ځان هغه وخت دومره ټیټ نه و ښکاره

شوې چې په هم دې دفترکی ځو ورځې وړاندې شهاب سره مخ شوې وه. څومره په ډاډ يې د هغه خبرې ځواب کړې وې.
د سکول د پېسو حساب او د استادانو د تنخاه لپاره د بابو (کلرک) دفترد ښوونځي د لوې دروازې سره جوړ شوې و. ملک صېب به هره دويمه درېمه مياشت پخپله په دې دفتر کی دا حسابونه له نظره تيرول او د نورين کوټې ته به يې هم سرښکاره کړو. په هغه ورځ ورته بابو ټېليفون وکړو چې کشر ملک صېب (شهاب) ورسره ناست دې او شيبه وروسته به د نورين سره کتل غواړي.
هغه پوه شوه چې دده د راتګ هدف څه و. لومړې خو يې نه غوښتل چې ورسره يواځې ووينې، خو بيا يې خاله صاحبو ته وويل، "ته بهر کېنه، چې زه درته ټلۍ وغږوم نو دننه راشه. خاله صاحبو ډېر انتظار ونکړو. ښاي لس يا دولس مينټه تېر شوي وي. نورين د ملک زوې ډېرو خبرو ته نه و پرېښودې. هغه ته يې سپينه کړه چې د ملک صېب او ياسمين نېکي به نه هېروي خو څه چې شهاب غواړي، هغه ددی له وسه بهر خبره وه. شهاب د هغې جرات ته حېرانه و. له هغې يې وپوښتل چې د انکارسوب يې څه و نو دې ورته وويل،" زه دا سوب تاسو ته نشم ويلې. "هغه ټينګار وکړو، که په دې ويريږې چې زمايوه ښځه په بهر ملک کی ده نو ډاډ درکوم چې هغه مې طلاقه کړې ده. يکي يو زوې مې د شپاړسو کالو او خپلواکه دی." نورين له خپلې کرسۍ

ودرېده ، "ملک صېب په ما جبر مه کوئ که نه زه به دا نوکري پرېږدم."
په دې خبره د شهاب رنګ والوتو. نه...نه...زه دا نه غواړم." بيا دروازې ته په تلو کې يې ووېل "زه افسوس کووم خو زما په خبرو خفه نشې، په دې موضوع به هم دلته خاورې واړوو. زه فقط تاسو خوشاله ليدل غواړم." نورين تلی نه وه وهلې او خاله صاحبو د شهاب الدين د تلو نه وروسته پخپله د نورين دفتر ته راننوته. "نورين ګلې، کشر ملک درته څه ويل"، نورين يو رجسټر را واخستو او هغې ته يې وويل،" د ځينو استادانو د تنخا خبره مو ملک صېب ته کړې وه، دې وايی چې سږ کال به ورباندې غور وکړو."
نورين هم هغسې په سلګيو وهلوخوب يوړه خو د ډزو په غږ راويښه شوه چې د کوټې کړکۍ ته ډېرې نږدې وشوې. هغې د لاس ګړۍ ته وکتل، اوس دوو بجو ته څو مينټه پاتې وی او د چوټۍ وخت شوې و. نيم ساعت وړاندې د ښوونځي نه د راتلو سره هم هاغسې څادر په سر، د بوټانو سره په کټ پرته وه. د ډزو په غږ دې کټ نه دروازې ته منډه کړه. د پوزو په دېوال يوه وړه شيشه ځوړنده وه اونورين په هغې کې خپل مخ وليدو نو هم هلته ودريده. ددی سترګې سرې وې. يوه شيبه يې سوچ وکړو، بيا غسل خانې ته لاړه او د بالټې نه يې څو لپې اوبه په مخ واچولې. دا د ښوونځي په دروازه لا نه وه وتلې چې نورې ډزې و شوې. يوه ګولۍ د هغې د

سر د پاڅه تیره شوه نو دننه یې منډې کړې. په برنډه
کی ددی معاونه مس نسرین اندېښمنه ولاړه وه او په لیدو
یې ژر ورته لاس وخوځو. " واړه مو دننه ګېرکړي
دي" نورین ورته ویل، "ښه مو وکړل، ډزې ډېرې
نږدې دي، کړکیود شیشو نه یې لیرې کړئ." هغه خپل
دفتر ته لاړه او په ټېلیفون یې ملک ته خبرورکړو.
امینه چې کور ته ورسیده نو ماشومانو په مخه واخیسته.
انې د هغې د لیدو سره ورته شونډې بوڅې کړې او په
خفګان یې ووېل، "دا وخت ستا د راتلو دې؟ په ښار کی
څه حال دې، له ما دې زړه خور(خپور) کړې و، اوس
مې شهناز ته ویل چې درپسې ټېلیفون وکړي." امینې
څادر لیرې کړو او د خواښې سره کېناسته، "انې! په لاره
کی ډېر رش و، یوه ګېنټه خو په سړک ولاړ وو، دومره
پوځي لارې وې چې تپوس یې مه کوه، د عمران دوی
ډریور ویل چې امریکایان راروان دي." په دې وخت
کی شهناز هم راښکاره شوه او په ګیله من غږ یې یور ته
وویل، "موبایل خو درسره و، نامردې، یو میس کال به
دې کړې واې، په دې خرچه نه راځي." د امینې په
غوږونو کی اوربل شو، غوښتل یې چې شهناز ته څه
وواي چې په دې کې یو لوې درز سره د کور کړکۍ
ولړزیدې، امینې شهناز ته وکتل، " دا لکه چې ستا د
بنګړو غږ و." شهناز یوه پیکه خندا وکړه او د ټوپک د
ډزو سره امینې په خرم او سوما لاس تاوکړو، "دا به د
رابیا ببو والې وي." شهناز ورته په قهر وکتل، په

www.safiahaleem.com

موبایل ټیلیفون یې ګوتې ووهلې او خپلې کوټې ته لاړه. انې او رابیا کلیمې تیرولې او امینې هم اخوا دیخوا د خلکو خیریت په خپل ټیلیفون معلوم کړو.
ډزې غلې شوې او ډیر وخت خاموشي وه. انې امینې ته د سترګو اشاره وکړه چې خرم اوده کیدونکې و. هغې زر را پاڅوو، "مه اوده کیږه بیا د شپې مونږ هم درسره ویښ یو." هغه یې وتښنوو نوخرم د مور له غیږې لاړو د انې په غیږ کې یې سرکیښودو. سوما سر راپورته کړواو وې ویل، " زه اوږې یم ممې، چپس خورم." امینې یو سوړ اسویلې وکړو نو شهناز هم هغه وخت کوټې ته رادننه شوه او د سوما خبره یې واوریده. " ماشومانو سره د ډوډۍ په وخت چې مور نه وي نو هم دغسې کیږي، د غرمې مې وریژې ورته کیښودې نو وې نه خوړلې، زه ورځم چې د شپې ډوډۍ ته لږ وخت پاتې دې اوس به جمشید هم راشي." امینې دواړه ماشومان له لاسه ونیول او په زوره یې خپلې کوټې ته بوتلل. د سوما په خبره اوس خرم راویښ شو او له مور یې چپس غوښتل. امینې د افروزې او د بدرۍ ارمان وکړو چې دواړه ترې کراچې ته تللې وې. هغې ماشومان دلاسه کړل او ورته یې وویل، ورشئ ټې وې وګورئ، زه درته چپس پخوم. ماشومان چې د ټي وي کوټې ته لاړل نو امینې پخلنځي ته سر دننه کړو. په ډېر خوږ غږ یې شهناز ته وویل، "ورینداریې، که اجازت راکوې نو دوه

الوګان به چپس کړم." شهناز ورته په طنز وویل " چپس جوړول درځي؟
"امینه له قهره تاو شوه خو په خندا یې وویل، "ځلورکاله مې ډاکټري وویله چې تر ټولو ګران سبق وي، نن به چپس پخول تا نه زده کړم." شهناز دومره په اسانه ماتې نه منله، آلوګان او چړه یې د امینې مخې ته کېښودل.
"ډاکټري به دې یا پکار شي یا نه، پخلی هری ښځې ته پکار وي." امینې د آلوګانو نه پوستکې لرې کوو،"
زمونږ او ستاسو په ژوند کی ډېر فرق دې، ما نه د پلار او نه د خوابښې په کور کی پخلی کړې دی.". دا یې وویل او چاکو یې د یور په خبټې کی د منډلو په ځاې، په آلوکی خښ کړو.
ماشومانو چپس وخوړل نو امینې ورته جامې بدلې کړې، په دواړو یې غاښونه برش کړل او کټ ته یې وخېژول.
دوی ته یې د کتاب نه یوه کیسه ولوستله او د عمران سره د جنګ لپاره یې ځان تیار کړو.

اتم څپرکې

ده ټوله ورځ د کمشنر دفتر مخې ته نورو مزدورانو سره کار کړې او اوس د سړک نه په ښکته تلونکې لاره روان و. داسې کارونه به هغه ته پخوانو ملګرو پېدا کول او د ورځې له مزدورۍ وروسته به دې تل په لنډه لاره کورته ورښکته کیدو. د بازارنه یې څه سودا " هم

کړې وه او اوس د کسوړو وزن ورته دروند شوې و. د لیرې نه یې ولیدل چې دده کور مخې ته د اوبو ډنډ ولاړ و. نن لکه چې بیا ټولو کورونو کي جامې وینځل شوې وې. په دو دریو ټوپونو هغه د کور مخې ته ولاړ و خو په ملا کي یې بریښ وشو نو قدم یې وروکړو. د کور په دروازه یو زوړ ټغرځړیدو خو د دې شا ته نرگس نه وه ولاړه. هغه اوس د اوولسو کالو وه خو هره ورځ به یې د نیکه لاره څارله او چې بابا به کورته نږدې شو نوکله کله به یې ورته نا ببره د ټغر د شا نه د "بوو" غږ وکړو. دا د هغې د ماشومتوب لوبه وه چې اوس هم پاتې وه. د کوڅې او د چم گاونډ د کورونو سکوت د بابا لپاره ناآشناو. نور کله به په دې محال کوڅه له ماشومانو ډکه وه، د پټ پټونو نه واخلې تر کرکټ پورې هره لوبه به کیده. ښځو به د تناره په سر یو او بل کور کی بندار تود کړې و او سړي به له کارونو راتلل. هغه په سستو گامونو روان یو څو کسان ولیدل خو د کوڅې چپتیا ورته حېرانوونکې وه. د ده د کور دروازه تړلې وه او چې د تمبې زنځیر یې وشړنگوو نو ډېر ځنډ وروسته ورته خدیجې ور پرانستو. "څه خبره ده؟" هغه په تونده لهجه وویل، "ټول مړه دي" خدیجې ورته غابنونه وچیچل "خله دې سپېره ده چې په دې ماښام داسې خبرې کوې، نورین دننه ناسته ده." بابا د سودا کسوړي په کټ کېښودې او د انگڼ د اوبو نل ته کېناستو. د مخ لاس وینځلو نه وروسته د خدیجې نه یې تولیه ونیوله او په مخ

پاکولو یې وویل، " خبرخو دې، څه خبره خو نه ده شوې؟"  خدیجې د کسوړو نه ترکاري او نوره سودا راویستله، "مونږ ته خو یې دا ویلي دي چې سکول بند شوې دی او دا کلي ته روانه ده خو هلته نه تره ورپسې ځواب رالیږلي دې چې نه دې راځي، ټوپک واله گرځي."  بابا په برنډې کی دننه د نورین غږ  اوریدو چې د نرگس سره یې خبرې کولې.  هغه غاړه تازه کړه نودواړه غلې شوې او په لیدو یې ورته سترې مه شي وویل.  نورین ورته وکتل،" ټوخې دې اوس څنگه دې؟" بابا د کوټې بل سرکی په غوړېدلې درۍ کښیناستو، "شکر د خداې اوس ښه یم." بیا یې د دېوال سره ډډه ولگوله، "څه چاې ډودۍ مو نورین ته ورکړې دي که نه؟"  خدیجه بیا په قهر شوه، "نه نه... مونږ هیڅ ورله نه دي ورکړي، تاته ناست یو... چې چاې ډودۍ راته وکړې." نورین پوښتنه وکړه، "په ښار کی څه حال دې؟" بابا ډډه ولگوله، " د ښار حال ښه نه دې، د قامي جرگې یو بل تن یې په گولیو سوری سوری کړو، ما لیدلې و، طاوس خان ډېر ښه سړې و. خدای دې وبخښي."  نرگس په ژړا شوه، "اوس به څه کیږي بابا؟" خدیجې نمسۍ ته په سر لاس کیښود، "مه ژاړه لورې، خداې به مو ساتي."  نورین اخوا دېخوا وکتل، "دا ریډیو څوک غږوي؟"  نرگس د گاونډ کور ته اشاره وکړه، "دوی یې اوري د جهاد ترانې او د ملا خبرې، غوږونه یې راله وخوړل." خدیجې ورته په شونډو لاس کیښودو،

"شش...شش، ورو وایه." نرگس لکه د ماشومانو په ژړغوني غږ وویل، ولې ورو ووایم، پرونه پورې یې زامنو د شرابو کاروبار کوو او نن خلکو ته د نمونځ چل ښئ." په وروستي خبره د نرگس غږ مات شو او مخ یې په لاسونو کی پټ کړو."

نورین نن غرمه د بابا کور ته راغله. له هغه راهیسې یې لیدل چې نرگس نارامه وه. د ښار په دی کورونو کی زیات د کلو هغه خلک مېشت و چې په سرکاري دفترونو کی یې کار کوو. د بابا درې زامن د خپلو اولادونو سره په کراچۍ کی اوسیدل او مشره نمسۍ نرگس د نیا او نیکه دخدمت لپاره په سوات کی پاتې وه. په اوړي کی به ټول سوات ته راغلل او خدیجه به هم کله کله د نمسۍ سره په ژمي کی یو میاشت د زامنو کره کراچي کې تېر کړو خو د هغه ځاې ژوند یې نه وخوښ. بابا یو وارې تللې او توبه گار راغلې و.

د کوټې په یو گوټ کی د نورین تور بېگ پروت وچې پکی د جامو سره د هغې څو کتابونه او بوټان هم و.

ملک صېب خپل ښوونځې د ژمي د رخصت لپاره یوه اوونۍ وړاندې بند کړو خو نورین او استادانو ته امر وشو چې دوی به کار ته راځي او په یو زوړکمپیوټر به چل زده کوي. نن سهار بابوخبر ورکړو چې نور به هیڅوک سکول ته نه راځي ځکه په تور سرو بندیز لگیدلې و چې بې محرم به په لارو کې نه گرځي. بابو ټولو ته خپله خپله تنخاه ورکړه نو وې ویل، "ملک صیب

واي چې خپل خیال ساتئ او که څه مشکل و نو ده ته ټیلیفون وکړئ." استادانو د یو بل سره خداې په اماني کوله نو د ځینو سترګې لمدې وې. نورین ورله تسلي ورکوله خو پخپله هم نه پوهیده چې څه وکړي.

د شپې تر ناوخته هغې د نرګس سره ورو ورو خبرې کولې او چې هغه اوده شوه نو په تیاره کی د نورین سترګو ته د طارق مخ وځلیدو. دده سره نن وروستۍ شپېې ورته داسی ښکاریدې لکه چې هم اوس یې ورسره خبرې کولې. د هغه کورنۍ د ژمي لپاره مردان ته کډه وړې وه. هلته دده د مور زمکې اوخپل کورو او طارق ورته ویلي وو چې یو ځلې ټول هلته ځاې په ځاې شول نو دی به هم لاړ شي. د ښارشته من خلک به په دې ورځو کې هسې هم ښکته ملک ته تلل.

په تیروڅو ورځوکی وسله وال د حکومت دفترونو ته کاواکه ننوتل او خلکو ته یې د اسلامي شریعت چل ورښودلو. په ښار کی تاو دومره ډیر شوی و چې بیګاه حکومت په مینګوره کی کرفیو لګولې وه. طارق د یو پوځي ملګري سره په جیپ کی د نورین لیدو ته راغلې و. دواړه د سکول د بابو په دفتر کی ناست وو. د استادانو د کورنه ټول لاړل او اوس په سکول کی د یوې خاله او د شینو څوکیدار نه علاوه څوک نه وو. بابو هم خپل کور ته تللې و. نورین سهارد تورو چایو سره بېګانۍ سړه ډوډۍ خوړلې او که طارق ورته د راتلو نه واې ویلې نو حېرانه وه چې کومې خوا ته لاړه شي. د

ملک ټېليفون بند و او شينو د خپل ټوپک سره کله يوې او کله بلې خوا ته تلو راتلو.  خاله صاحبو په برنډه کی ناسته په کروشيا يې څه جوړول.  کله کله به يې د بابودفتر ته نظر وکړو چې له کړکۍ د نورين او د طارق سرونه يې ليدې شول. طارق د هغې سترګو ته وکتل خو پکی مستي نه وه چې دده زړه به يې يوړو. "نوري، په تندي دې ولې دولس بجې دي؟" نورين به نور کله ځواب ورکړو، "ځکه چې په ګړۍ کې ديارلس نشته."  بيا به ټوکې پېل شوې، خو نن د هغې ژبه ګونګه وه. د طارق د ډېرو خبرو په ځواب کی اخر په وچو شونډو يې وويل "ما ځان سره بوځه." طارق خپلې عېنکې ليرې کړې او ورته يې وويل، "زه د سامان په لارۍ کی ځم، لاره کی به په تکليف شې."  نورين سترګې واړولې، "څه چې پېښېږي، دواړو ته به پېښېږي، زه اوس تر شانګلې هم نشم تلې، ګاډي نه ځي." طارق بهر وکتل، " زه سبا بيرته راځم،  تر هغې ته د بابا په کور کی اوسه.  څو ورځې وروسته به هر څه سم شي، حکومت اوس دې خلکو سره روغه کول غواړي، حالت به ښه شي."
نورين د خپلې بټوې نه موبايل ټېليفون راوويستلو او طارق ته يې کېښودو.  "دلته نه بجلي شته چې چارج يې کړم او نه به ته يې چې درسره خبرې وکړم، په لاره کی به ستا پکار شي." طارق ورته موسکی شو، " ته څومره هوښياره يې، زړه می کيږي چې انعام درکړم او ستا انعام هم دغه ټېليفون دې." نورين پخپلو نريو ګوتوموبايل

ورته ټېله کړو نو طارق د هغې په لاس خپل لاس کېښودو." ستا او زما د ژوند کرښه اوس په دی ټېليفون کې ده، هر چرته چې يې زه به درسره کانټېکټ ساتم. زما نمبر به هم هغه وي چې تا سره دې، کله به چارج نه وي او کله کرېډټ، کله کله به سگنل نه وي خو يو وخت به دا هر څه وي نو زه او ته به خبرې کوو. ما داجي سره ستا په هکله خبره کړې ده او هغه زمونږ په واده هيڅ اعتراض نه دې ښکاره کړې. نورين! ته زما يې او زما انتظار به کوې." هغې په زخمي سترگو ورته وکتل، "مردان ته دا لاره ډيره اوږده ده، په منځ کې غرونه دي، جنگونه دي. ته به زما څومره انتظار وکړې؟" هغې د خپل زړه درزا اوريدې شوه اوڅو شېبې دواړه غلي ناست و، د طارق د لاس گرمي هغې پخپل وجود کی احساس کړه. طارق ورته وويل، " ته ولې د مايوسۍ خبرې کوې، داسې لکه چې بيا به يو بل نه وينو، دا يويشتمه صدۍ ده. د آدم درخانۍ وخت تير شوی دی. ترڅو چې ژوندی يم، زه به درپسې راځم ، د بابا د کور نه به هيچرته او هيچا سره نه ځې." د نورين سترگې ډنډ شوې، " که دوی کراچۍ ته تلل نو بيا؟" طارق د هغې لاس پخپل لاس کې کلک کړو، "بيا به هم نه ځې، د دوو ورځو خبره ده." طارق ددی د لاس گوتې يو يو پرانستې او ټېليفون يې ورباندې کېښودو. بيا يې خپلې گړۍ ته وکتل او پاڅيدو. "اوس به لاړ شو، خاله به هم کور ته ځي او شينو خو لکه چې هم دلته اوسيږي."

خاله ددوی لوري ته راغله او د نورين بيگ يې واخستو. طارق د شينو سره خبرې کولې. هغه د ښوونځي گيټ قلف کړو او نورين ته يې په مخه ښه وويل. نورين چې جيب کې کيناسته نوشا ته يې وکتل. هغه لويه تخته چې "مدرسته البنات " پرې ليکلي و، په گوليو سورۍ وه.
خاله صاحبو د يوې کوڅې مخې ته ښکته شوه نو طارق ورته په لاس څو روپۍ کيښودې. کله چې جيپ د بابا د کور مخې ته ودريدو نو طارق د نورين بيگ واخستو او د کور دروازې پورې ورسره راغلو. د نورين مخ په څادر کې پټ و او د بيگ اخستو په وخت يې طارق ته وکتل. هغه په ورو غږ ورته وويل، "د جمعې په ورځ تياره اوسه، زه به خپل موټر راوړم او بابا ته اووايه که دوی هم راسره تلل نويو ځاې به لاړ شو."
نورين پخپل کټ اړخ بدل کړو نو د طارق غږ يې بيا واوريدو، "ته زما يې او زما انتظار به کوې." هغې د موبايل رڼا بله کړه اود طارق وروستې پېغام يې بيا ولوستو چې د لارې نه يې ورته ليږلې و، " ته راسره يو ځاې سفرکی يې." هغې ټيليفون بند کړواو د خپلې مور په اړه يې فکرونه پيل کړل. د شپې خبرونه يې په ماغزو کی گرځيدل. ځينې وسله وال د مانسهرې د تور ډکې او تورغر نه شانگلې ته وراوختي او په سړکونو يې خنډونه ودرولي دي. که لږ زور پرې راغې نو دوی به بټگرام ته ورشي. هلته د پوليسو په ضد حملې شوي دي.

www.safiabaleem.com

د کوهستان وسله وال اوس کالام او بحرین کی په جنګ اخته و.
راتلونکې څو ورځې نورین د بابا په کورکی تېرې کړې او د بهرنۍ نړۍ سره یې رابطه ختمه وه. په ښار کی امن شو او شرعي عدالتونو کار پیل کړې و. په ګرین چوک کی هره ورځ مجرمانو ته سزا ورکړې کیده. خلک به په درو وهل کیدل او نورو به یې ننداره کوله. په بله جمعه د نرګس پلار راغلو او خدیجه هم د نمسۍ سره کراچۍ ته ولاړه. پلار ته یې د تلو لپاره زارۍ وکړې خو بابا نورین یواځې نشوه پرېښودې چې ټوله ورځ به یې دروازې ته سترګې وې. طارق په بله ورځ د بیرته تلو هڅه وکړه خو پوځیانو به د نیمې لارې نه راوګرځوو. څو ورځې یې په هم دې انتظار تېرې شو چې نورین ته په کومه لاره یو پیغام ورولیږي. په هغه شپه یې هم په حجره کی تر ناوخته کله یوځاې او کله بل ته ټیلیفونونه کول، بیا په سستو قدمونو کور ته رادننه شو او خپلې کوټې ته لاړو خو هلته زیبا ورته په انتظار وه.
"زما د جاب معلومات دې وکړل؟" طارق په کټ کښېناستو او څپلۍ یې لیرې کړې، " آو ډاکټر احسان به راته سبا ټېلیفون کوي." زیبا دده مخې ته کېناسته، "څه یې ویل، څه امېد شته که بل ځاې درخواست ورکړم؟" طارق بې شیمې و، د ملا پر تخته پربوتو او چت ته ځیر شو، زیبا څو شېبې غلې وه، "چاې څښې؟" طارق سترګې پټې کړې، "نه. تر سبا انتظار وکړه او ما یواځې

پرېږده." زيبا ورو له کوټې ووتله. هغې وونه ليدل چې د طارق له سترګو اوښکې رواني وې او اوس يې مخ په ځنګل پټ کړې و.
زيبا د مردان په سرکاري روغتون کی د کار لپاره درخواست ورکړې و خو هلته د وړاندې نه د ښځو ډاکټرانو اړتيا پورا شوې وه. ددی د پلار يو ملګري، ډاکټر احسان په هلوځلو ورته د يوې بلې ډاکټرې ځاې ورکړې شو چې د واده لپاره رخصت وه. امينې څو ورځې د ماشومانو سره په مردان کی تېرې کړې او کله چې عمران او جمشيد په پېښور کی کور په کرايه واخيستو نو دوی هم کډه وکړه.
طارق د خپلې کوټې نه بهر د قدمونو ښکالو واوريده نو راپاڅيدو او غسل خانې ته ورننوتو. هغه پخپل مخ اوبه اچولې او سوچ يې کوو چې سوات ته په کومه بانه لاړ شي. د سپرلي په راتګ ده يو واری بيا د پلار سره د خبرو کوشش وکړو. هلته د دوی په کورکی ملازمان پاته و او ده څو وارې وويل چې د هغوي خبر به واخلي، خو پلار ورته اجازه نه ورکوله. نن ټيکيدار خبر راوړی وچې د پوځ له خوا عامو خلکو ته د وتلو امر شوې او د يو سخت جنګ خبری کيدې. هغه ته د نورين سره کړې خپل لوظ دروغ معلوميدو. کاشکه د هغې خبره يې منلې وای او دا يې له ځانه سره راوستې وای. پلار خو هسې هم ورته د واده اجازت ورکړې و. دی به ځان ته په

قهر شو. په سوات کې خپل يو ملگرى د نورين او بابا د راوستلو لپاره يې ليږلې و خو د هغه هم درک نه و. يوې خدمت گارې د چايو لوښي راټول کړل نو د کور غړي ورور ورو له کوټې ووتل. د طارق سره يواځې مور او پلار ناست وو. د اخوا دېخوا خبرو نه وروسته پلار ورته يو تصوير مخې ته کېښودو. "دا جينۍ مو درله خوښه کړې ده، زما د ډېر پخواني ملگري، گل رحمان لور ده، ستا په شان ډاکټره ده ، د لاهور نه يې سبق ويلې دى." د طارق په سترگو تياره شوه، خله يې خبرې ته جوړوله خو غږ يې نه راوتلو. په ډېره گرانه يې ووېل، " داجي، ما خو نورين سره..." پلار يې خپل جيب کى لاس ووهلو، "او ته د نورين سره هم واده کولې شې، ما درته ويلي وو، خو اوس حالات بل ډول دي، خبر نه يو چې څومره موده به په مردان کى پاتې کيږو." د طارق مور تر اوسه غلې ناسته کله خاوند او کله زوى ته يې کتل،" گوره زويه، مونږ دربانديې زور نه راوړو خو د گل رحمان کورنۍ زمونږ سياله ده او مديحه هم ښه جينۍ ده. ستا به ياد نه وي، مونږ ورکره ډېر تلو راتلو او د امينې په واده کى يې راکره شپې هم کړې وې." طارق په خواست منه لهجه پلار ته وويل، "تاسو يو څو مياشتې صبر وکړئ چې د جنگ فيصله وشي، زه ستاسو هره خبره منم." پلار ورته په نرمه وويل، "ستا واده او دا جنگ دوه بېلې خبرې دي، ما گل رحمان سره ژبه کړې ده چې راتلونکې جمعه به د خېر دعا وکړو،

خپلوان به راوغواړو او خله به خوږه کړو، هغوی څه تیاري کول غواړي نو ما ورته د بلې میاشتې پینځلسمه نېټه ورکړه." طارق د خپل ځای نه پاڅیدو او په تلو کی یې وویل،" تاسوهر څه فیصله کړي دي نواوس ما ته څه وایئ؟"
په بله شپه په تکه توره تیاره کی یو جیپ د مینګورې ښار د کوڅو نه تېر شو او د یو لوې میدان ډډې ته ودریدو. دننه ناستو پوځیانو کرنل اشرف ته ووکتل چې د چور باتئ رڼا یې د څو کورونو په تمبو واچوله. بیا یې یوتن ته اشاره وکړه او د جیپ نه ورښکته شو. لږ وړاندې، د مېدان نه وراخوا د وړو کورونو دروازې بندې او داسې ښکاریده چې هیڅ ژوندی وجود به پکی نه وي. کله کله د سپوغپا به دا سکوت مات کړو. دواړه پوځیان لاړل او د یوې دروازې مخې ته ودرېدل. یو پکی د تمبې زنځیر وشړنګوو او په انتظار شو. ډېر وخت تېر شو خو هیچا دروازه خلاصه نکړه. څو وارې د زنځیر په شړنګا هم د کور نه څوک را ونه وتل، نو پوځي د بل کور دروازه په لاس ودربوله. هلته لږه شېبه وروسته تته رڼا بله شوه او دوی د چا د پښو ښکالو واوریده. د راتلونکي کس ګامونه تم شول او پوځیانو داسې احساس وکړو چې یو څوک د دروازې د چود نه ورته ځیر دي. اشرف په ورو غږ ووېل، "وېرېږه مه، مونږ درته تاوان نه رسوو." دروازه چا ورور ورو پرانسته او د ډیوې په رڼا کی د یو سړي مخ ښکاره شو.

هغه د پوځي د پوښتنو ځوابونه په ورو غږ ورکول او ځو شېبې وروسته دروازه بنده شوه. پوځیان خپل ګاډي ته بېرته راغلل او اشرف په سیټیلاټ ټیلیفون کی د عمران سره خبرې وکړې.

عمران د خپل کمپیوټر په پرده نقشو ته ځیر و چې هره شېبه یې نوي زاویه ورته ښودله. ځینې نقشې یې په ځو فایلونو کی خوندي کړل او د خپل رپورټ په لیکلو بوخت شو. د پېښور په دی کور کی ددوي په برخه یوه کوټه راغلې وه. هم په دی کوټه کی هغه د کټ سره نږدې په قالین ناست و چې وربانډې امینه د ماشومانو سره اوده وه. نابېره عمران د خپل څټ سره تودوالي احساس کړو او بې له دې چې لیدلې یې وې، پوهه شو چې سوما دده کمپیوټر ته ځیر وه. "څه دي بچیه؟ خوب نه درځي؟" عمران ورته په وروغږ وویل. "دا څه دي؟" د سوما خوبولې غږ د هغې له غاړې په ګرانه راوتلو. "دا هغه ځای دی چې زمونږ کور پکی و، چینارو کلا." عمران د نقشې تصویر ورته لوی کړو چې اوس پکی شنې ونې او د غرونو منځ کی سپینې لیکې ښکاریدې. سوما څو شېبې نقشې ته کتل، بیا یې وویل، " زمونږ کور کوم ځای دې، ما ته خو نه ښکاري." عمران ورته تصویر نور هم لوی کړو او په یو ځای یې ګوته کېښوده، " دا خړ رنګ وینې؟" سوما نوره وړاندې شوه او د پلار په اوږه یې سر کېښودو. بیا یې پوښتنه وکړه، "سواستو کوم دی؟ عمران موسکی شو او په نقشه د سیند کږه

www.safiahaleem.com

ورېخ ليکه يې ورته لويه کړه. "دا دې ستا "سواستو"
سوما په ليکه خپله گوته کيښوده او ورور ورو يې د
ماهو ډنډ ته يوړه. " پاپا دا د سواستو کور دې کنه؟"
عمران د هغې وړه گوته لږه نوره بره يوړه، "دا ماهو
ډنډ دی او سواستو ددې ځاې نه روانېږي."سوما د
کمپيوټر په پرده خپل لاس کيښودو او بيا يې پوښتنه
وکړه،
"مونږ به کله واپس خپل کور ته ځو؟" عمران کمپيوټر
ښکته کېښودو او د سوما په نرمو وېښتو کی يې لاس
ووهلو، "اوس هلته سواستو تلې دې، مونږ به څو مياشتې
هم دلته پېښور کې اوسېږو." سوما ورو ورو د کټ نه
ځان د پلار غېږ ته ورواچوو او وې ويل، "زما سکول
ښه نه دی، او...او دلته زما گرمي کيږي او...او انیَ
اوس راته پراټې هم نه پخوي، او...بدریَ ببو هم نشته
او...او... خرم ما وهي." عمران هغه په غېږ کی ټينگه
کړه، "زما لور خو ډېره تکړه ده،" د سوما غږ لوړ شو،
"پاپا، زمونږ کور ته سواستو نه دی راغلې، شهلا واي
چې په سوات کی جنگ دی نو مونږ دلته را وتښتېدو."
عمران هغه په غېږ کی اوچته کړه او کټ ته يې په بوټلو
کی وويل،" د طارق ماما د کويژدنې لپاره به کومې
جامې اغوندې؟" سوما په خوشالیَ وويل، "ما سره خو
دوه رنگ جامې دي، يو گرين او بل پرپل." عمران هغه
په تندي ښکل کړه، " ښه نو گرين ته په پښتو کې څه
وايی؟ سوما زر وويل، "شين! او ما ته پته ده پرپل ته

کاسني واي." عمران دا بیا په مخ ښکل کړه، "شاباش، زما بچی څومره تکړه دی، اوس ناوخته دی، خوب وکړه." هغه په سوما باندې څادر وغوړاو او پخپله بیا کمپیوټر ته کېناستو. سوما اوس ورو ورو له ځان سره لګیا وه. "بلېک ته تور او وایټ ته سپین او...او...پنک ته..."څو شیبو کې هغه اوده وه.

د جمعې په ماښام طارق د خلکو په ګڼه کی ناست و، خو نه پوهیدو چې څه خبرې کیدی. کله کله به د خندا د غږ سره دی هم موسکې شو او پوه به نشو چې دوی په څه خاندل. دده په خله کی د مټاي خوند پاتې و چې اوس ورته د زهرو په شان تریخ معلومیدو. پخپل لاس نوې اومېګا ګړۍ ته یې وکتل چې څو شېبې وړاندې ورته ګل رحمان ترلې وه. دده په یوه ګوته چا نکریزې لګولې وې او د نورین د خیال سره یې د هغې غږ واوریدو، "ځان ځان له دی نکریزې وکړې؟" د نورین شوخو خبرو سره دی دومره اشنا و چې اوس یې هم د هغې له خوا خبره ورته په دماغو کی انګازې وکړې. د پلاو د خوشبوي احساس د خپلو خیالونو نه راویستلو او څو شېبو کی مخامخ په مېز ورته رنګا رنګ خواړه کېښودل شول. دده زړه بد بد کېدو او د لاس وینځلو لپاره پاڅیدو. بهرد حجرې په چمن کی هم خلک په ډوډۍ اړم و. ده خپل موټر ته منډې کړې او یوه شېبه په سیټ ناست و، سترګو ته یې توره تیاره وه او په زوره زوره

www.safiahaleem.com

يې ساه اخيسته. دده په زهن کی يوغږ انګازې کولې،"ماځان سره بوځه." بيا يې هيڅ نه اوريدل. پخپل تندي د چا لاس احساس يې وکړو نو طارق سترګې وغړولې. دی په کټ کی پروت و او په دماغو يې زور راوړو چې ولې زيبا ورته ولاړه وه. "طبيعت دې څنګه دې؟" د خور په غږ هغه لکه چې خوبه راويښ شو، "په ما څه چل شوی و؟" زيبا اوس دده په نبض لاس ايښې، د کټ په بازو ورته ناسته وه، "ته بی هوشه شوې وې او ټول دی وارخطا کړي وو." طارق سترګې پټې کړې او پوښتنه يې وکړه، " څومره وخت تېر شوې دې؟" زيبا ګړی ته وکتل، "نيمه ګينټه کيږي، خو په موټر کی دی د ګلوکوز څښلو په وخت راسره خبرې وکړې، او پخپلو پښو دی کوټې ته راغلې، بيا لکه چې سر دربандی دروند شو." طارق پخپل زهن ډېر زور راوړو چې راياد کړي خو څو شېبو له يې بيا په سترګو تياره شوه. د زيبا خبرې يې د ليرې نه اوريدې، "بي پي (بلډ پريشر) دې ډيرټيټ دی او که واې نو هسپتال ته به دی بوځو." طارق خپل ټول توان يو ځاې کړو او وې ويل " نه نه، زه ښه يم، ګرمي مې شوی وه." يو څو نورکسان کوټې ته رادننه شول، پلار يې ګل رحمان ته وويل،" په اصل کی ګرمي ډېره شوه، دا ماشومان مې د سوات د هوا عادت دي نو لږه ګرمي هم ورته ډېره شي." ګل رحمان څه وويل خو طارق پری پوهه نشو. زيبا ورسره لګيا وه، "د ګلوکوز ډرپ ته حاجت نشته، زه ورله يو څه د

خوراک ورکړم نو ښه به شي." پلار یې وویل، "زه او ته بختور یو ګل رحمانه چې ډاکټران مو په کور پوره دي." بیا د دوی دواړو خبرې ورو ورو له لیرې راتلې او طارق چې سترګې پرانستې نو د کړکۍ له پردې راتلونکې رڼا ته یې پام شو.
دا کوټه یخه او تیاره وه او بره د چت د پکي غږ لکه د مچانو بونګ بونګ کول. یوې وړانګې د نیلا مخملي پردو نه کوټې ته لاره پیدا کړې وه. د نورین وجود ورته ددې وړانګې په شان ښکاره شو. "که هرڅومره دوی وغواړي، زما د دماغو لاره نشي بندولې. زیبا د کوټې نه وتلې وه اود طارق خپل ځان ته پام شو، ګرېوان یې خلاص او په لاس یې ګړۍ نه وه. په کټ یې اړخ واړوو نو وې لیدل چې په وړوکي مېز دده د جېب شیان ایښي وو. مخامخ د الماری د کونډې سره د تازه ګلونو یوه غټه ګېنټه (امپل) " ځوړنده وه. هغه ته وریاد شول چې دا ګېنټه هغه د څو شېبو لپاره په غاړه کړې وه.
ناڅاپه دی په کټ کېناستو. د اشرف خبرې ورته رایادې شوې چې د مینګورې نه یې ټېلیفون کړې و. "مونږ هغه کور ته لاړو، هیڅوک پکی نه اوسېږي، خلک ترینه تللي دي. زمونږ اطلاع دا ده چې صوابۍ ته به ورغلي وي." دی نارامه شو او غوښتل یې چې له دی کوټې وتښتي. د ودریدو په هڅه کی یې پښې ورپیدې او بیا په کټ کښیناستو. زیبا د یو څو جینکو سره کوټې ته راغله چې د ډوډۍ پټنوس یې نیولې و.

په بل سهار کورکی خاموشي وه ځکه ټولو د شپې تر ناوخته موسيقي آوريده او جينکو په هندي سندرو نڅاوې کولې. يوې خدمت ګارې لس بجې په کوټو کی سر دننه کړو خو څوک يې ويښ نه ليدل. طارق د سهار نمانځه نه وروسته په موټر کی له کوره وتلې اوزيبا ته يې پيغام پريښې و چې دی د خپل ملګري شفيق ليدو ته ځي. ورو ورو په غسل خانو کی د اوبو شړهار او د ټټی د فلش غږ سره د کورغړي راويښېدل او د ځانونو د جوړولو نه وروسته يو يو په هغې لوې کوټې کی دستر خوان چاپيره راټول شول چې ورباندی د چايو لوښي پراته و. د طارق مور او نورو سپين سرو د وختـه ناشته کړی وه او اوس د نورو سره بيا په خواړو اخته وې. د تنور تازه روغني او پراټې، ډبل روټۍ، اګۍ، مربې او د پيروي ډکې کاسې تشې شوې. د امينې ماشومان لا اوده وو خو دې ځان جوړکړې د کوټې په منځ کې په زوره زوره خبرې کولې. زيبا تر اوسه په غسل خانه کی وه او بابي په يو پټنوس کی خالد ته چاې يوړې خو شيبه وروسته بيرته راغله ځکه هغه بهر حجری ته تللې و. يوی خدمت ګاری د طارق مور نه د غرمې د ډوډۍ پوښتنه کوله او هغې ورته اشاره وکړه چې صبر وکړي. کله چې زيبا راغله نو په لاس کی يې د چايو مګ نيولې و. ټولو ته د سلام نه وروسته يې وويل، " تاسو ولې ما ته په انتظار يئ؟ د کوټې په منځ کی دوه لوی بکسونه چې ورباندی سری او نيلا بنارسۍ غوړيدلې وی پراته و. د طارق

مور خپلې بټوې نه کنجیانې راوویستې چې د مریو زنځیر کی پیئلي وی. په سپین سرو کی یوی په زوره وویل، "د جینۍ د کور سلیقه ددی بکسونو او ددی کنجیانو نه ښکاري." د مور سترګی په دی خبره وځلیدې. امینې کنجیانې واخستې او زیبا ته یې وویل، "اجازت راکړه" زیبا له چایو ګوټ کړی و او په تادۍ کی یې د خبرو هڅه وکړه چې ستونې کی یې چاې بندی شوی. هغې په زوره وټوخل او سپین سرو"بسم الله" وویل. امینې د یو بکس نه سر پرانستو اوهر څه یې تری راوویستل. د طارق لپاره دري جوړه د کمیس پرتوګ کپړه، یوه د سوټ (کوټ او پټلون) ټوټه، ورسره شپږ کمیسونه، هم هغه هومره نکټایانې، جرابې، رومالونه، د عطر بوتلونه، د ږیرې خرېلو د بجلۍ مشین او د ځرمنې په یو ډبي کی رنګا رنګ کریمونو او د لوشنو ټیوبونه وو. په یو ډبي کی د بوټانو او په بل کی د پیښوري څپلیوجوړه ایښي وه. هر چا د یویو شي معاینه وکړه او بیا به یې بل ته ورکړو. خپله تبصره به یې پرې وکړه، " امبارک شه، دا د جامو ټوټه ډیره ښه ده، چې دا د سوټ کپړه به یې د کوم ځاې نه اخشتې وي، ما ته خو د بهرملک ښکاري، ته وګوره، د هر کمیس رنګ بېل دی، دا د پټلون پیټۍ څومره ښه ډبي کی یې ایښې دې." امینې ټولو ته د بهر ملکونو د شیانو نومونه ښودل او دا چې هر څه څومره ګران و. بیا دا هر څه بیرته په بکس کی بند کړی شول او زیبا یوی جینۍ ته اشاره

وکړه چې د کوټې بل سرکی یې کیږدي.  بل بکس د ښځو او د سړو د رنګا رنګ جامو نه ډک و.  د سړو لپاره ساده کمیس پرتوګ توټې په صفا پلاسټیک کی تاو شوي  او ورباندی په یو لیبل د طارق د کورنۍ د سړو نومونه و.  مور د خالد جوړه " امبارک شه " سره د بابي په لاس کی ورکړه.  هغې په یوه پیکه خندا، "خدایې دی ایمان نصیب کړه." وویل او جوړه یې ځولۍ کی کیښوده.  امینې په زوره زوره د هر یو لیبل نه نومونه ولوستل او مور ته یې ورکول.  یو وخت د هغې پام شو چې سوما د خوب اوږد نری کمیس اغوستې، راغله ، د مور غیږ کی یې سر کیښودو او د بکس مخې ته سملاسته.  امینې هغه ښکل کړه او ورته یې وویل، "ورشه ابۍ به درته مخ لاسونه ووینځي، نو بیا به ناشته وکړې." سوما په ژړغوني غږ وویل، "زه ناشته نه کوم، ما له په بوتل کی پۍ راکړه."  امینې ورته شش وکړل او په خله یې ګوته کیښوده، "هش، شرم خبره ده لورې ، دا خلک به څه وایي؟ ته خو اوس سکول ته ځې، ببېي خو نه یې چې بوتل غواړې."  سوما د مور د لوپټې پیڅکې نیولې و او هغه یې په ګوتو کی مروړلو.  یو چا غږ وکړو چې نور په بکس کی څه دي؟  امینې سر پورته کړو او د بکس نه یې د ښځو جوړی راوویستلې.  د هغې او د زیبا لپاره د بنارس د جوړو سره شالونه هم وو.  د بابي په وریښمینه جوړه کار شوی و او کله چې یې د پلاسټیک نه رابهر کړه نو په کوټه کی پړک پړوک شو.

www.safiahaleem.com

یو واری بیا د امبارک او سلامت شور شو. ځوانو جینکو په زوره خندل. هیچا نه لیدل چې سوما ورو غوندی د مور له غیږې پاسیده او د کوټې نه ووتله. بهر په لوی انګڼ کی تک سور نمر و. هغه مخامخ د پخلنځي خوا ته روانه شوه خو چې پښی یې د خښتو په فرش کیښودی نو ژر یې د برنډې سیوري ته منډه کړه. هم دغسې په سیوري یبله پښې، دا د برنډې سره سره د کوټو مخې نه تیره شوه.
په هغه لوی پخلنځي کی ګڼه ګوڼه وه چې دروازه یې شا ته په یو وړوکي انګن کی پرانستې وه. هلته په کټونو جینکۍ ناستې وې، چا سبزي پریکوله او چا پیاز او اوږه سپینول. په یو کټ د پلاسټکو څادر غوړیدلې و او وربانډې وینځل شوي لوښي انبار وو. سوما اخوا دیخوا وکتل او بیا یې د ابۍ لمنه ونیوله. هغه په خولو کی ډوبه د انغري سره ولاړه وه او په یو لوی دیګ کی یې د مسالې اندازه سموله. سوما یې په یوه چیغه وشړله او هغه له ویرې وریږدیده. یوې ځوانې جینۍ ورته کټ کټ وخاندل، "اې، پرتوګ دی څه شو؟" سوما خپل ځان ته وکتل او وشرمیده، خو بیا یې په زوره وویل، ما ته پۍ راکړه. یوې شوخې میرمنې ځان ته اشاره وکړه او وې ویل، راشه چې تې درکړم." ټولو په زوره وخندل او سوما نوره هم کچه شوه. ابۍ اوس دیګ بلی ښځې ته سپارلې او سوما ته یې وویل، " قربان، پۍ په پیاله کی درکړم؟" سوما سر وخوځاو، نه...بوتل کی راکړه." ابۍ

ورته اشاره وکړه، " ورشه نو خپل بوتل راوړه." د پخلنځي نه بهر د برنډې فرش تود و او سوما چې بهر ووتله نو په پنجو روانه شوه. هغه کوټې ته ورغله چې ځو شيبې وړاندې ترى دا له کټه راپاسيدلې وه. بيا را بهر شوه نو د وروړ د پيو بوتل يې په لاس کى نيولې و. خو ددى لوې برنډې په بل سر هغې يوه تکه سپينه پيشو وليده نو پښه نيولې شوه. پيشو په فرش غزيدلې وه او کله کله يوه پنجه به يې په مخ راښکله. سوما ورو ورو لاړه او د پيشو سره کيناسته. بيا يې لاس اوږدکړو او د هغې په ويښتو يې ووهلو. پيشو سر راتاو کړو نو سوما له يې خوند ورکړو.
دننه ټولو د امينې خبرى اوريدې چې د جامو په اړه په زوره زوره لګيا وه. د طارق د مور لپاره د کشميري وړى ګرمه نسواري جوړه او هم رنګ شال د هندوستان نه راغوښتل شوي وو. د نورو ټولو د جوړو سره لوپټې سوچه د فرانسوي شيفون وې چې تير کال د مديحه مور د حج نه ځان سره راوړې وې. دا خبره زيبا ورسره غوټه کړه. هغه ښځې چې په صوفو ناستې وې سرونه يې وخوځول. يوى وويل، " زه خداې دى د ټولو نصيب کړه چې په اغوستو درباندى زاړه شي." زيبا د بکس په شيانو کله نا کله يو نظر وځغلوو او بيا به د ټولو د ځيرو جاج واخستو. بابي ورته خوشاله نه ښکاريده او د موقع په انتظار وه چې يو ټک ورباندى وکړي خو هغه وخت امينې د خرم ژړا واوريده نو زيبا ته يې وويل، " ورشه

لږ مخ لاسونه پرى وکړه او څه د خوراک ورله ورکړه."
په کوټه کی ناستو ښځو اوس خپل خپل شالونه او لوپټې یو بل ته ښودلې چې د طارق د سخرګنۍ له خوا ورته ډالۍ شوي و. هغه څوک چې نومونه یې لیکلي خو موجود نه وو، د دوی سوغاتونه بیرته په بکس کی کیښودل شو. یوی خدمت ګارې د مټایانو دوه لوې لوې خوانچې راوړې. د امبارک او سلامت په شور کی ټولو ترى یوه یوه دانه واخسته او نور یې د وېش لپاره بهر برنډې تخت ته یوړل. امینې اوس اخوا دیخوا وکتل خو سوما په کوټه کی نه وه. ابۍ ته یې ناره کړه چې سوما ته مخ لاسونه ووینځي. خو سوما اوس د کور په یوه کوټه کې هم نه وه او ټولو یې لټون پیل کړو.

نهم څپرکې

طارق د سوات د مهاجروکیمپ کی د خپل ملګري شفیق سره په یو خیمه کی ناست و. هلته یو داکټر او د هغه معاون مریضان کتل. دوی د کیمپ په رجسټر کی د نورین د پلار او د تره نومونه ولټول خو وې نه موندلو. بیا یې د بې سرپرسته ښځو په نومونو کی د نورین د نوم لټه وکړه او هغی میرمنی نه چې دا دنده یې په غاړه وه، پوښتنې وکړی. هغې ورته وویل، "تاسو خبر یئ چې ډیرخلک په کلو کی د خلکو کورونو کی هم ډیره

دي. کیدیشي ستاسوخپلوان هلته وي. طارق خپل نوم او ټیلفون نمبر هغې میرمنې ته ورکړل چې که نورین په نوم استاده یې وموندله نو ورته خبر ورکړي. تر غرمې دوی څو کیمپونو کی پوښتنې وکړی خو یوه اشنا څیره یې نه موندله. شفیق په لاره کی یو ځاې له موټر ښکته شو او اوس طارق د ډیروخت نه موټر چلوو خو نه پوهیدو چې دی چرته روان و. څو شیبې وړاندې پلار ورته په ټیلیفون کور ته د راتلو ویلي وو.
دده لپاره د غرمې ډوډۍ د ګل رحمان له کوره راغلې وه. د تخت بهۍ کباب او د سر دریاب د مهیانو نه علاوه د پلاو دیګونه او په څو خوانچو کی تازه میوه اود شربت بوتلونه ددوي حجری ته راوړل شول نو ټولو د طارق پوښتنه کوله. ده موټر په لوی سړک تاو کړو او زړه یې و چې هم هغسې سوات ته لاړ شي. د نورین د ټیلیفون نمبر به یې په ورځ کی څو وارې ډایل کړو خو رابطه به یې نه کیده. بیا یې د موټر د ریډیو بټن تاو کړو. د سوات د نوم په آوریدو یې غږ لوړکړو. یو کس لګیا و، " وسله والو کسانو په ۲۴ ساعتو کی درې سکولونه په بارودو الوځولي دي. تیر کال درې سوه سکولونه هم دغسې یې سېزلي و. اته زره استادانو کار د لاڅه ورکړې دې. او اتیا زره ماشومان په کورونو کی کښېناستل." طارق ریډیو بند کړو او په چیغه یې وویل، نورین...نورین...ته چرته یې؟ "

هغه وخت یو موټر دده نه مخکې شو نو وې ولیدل چې په هغې کی شا ته دوه ښځې ناستې وې. د یوې سپین څادر ورته د نورین په شان ښکاره شو. دی هغه موټر پسې روان شو چې ښه مزل وروسته د پیټرولو پمپ سره ودریدو. طارق هم خپل موټر د پیټرولو لپاره ودراو، یو هلک ته یې "لس لیټر" وویل او پخپله یې د موټر بانټ پرانستو. خو دده سترګې په هغه موټر کی ناستو ځوانو جینکو ته وې. هلته نورین نه وه او دده تلوسه ختمه شوه. دی چې موټر کی کیناستو نو ټیلیفون یې وغږیدو. زیبا په کلکه لهجه ورته وویل چې زرکور ته راشه.
په کور کې هر څوک د سوما په لټه وو او امینه د پخلنځي ټولو نوکرانو ته په قهر وه. ابۍ د خبرو هڅه وکړه خو خله یې اوچه وه. د امینې د ماشومانو ساتنه ددې په غاړه وه او لږه شیبه وړاندی چې سوما یې ترټلې وه اوس یې ارمان شو. خرم د زیبا په غیږ کی سپور و او کله کله به یې خور پسې وژړل. نورو امینې ته تسلي ورکوله چې ماشومه به هم هلته وي. ځوانو جینکو د هری کوټې الماری او د کټونو لاندی وکتل، د غسل خانو او د کوټنیو هر ګوټ ولټول شو. څومره چې وخت تیریدو د امینې حالت خرابیدو، ان چې له کوره بهر حجری ته روانه شوه. خالد په هغه وخت ښکنځلو او بدو ردو رادننه شو چې یوه ماشومه څوک نشي سمبالولې. د حجری نه یو څو ځوانان د کور په دریم

پوړ وختل او له بره یې د کور چاپېره وکتل. د یو کس اوبو ټېنکۍ ته پام شو چې په یوه لویه چوتره جوړه وه او د اوسپنې دری پونۍ ورته ختلې وې. هغه بره لاړو نو وې لیدل چې سوما د ټېنکۍ دیوال سره ناسته په ژړا وه. امینې چې واورېدل نو بره یې منډې کړی او په یو ترپ په دوو پونیو یو ځاې وختله. دا چې تر څو دریم پوړ ته رسیده نو یو کس د ټېنکۍ سره ولاړ بل کس د لاس نه سوما په غېږ کی ونیوله. امینې لکه د ټپوس د وزرو خپل لاسونه وربادی واچول او لور یې تری واخسته. بیا هم هلته په زمکه کیناسته او د سوما مخ او سترګي یې ورته ښکل کړی. سوما وویل، "هغه سپینه پیشو رانه وتښتیده، بیا زه په پونو ښکته نشوم کوزیدې او بیا ما ژړل." امینې د هغې ویښته سم کړل او راپاسیده. ښکته ټولو ابۍ ته امبارکي ورکوله. یو چا سپیلني لوګې کړي وو او په تولو یې ګرځول. د طارق مور یوې خدمت ګارې ته پیسې ورکولې چې د صدقې لپاره هم هغه شیبه تورچیلې راوړل شي. امینه د سوما سره غسل خانې ته لاړه او زیبا د طارق موبایل نمبر یو واری بیا ډایل کړو. طارق موټر بیرته مردان لوري ته تاو کړو او یو ساعت وروسته چې د کور مخې ته یې ودراو نو هلته یې د خیرات وړونکو ګڼه ولیده. ده یو شیبه پخپل زهن زور راوړو چې دوی به ولې راټول شوي وي. پرون د کویژدنې د دود نه وړاندی لوی خیرات شوی و، خو اوس بیا خلک راټول وو. ده په حجره کی ټولو سره

روغبړ وکړو اودومره ډیره ډوډۍ چې یې ولیده نو سترګو ته یې د سوات مهاجر ماشومان ودریدل. د کیمپ په لاره هغه سپین ږیرې چې د یو ماشوم هلک سره ناست و، دواړو د تناره سپوره ډوډۍ د اوبو سره خوړه.

دده په لیدو پلار ورته وویل، "مونږ ډوډۍ شروع کوو، ځان تازه کړه او راځه. "

په کور کی دده په لیدو ټولو غوښتل چې د سوما د ورکیدو کیسه ورته وکړي. خو زیبا منع کړل. بیا یې وپوښتل، "طبیعت دی څنګه دی؟" طارق ویزاره وویل، "ژوندی یم ؟" د زیبا مخ ځوړند شو او په قهر یې ورته وویل، "کله خو په سمه خله خبره وکړه، دا ټول میلمانه به څه واي؟ ما غوښتل چې بې پې دی وګورم، پرون ښه نه وې...طارق په ورو غږ وویل، "ستا ډاکټري مې نه ده پکار، یواځې مې پریږدۀ." زیبا نور څه ویل غوښته خو طارق په تیزو قدمونو خپلې کوټې ته تللې او دروازه یې ځان پسې بنده کړی وه.

په هغه ماښام عمران د اسلام اباد نه راغلو او ماشومان او امینه یې پیښور ته بوتلل. انۍ د نمسو په لیدو خوشاله شوه او خرم د مخې سره د سوما د ورکیدو خبر ټولو ته ورکړو. رابیا د امینې نه داسی پوښتنې پیل کړی چې هغه پری ناارامه شوه. دا څه وخت و؟ تا هغه وخت څه کول؟ خور دی چرته وه؟ امینې ډیر په صبر د هری پوښتنې ځواب ورکوو. خو هغه د شهناز په مخ اطمینان

www.safiahaleem.com

او د سترګو خوشالي ته وځوريده. داسی لکه چې څوک د دښمن په مرګ خوشاله وي.
عمران د شپې په ډوډۍ اعلان وکړو چې ده ته په اسلام اباد کی د اوسېدو امر شوې دې او خپلې اداري ورته په سخته وېلي و چې تر هغې سوات ته به نه ځي، تر څو جنګ نه وي ختم شوې. امينې د طارق د کويږدنې نه وړاندی د پيښور په دی کور کی تل د بجلۍ، د ګرمۍ او د مياشو شکايتونه کول. اوس اسلام آباد کې د اوسېدو په خبر ددې زړه ارامه شو. په بله ورځ هغې د ځان سره راوړي جوړې، سوغاتونه او مټاياڼې انۍ او رابيا مخې ته کيښودل نو سره له دی چې ګرمي ډيره او بجلي نه وه، ددی خبری بل ډول وې. شهناز ځان ته ببوزې وهلو او چې امينې ورته جوړه په لاس کی ورکړه نو د هغې لاس ودريدو. څو شيبې وريښمين ټوکر يې په لاس کی تاو راتاو کړو او بيا يې وويل، " داسې جوړې د صدر په مارکيټ کی مې ليدلې وې. امينه غلې وه خو د يور له خوا بل ګوزار ته يې ځان تيار کړو. رابيا خپله جوړه وليده او وې ويل، " جوړه ښه ده خو رنګ يې زما خوښ نه دی، که نه ګنډلې به مې وای." امينې وويل، "ولې ببو، دا رنګ خو به درسره ډير ښه ښکاري، پيکه کاسني رنګ دې، د اوړي لپاره خوند کوي." رابيا په جوړه لاس ووهلو، "که نزدې ورځو کی د چا واده و نو او به يې ګنډم. " انۍ خپله جوړه په پلاسټک کی تاوکړه او وې ويل، "خدای دی بختورکړي، امينې، مور ته يو ځلې بيا

www.safirahateem.com

زما له خوا امبارکي وواې، پرون خو داسې په تادۍ راووتلو." امينې د کويژدنې د مټاي رکيبۍ ټولو ته وار په وار ونيوله خو انۍ اوس ملاسته وه او د لاس په اشاره يې ورته انکار وکړو. شهناز د زير لډو نه چک ووهلو او وې ويل، "د نراله مټاي ته نشي رسيدی." امينې نورې جامې راټولې کړې او وې ويل، "د نراله خلک يوه هفته د جينۍ په کورکې ناست و او درې منه دا سپيشل مټاي يې ورته جوړه کړې ده، چې ته يې خورې." شهناز کچه شوه، "څه ووايم، مونږ خو هر وخت په صدر کې د نراله مټاي راوړو، خو داسې خوند يې نه وي." شهناز په پاسيدو کې وويل، آو نو، په دکان کې خو هره بلا خرڅيږي، خود به يې خوند بل شان وي." شهنازغلې شوه نو رابيا وويل، درې منه مټاي خو ډېر شې دی، يو سل او شل سيره مټاي!!! د ګل رحمان زمکې به ډيرې وي نو...شهناز وويل، درې منه خو هيڅ شې نه دی، ببو، زما د ماما واده و، نو خاص د لاهور نه يې ورته حلواي راغوښتې و چې يوه مياشت يې مټاي جوړوله، مور مې وايي، تر ډيره موده خلکو سهار د چايو سره نور څه نه خوړل." انۍ له خندا ورغله او شهناز ته يې وويل، "لږې اوبه خو را کړه." دا چې له کوټې ووتله نو انۍ په ورو غږ رابيا ته وويل، "ددی دواړو به څه جوړيږي؟" رابيا ببوزې راواخستو او وې ويل، "پخپلو کورونو کې ښې وي، اوس لکه د سپې او د پيشو په يو بل غوټې وهي."

طارق د پيښور پوهنتون په لويه دروازه موټر تاو کړو او څو شيبې وروسته د ښځو د يو هاسټل (ليليه) مخې ته يې ودراو. په دروازه ولاړ څوکيدار ته يې خپل کارډ ورکړواو" ياسمين ملک" ته يې د رسولو وويل. بيا دی ګيټ ته مخامخ د سړک نه پورې غاړی ته د يوې ونې لاندی ودريدو. په دروازه کې جوړ د يوې خلاصې کړکۍ نه يې وليدل چې خاله راغله او بيا بيرته ولاړه. ددی ودانۍ د سرو خښتو ديوالونه لوړ و او وربانديې د سرو ګلونو څيلۍ پرتې وې. د ديوال سره ځای ځای پر زمکه ددی سرو ګلونو ډيرۍ وی چې ځينې يې مړاوي او نورتازه ښکاريدل. کله کله به په دی خوشې سړک يو موټر تير شو نو سکوت به پرې مات شو. يوه رکشه د ګيټ مخ ته ودريده او تری دوه جينکۍ راښکته شوی. دوی لوی لوی کسوړې تری راکوزولې او يوې پکی رکشه واله ته پيسې ورکړی. څو شيبې د پيسو په سرناندرۍ وې خو جينۍ په زوره څه وويل نو رکشه واله سر وخوځوو او روان شو. بلې جينۍ يوه يوه کسوړه دننه کړه او څوکيدار ورسره د بار په وړلو کی لاس وکړو. دوی چې دننه لاړی نو څوکيدار طارق ته څو شيبې ځير و، دده چې ورته پام شو نو د خپل ټوپک کونداخ يې په لاسونو کی ومروړلو. طارق له دروازی اخوا د قدمونو ښکالو واوريده او په هيله منو سترګو يې وکتل. يوی خاله دده نوم واخستو او څوکيدار ورته کړکۍ نه دننه د ورتلو اشاره وکړه. د ګيټ سره جوخته

www.safiahaleem.com

یوه وړه کوټه وه چې پکی د میلمنو نومونه لیکلي و. یاسمین ده ته سترې مشي وویل او بیا یې په رجسټر کی دده نوم او د راتګ وخت ولیکل. دوی د اوسپنې د یو میز چاپیره ایښی په کرسیو کښیناستل. یاسمین ورسره څو خبری وکړی، حال احوال، روغ جوړ، مور پلار، سوات، ګرمي...او طارق لکه د مشین ورته ځوابونه ورکول. دی په انتظار و چې دا به کله د نورین نوم اخلي خو هغې هیڅ وونه ویل. یو څو شیبې د دواړو تر منځ خبری خلاصې شوې او یوه نا ارامه خاموشي خپره شوه چې پکی دوی له یو بل سترګي اخوا دیخوا اړولې. اخر طارق په مړاوي غږ پوښتنه وکړه، "نورین څه شوه؟"

د یاسمین مخ سور شو خو په ارام یې وویل، "دا تپوس زه تا نه کووم چې هغه په سوات کی وه او ته یې په پیښور کی ولې لټوې؟ طارق د هغې سترګو ته وکتل، "په جنګ کی زیات خلک راووتل، ما د صوابۍ او مردان هغه ټول کیمپونه وکتل چې مهاجر پکی پراته دي، د هغې هیڅ درک نشته." یاسمین ورته یو څه په همدردۍ وویل، "ډیر افسوس دی، دلته پیښور ته هم ځینی خلک راغلي دي...په کچه ګړۍ کی..." طارق د هغې خبره پریکړه، " دلته کې می هم پوښتنه وکړه." یاسمین سرښا ته وغورځوو، "نوستا خیال دی چې نورین به دلته ما سره وي؟" طارق د هغې په لهجه کی توندي احساس کړه، " نه...نه...خو ما ویل، کیدیشي، تا سره یې رابطه

www.safiahaleem.com

شوی وي، د هغې موبایل ټیلیفون بند دی." یاسمین په حیرانۍ وویل، " موبایل؟ زه نه وم خبره چې هغی سره موبایل هم و." طارق په غمژنه لهجه وویل، "ما ورله ورکړی و، بیا زه مردان ته لاړم او..." او نورین ورکه شوه." یاسمین د هغه جمله پوره کړه او لاسونو ته یې ټک ورکړو. "ستاسو په دریو موټرو کی هغی کم بختې د باغبان لورځاې نه و چې مردان ته مو راوستې وای؟" د طارق سترګې لمدی شوې او شونډې یې په غاښونو وچیچل. "دا یوه ګناه را نه شوی ده، د خداې لپاره په زخمونو می مالګه مه دوړوه، که د نورین نه خبره یې نوحال راکړه."

یاسمین سترګې ښکته کړې او شیبه په سوچ کی وه. بیا لکه چې قاضي په عدالت کی مجرم ته د سزا اعلان کوي، "نورین پسې مونږ ټول وګرځیدو، زما تروررزې په پوځ کی دې، هغه ته مې وویل، خو تر اوسه یې درک نشته. دومره مې باور دی چې هغه به ژوندۍ وي او یوه ورځ به راسره رابطه وکړي." طارق د خپل جیب نه یو کارډ را وویستواو یاسمین ته یې په میز کیښودو، " په دی زما دری واړه د موبایل نمبرې لیکلي دي. دا یونمبر بل هیچا سره نشته او یواځې نورین ته مې ورکړې و. دا ټیلیفون هر وختې راسره وي، که تکلیف نه وي نو... یاسمین کارډ واخستو او پوښتنه یې وکړه، "د ډوډۍ وخت نږدې دې، که ایساریږې نو دننه د میلمنو ځاې ته به لاړ شو. طارق ګړۍ ته وکتل، راپاسیدو او د

www.safiahaleem.com

لوی دروازې ته په تلو کی یې ویل "نه زه ورځم، د خداې په امان."
طارق د مهاجرو د کیمپ نه لږ وړاندی یو چا ته ټیلیفون وکړو او بیا یې موټر یو ځاې ودروو. لږ وروسته یو سپین ویګن رابښکاره شو چې ډریور ورته د لاس په اشاره د راتلو وویل. هغه ویګن پسې ورو ورو روان شو. په یو ځاې کی د یو. این دفتر و او ورسره د لوې څپر لاندی هم هغسې څو سپین ګاډي ولاړ وو. ده خپل موټر یوې ډډی ته ودراو او چې ښکته شو نو د ویګن نه یو کس دده لوري ته راغلو او لاس یې وړاندی کړو. تر ډیره وخته دوی خبری کولې او بیا دننه دفتر ته ولاړل. طارق تر ماځیګر هم هلته ناست و او په یو کمپیوټر کی یې د خلکو نومونه کتل. د نورین په نوم به څو شیبې ودریدو خو بیا به یې لټون پیل کړو. د چایو یوه پیاله چې له غرمې ورته ایښې وه، هم هغسې پرته وه. کوز ماځیګر ده کمپیوټر بند کړواو د خپل ملګري نه یې رخصت واخستو. د کیمپ په لاره یو سړي ورته لاس وخوځوو نو ده د موټر رفتار ورو کړو. د هغه څیره ورته اشنا ښکاریده. دی د موټر شیشې ته ورنږدې شو او په زوره یې سلام وکړو. طارق ځواب ورکړو او وې پیژندلو. زیارت ګل ددوی پر زمکو کار کوو او یو وخت د علاج لپاره طارق ورسره مرسته کړې وه. ناڅاپه طارق ته یو هیله پیدا شوه. هغه یې موټر کی کښینولو او پوښتنې یې پیل کړی. زیارت ګل خپله کورنۍ لومړی

ویستې وه خو بیرته زمکو ته تللې او تر وروستیو شیبو په سوات کی پاتې و. د تود جنګ په وخت دی ډیر په ګرانه د نورو لارو نه پېښور ته راغلې و. " ډاکټر صیب، غنم مې تیار وو او لاو ته یو څو ورځې پاتې وې چې دوی راباندی ډزې وکړی." طارق تری د نورو کروندګرو پوښتنه وکړه. زیارت ګل پخپله ږیره لاس ووهلو او وې ویل، "دین محمد ما نه هم وروسته راغلې دی او د هغه له خلې خبر شوم چې بابا پسې څوک راغلي وو او کراچۍ ته یې بوتلو." طارق د حیات اباد په سړک ګاډي تاوولو کی وویل، " تاسو سره د ګومبټ خلک څه شول؟ زیارت ګل په جوش کی وویل، " ټول وتلي دي، یو هم وروسته نه و پاتي، تش مال مو پریښودو چې پوځیانو راته اجازت نه راکوله. زه د کولبې غوایانو ته په تلوسه وم، اخر مې پریښودل، ډاکټر صیب، څوک به باور نه کوي، ما ورته ښه ډیر واښه او ونډه په غوجل کی کیښودل، بې زبانه مال و. کله چې تری راتلم نو د یو غویي د سترګو نه اوښکې روانې وې. خداې خبر په څه حال به وي؟" طارق موټر کچه ګړۍ ته تاوکړو او د زیارت ګل ته یې څو روپۍ ورکړې. بیا په یو کاغذ خپل د ټیلیفون نمبر ولیکلواو هغه ته یې په لاس کیښودو، " هر وختې چې سوات ته تلې، ما خبرکړې، یو څه کارونه مې دي." زیارت ګل په خوشاله غږ وویل، " ډاکتر صیب، هر امر چې راته وکړې، تر

خپل وس به يې پوراکوو." طارق ورسره خداې په اماني وکړه او يو واری بيا لوی سړک ته راووتلو.
پخپله حجره کې گل رحمان د ناستو کسانو سره په ټيليويژن خبرونه کتل. "حکومت وايی چې د سوات نه يې ټول اورپکي شړلي دي او پوځي آپريشن يې کامیابه وو. خو عامو خلکو ته لا هم اجازت نشته چې بيرته لاړ شي. د اوس لپاره به يواځې ژورنالستان هلته تلی شي."
د موبايل ټلی وغږيده او يو کس گل رحمان ته ټيليفون په لاس کی ورکړو، چې بلی غاړی ته د طارق پلار ورسره خبری غوښتې. د ده د لاس په اشاره چا د ټيليويژن غږ ورو کړو. دی څو شيبې د خبرونو په اړه لگيا و، د خلکو د زمکو او د کروندو، د مال او ناموس خبری يې کولې. په اخر کی يې ورته وويل، "زه به په کور کی ټولو سره صلاح وکړم، د روژو نه وروسته به موسم ښه وي. دا ځلې مې د دويم حج پروگرام دې. غواړم دا فرض پوراکړم نو بې غمه به حج وکړم." بيا يې څو نوری خبری وکړی او ټيليفون يې بيرته زوی ته ورکړو او د ټيليويژن د غږ لوړولو ته يې اشاره وکړه.
طارق چې ماښام د امينې کور ته ولاړو نو ټول ماشومان تری چاپيره شول. هر چا ورته د ويلو لپاره څه لرل او خرم هيڅوک خبرو ته نه پريښودل. ابۍ او رابيا ورته څو واری د کويژدنې امبارکي وويله او شهناز تری د واده پوښتنه کوله. " گوره چې په سخت ژمي کی يې ونکړې، زمونږ جامې د وريښمو دي." طارق يوه پيکه

خندا وکړه او مخ يې واړاو. خرم دده په غيږ کې کښيناستو، "ماما، ژه او ته به شوات ته ژو، شوما او شالا به نه لاژي." طارق ورته په لنډو ويښتو کې گوتې ووهلې، "ولې، خويندې به هم راسره ځي، که نه بيا به وريسې ژاړې." خرم سر شا ته وغورځوو، "ماما، مونږ به کال (ښکار) ته ژو او ترينه تپور (کرينه کپور) به راسره وي او تترينه تيف (کترينه کيف) به راسره وي." ټولو په زوره وخاندل نوطارق ورته وويل، ښه ته ووايه، "کوکا کولا" خرم زر وويل، "توتا تولا" ټولو بيا وخاندل نوده په زوره وويل، "تپ شئ ( چپ شئ) گني توپک لاولم دلپشې." امينې د چايو د لوښو پتنوس دننه په راوړو کې وويل، "يو دده ټوپک لا پاتې و." شهناز د پلاسټکو يو څادر په قالين وغوړاو او ټول چايو ته کښيناستل. ماشومانو په انگڼ کې غوبل جوړ کړې و او طارق په غسل خانه کې د ټولې ورځې دوړې او خاورې له مخ وينځلې.

په بل دی سهارد برنډې په لوې ميز چايو ته ناست و چې د کور ټيليفون وغرېدو، سوما، خرم او شهلا دريو واړوو منډې کړی او يو بل نه يې د ټيليفون غوږۍ راښکله. امينه لاړه او ټول يې د تيليفون نه وشړل. بيا يې زيبا سره خبری وکړی. شهناز دننه او بهرکښده او ټول پام يې د امينې خبرو ته و. خو امينې خپلې خبری لنډې کړی او ټيليفون يې بند کړو. هغې نه غوښتل چې طارق ته څه ووايی او د ماشومانو د ډوډۍ او اگيو پاته

www.safiahaleem.com

شونې يې په يو پليټ کې راټول کړل. طارق ورته وکتل نو پوه شو چې امينه څه ويل غواړي خو په انتظار وه چې دی چاې ووڅښي. طارق په يو ګوټ د خپل مګ چاې خلاصې کړې او امينې ته يې وويل، "زيبا څه ويل؟ امينې د شهناز کوټې ته وکتل او په ورو غږ يې وويل،" په خالد بيا دوره راغلې وه، د شپې يې چغې وهلې او ډېر په ګرانه يې ورته ستنه ولګوله." طارق راپاسيدو او د کميس د ترخ په جيب کې د موټر چابي يې ولټوله، په زوره يې سلام وکړو او له کوره ووتلو.

شهناز د خپلې کوټې نه راووتله او په زوره يې وويل چې ټول يې واوري، "طارق لاړو؟" دننه انۍ او رابيا ورباندې غرض ونکړو، ماشومان اوس هغه کمپيوټر ته چاپيره ناست وو چې عمران د دوی د لوبو لپاره ورته ورکړې و. سوما غوښتل چې د "سواستو" تصويرونه ټولو ته ووښاي، خرم او شهلا پرې سندرې غوښتلې او شور دومره و چې د شهناز غږ چا نه اوريدو. امينې ورته ځواب ورکړو، "آو، د سوات د کور نه ميرزا راغلی دی او وايي چې يو ديوال په ډزو سورې شوې دې، خو څوک زخمي نه دي، خداې خېر وکړو."

مردان ته په رسيدو، طارق لا د حجرې په دروازه نه وو ردننه شوې چې د پلار په لوړ غږ پښه نيولې شو. "تاسو ته مې څو ځلې دا خبره ياده کړه چې هيڅوک به کور ته نه پريږدئ، دا وختونه وګوره، حالات وګوره او ستاسو دا خاني!!! هلکه په پردي حلوه خپلو مړو ته لاس

اوچتوئ؟"  بل غږ تېيت و او طارق په خبره پوهه نشو. پلار يې بيا په چيغه وويل، "هغه کور مونږ تاسو ته ځکه پريښې و چې راسره په يو اخور لوې شوئ،  درته مې ويلي و چې د برندې نه اخوا په ورځ کی يوځلې چکر وهئ.  ددی لپاره چې پيشو ميشو نه وي ورننوتې، نور خو ستاسو  هلته څه کار نه و. د ډوډۍ خوراک لپاره ډکه خومبه مو در پريښې ده او نور خو ستاسو خپل ځاې و کنه، ولې مو دا خلک هلته نه ايسارول؟"  طارق د سوات د ميرزا غږ واوريدو چې ده ته يې شا وه، "خان، په ځداې، مونږ ورته وويل چې په کور کی څوک نشته، تاسو بل چرته لاړ شئ، خو تور سری ورسره وې نوما ورته وړه کوټه خلاصه کړه چې دوی غريبان به اوس په دی ډزوکی چرته ځي، هغه سړی هډو کوټې ته تللې نه دې، هم هلته بهر په زمکه دروازې مخې ته ناست و، شپه يخه وه نو يو کمبل مې ورله ورکړو. دا وخت خو په هر چا راتلی شي، ما ويل خداې خبر څه آفت پری راغلې دی چې زنانه يې..." طارق اوس لږ نور وړاندی شو چې پوره خبره واوري. ده وليدل چې پلار يې په کرسۍ ناست و او مخ ته دوه دری کسان ورته لاس په نامه ولاړ وو.

ميرزا ددوي پخوانی منشي و او په دی حالت کی يې چری نه و ليدلې. د خپل پلارغږ يې لږ نرم احساس کړو. "چاې ډوډۍ مو ورله ورکړل؟"  د ميرزا په غږ کی اوس باور و، "او صيب، څه چې مو ځان له پخ کړي

www.safiahaleem.com

وو، ورله ورکړل، خو دوی په بل سهار ووتل." پلار یې هغه شیبه طارق ته مخ واړو او په زوره یې وویل، "کله خو سړی په هوجره کی هم کښیني، زه به تر کومې هر څه درته کوم؟" ده په لاس کی نیولي د داروګانو خړه کاغذي خلته پلار ته وښودله چې د خالد لپاره یې د پیښور نه ځان سره راوړي وو. بیا یې میرزا ته ستړي مشي وویل او پوښتنه وکړه، "په سوات کی څه حال دی؟ میرزا دده پلار ته وکتل نو وې ویل، "خیریت دې، زه به درته وروسته ټوله کیسه وکړم." پلار یې میرزا ته وویل، " ستا څومره پیسې پکارې دي؟ هغه زرخپل زوړ بیګ نه یوه کاپي راویستله او ورباندې لیکلي حسابونه یې پر میز ورته کیښودل."
طارق د ورور د وینې فشار ولیدو، بیا یې یوه ستنه ورته ولګوله او د بابي نه یې ټول حال واوریدو. خالد یو چا سره په هوجره کی د سوات په حالاتو نانډری وهلې وې او د شپې یې په کور کې وربانډې چپه راغلې وه.
طارق د ورور له کوټې بهر راووتلو نو په کور کی خاموشي وه. په پخلنځي کی څو ښځی په ټیټ غږ لګیا وې، کارونه یې کول. دده ګرمي وشوه او غوښتل یې چې ولامبي. په هغه شیبه پلار یې کور ته رادننه شو، "د مورکوټې ته راځه چې هم هلته کینو، بهر ګرمي ده."
طارق یو څه ویل غوښته خو بیا یې سر ښکته کړو او په مړو قدمونو کوټې ته روان شو. طارق پلار ته څو واری بیا دا خبره یاده کړه چې خلک اوس سوات ته تګ

راتگ کولې شي او دی نور د خپل کلينک نه ليرې نشي پاتې کيدې. دده سره نور ډاکټران بيرته تللي و او ورته يې خبر ورکړو چې ژوند اوس په نارمل کيدو و. خو پلار ورته د واده د نيټې خبره وکړه چې ده د گل رحمان سره ټاکلې وه.

لسم څپرکی

طارق د ډير وخت نه د کراچي يو نمبر ډايل کوو خو هر واری دا مصروفه و. دده صبر تمام شو نو آپريټر ته يې وويل او څو شيبې وروسته يې ورته خبر ورکړو چې داسی ښکاري د ټيليفون غوږوزې چا غلط ايښې دې ځکه د مصروف غږ راځي. ده هر څو شيبو کی يو واری بيا نمبر ډايل کړو او بيا به په نورو کارونو بوخت شو. دی اوس د خپلې بيکاری نه دومره ويزاره شو چې هر سهار به نږدې مهاجر کيمپ ته ورغلو او د نورو رضارکار ډاکټرانو سره به يې مريضان کتل. طارق څو شيبو له د هغې خيمې نه بهر راوتلو چې پکې ددوی کتنځې و. جوخت د داروگانو خيمې ته مخامخ د خلکو اوږد قطارجوړ و. طارق اوس د خيمې نه بهر يو خوا بل خوا قدم وهلو. څوکسان چې د ډاکټر په انتظار يو څيرلاندې په زمکه غوړيدلې ټغر ناست وو، ده ته يې سترگې نيولې وې. دی يواځينې کس و چې په تک سور نمرکی ولاړ و.

www.sattahateen.com

طارق يوځل بيا د کراچۍ نمبر ووهلو او په دويم زنگ يوسړي تيليفون واخستو. طارق ورته خپل ځان وپيژندلو او بيا يې وويل،" ستاسو په ګاونډ کی د حضرت ګل کور دی، که تکليف نه وي نو هلته خبر ورکړئ چې زه د بابا سره خبری کول غواړم." سړی يو څه په قهر معلوميدو خو ده ته يې وويل، "په کور کی بل څوک نشته چې هلته ورشي، تاسو شيبه وروسته بيا ټيليفون وکړئ نو ما به ورته ستاسو پيغام رسولې وي." طارق بې صبره شواو زر يې وويل، "خيردی وروره، زه به انتظار وکړم، ډيره ضروري خبره ده، يو څوک ناروغه دي." بلې غاړې ته د سړي غږ ناڅاپه بدل شو، ده ته يې د انتظار وويل. د هغه غږ له ليرې راتلو چې يو چا ته يې د حضرت ګل کور ته د ورتلو لپاره چغې وهلې.
طارق د کتنځي خيمې ته سر دننه کړو او يو ډاکټر ته يې وويل، "زه ټيليفون کوم، لس مينټه کی به راشم. د خيمې نه وراخوا يو خوشی ميدان کې سپين ګاډي ولاړ وو.
دی ورو ورو د ګاډو له مينځه تير شو او يوې ډډې ونې سره ودريدو. دده لپاره يوه شيبه اوس په يوه ورځ بدله شوی وه او سوچ يې کوو چې د نورين په اړه خبر به څنګه اوري. بيګا ناوخته ميرزا ورته ويلي وو، "د کراچۍ نه يو کس ټيليفون کړی و او دا نمبر يې راکړی دې، چې ډاکټر طارق ته يې ورکړه. دوی د بابا په ګاونډ کی اوسيږي." د طارق د وجود ټوله وينه سر ته لاړه. " کله يې ټيليفون کړی و؟ ميرزا وويل، ډيرې

ورځې کیږي، هغه وخت ستاسو د کور ټیلیفون کار کوو، بیا وروسته هر څه بند شول، خو ما دی پلار یا بل چا ته څکه خبره ونکړه چې هسې نه مشرخان په قهر شي.
موقع راته ملاو نشوه." وروستۍ خبرې په وخت د میرزا غږ نور هم ټیټ شو. طارق ترې د کاغذ یوه ټوټه واخیسته او شپه ډیره تیره وه نو ټیلیفون ونکړو. بیا کرۍ شپه یې خوب ونکړی شو. اوس ده خپلې ګړۍ ته وکتل چې زنځیر یې سست شوی و. د تندي د خولې پاکولو لپاره ده خپل لاس اوچت کړو نو د ګړۍ په ځای کی یې خپل سپین پوټکي ته پام شو. د ګړۍ نښه پری جوړه شوی وه. ده سوچ کوو، اوس که نورین وای نو څومره به یې خندلې وای. ده خپل موبایل د غوږ سره دومره کلک نیولې و چې د ویښتو خوله یې په ټیلیفون احساس کړه. زړه یې و چې دا په رومال پاک کړي، خو بیا یې سوچ وکړو. " که په دی وخت کی چا ورسره خبری وکړی او دده غږ یې واونه ریدو نو ټیلیفون به بند کړي. بیا خدای خبر رابطه کیږي او که نه؟"
ده په ټیلیفون کی د بابا ټوخې واوریدو نو زړه یې په ټوپونو شو. د سلام دعا نه وروسته طارق د نورین پوښتنه وکړه. بابا ورته ډاډ ورکړو چې هغې پسې تره راغلې و او د ځان سره یې کلي ته بوتله. طارق پوښتنه وکړه، "هلته خطره نه وه؟" بابا وویل، "ما سره هم دا سودا وه، خو تره یې وویل چې جنګ بند شوی او ړیرو واله تښتیدلي دي." طارق دده نه نوری پوښتنې وکړی

چې دی په کومو حالاتو کی کراچۍ ته تللې و خو په بابا د ټوخې دوره راغله او نوری خبرې یې نشوې کولې.
څو شیبې وروسته چې لږ ارامه شو نو طارق پوښتنه وکړه. " ستاسو په کور کی که چا سره موبایل نمبر وي نو راته راکړه." بابا وویل، "هغه مشري زوې مې هم دا پرون د کور لپاره یو موبیل اخشتې دی." بیا یې چا ته غږ وکړو،"زویه دا لمبر خو ډاکټر صیب ته ورکړه." هم هغه کس چې د طارق سره یې خبری کړی وې، ورته یو نمبر وویلو چې ده په خپل موبایل کی خوندي کړو.
په اسلام آباد کې د چاپیریال ساتنې په دفتر کې شهاب یو کارډ په میز کیښودو. "بس یوه ساده پارټي ده، ډیر خلک نشته ."عمران ورته امبارکي ویله او د چایو لپاره یې د خپلې سکټري ته ټیلیفون کوو خو شهاب منع کړو. "زما په سر ډیر کارونه دي، ورینداره او ماشومان ارو مرو راولې، او که نور څوک هم راتلل نو "موسټ ویلکم" عمران په خنداشو، " اوس خو دی ویل، ساده پارټي ده او ډیرو خلکو...شهاب په زوره وخندل، " یره، هغه خو د نورو لپاره ده، ته خو خپل سړی یې." دی نور ایسار نشو او عمران په کارډ لیکلي ټکو ته ځیر شو.
د روژې نه څو ورځې وړاندې طارق پیښور کی خپل کارونه وکړل نو د امینې په کور ورپیښ شو. ماشومان ورسره د نور کله په شان په خبرو او لوبو اخته شول

خو سوما خپلې کوټې ته منډه کړه او يو سپين کميس يې ورته راوړو. " گوره ماما زما جامې، د واده لپاره، ددی سره يو تاج هم دی." طارق کميس تری واخستو نو سوما بيا دننه منډې کړی او چې راغله نو د سپينو مريو جوړ وړوکې تاج يې په لاس کی و. طارق ورته موسکی شو، " واه واه په دی جاموکی خو به ته پرې ښکارې، سوما زر وويل "ما ما مونږ به اسلام آباد ته ځو، واده هلته دې." طارق امينې ته وکتل چې هغه وخت د سوما په خبرو د پخلنځي نه راوتلې وه، "سبا له د شهاب واده دې، عمران راپسې د دفتر گاډې رالیږي..." امينې نور څه هم ويل، خو د طارق په مغزو کی لکه چې زلزله راغلې وه او هر څه يې په مخه کړي وو. د شهاب واده؟ دده رنگ الوتې واو که خرم ورته پخپل نوي سور رنگ سيکل ولاړ نه وای نو امينې به ليدلې وای. دده مخې ته د ليمو د شربت گيلاس ايښې و، چې زر يې شونډو ته ونيولو. هغه نيمه ورځ د امينې په کور کی د تيرولو په نيت ورغلې و، خو اوس هره شيبه ورته قيامت و. ځان يې ترټلو چې دومره موده د نورين په لټون کی ده چری هم د شهاب په اړه فکر نه وکړی. دی چې د تلو لپاره ودريدو نو ماشومان ورپوری ونښتل. امينې وويل، " گوره اوس هم سخته گرمي ده، ډوډۍ تياره ده، وخوره." خو طارق ته داسی ښکاريده چې که يوه لحظه نور کښيناستو نو زړه به يې ودريږي.

څو شيبې وروسته دی د پېښور او اسلام اباد په لوې موټروې (لويه لاره) روان و او ځان سره يې د نورين د ژغورنې حال په تصور کی ليدو. نورين د بابا سره ملک کور ته، بيا هلته نه د کور د غړو سره اسلام اباد ته ځي، ځان مجبوره احساسوي، شهاب ورته بيا د واده پيغام ورکوي او دا يې مني. " نورين، زه به دی مړه کړم." ده پخپلو مغزو کی خپل غږ واوريدو او د موټر د رفتار ستنې ته يې وکتل. ده چری پخوا موټر داسی نه و ځغلولې. د اټک پر پله يې پيسې ورکړی ، ټکټ يې واخستو او د ګاډو له قطار بيل شو. ښکته اباسين او کابل د اوبو ننداره يې هيره وه چې يو ځلې نورين ته ښودلې وه. د اکبر باچا کلا، د اټک بابا زيارت، هرڅه تری هير وو. پخپلومغزو کی يې د نورين د ژغورنې بل تصوير ليدو. هغه د نورو خلکو سره په يوې لاری کی ناسته وه، په صوابۍ کی ددی د ټيليفون چارج خلاص شي او دا بند دی...نا نا.. ټيليفون تری ورک شوې دی. د بابا زامن يې کراچۍ ته وړي، نا...نا ...داسی نشي کيدې...که دا کراچۍ کی وه نو بيا ولې يې راته ټيليفون ونکړو...بابا خو دروغ نشي ويلې. داسی به شوی وي، دا د تره سره د غرونو په لاره روانه وه، پوځيان پری راپيښ شوي دي، دوی يې د کلي په ځاې اسلام اباد ته بوتلل...خدايه...په هغې څه تير شوي دي چې ما نه خبروي؟ او اوس د شهاب سره..." هغه خپل سر د موټر سټيرنګ سره وجنګوو او نيغ کښيناستو.

طارق د نیمې لارې نه عمران ته ټیلیفون وکړو نو هغه ورته د خپل میلمستون درک ورکړو. ده بیا ځان سره سوچونه کول چې د شهاب پته به ترې څنګه غواړي. خو ماځیګر چې دی میلمستون ته ورسیدو او د عمران سره یې ولیدل نو هغه ورته وویل، "شهاب راته د واده کارډ راکړی و، نن لکه چې نکریزې دي، ما ته یې ټیلیفون کړې و چې راشه خو ما ویل دا د ښځو محفل دی، زه به پکې څه کوم؟ بیا یې عمران ته ووکتل، "که ځې نو ښه ډوډۍ به وخورو." د طارق په زړه اور بل و، خو په مړاوي غږ یې وویل، " زه به شاور وکړم خو جامې مې..." عمران ورته خپله یوه پاکه جوړه ورکړه او ماښام دواړه د ملک کور ته ورغلل. هلته ډیر میلمانه وو او طارق موقع نه موندله چې د ملک نه یې د نورین پوښتنه کړې وای.
بیا دوی په څو موټرو کې یولوې هوټل ته ورغلل چې پکې ډیرخلک راټول وو او په لوړ غږ موسیقي غږېده. د سړو لپاره یوې خوا ته ځاې جوړ و او په نورټول تالار کې د ښځو او ماشومانو شورو. طارق اوس په زړه کې د نورین سره خبرې کولې، "دا هغه زمونږ د بی کچه میني انجام و، نورین بي بي، ستا او زما لارې اخر بیلې شوې،" بیا یې د نورین غږ واوریدو چې زه مجبوره وم او خپل غږ یې هم واوریدو چې دا فلمي ډایلاګ دي.
بیا دواړه په جنګ شول. د واده ټول میلمانه هغه وخت هک پک کېږي چې طارق او نورین د یو بل لاس نیولې

روان شي. هغه د خپل ماحول نه بيګانه نه و او د چا په خبره به يې پيکه خندا وکړه خو نور ټول وخت يې اخوا ديخوا کتل چې په ميلمنو کی څوک اشنا پيدا کړي. يو وخت يې پام شو چې شهاب تری پوښتنه کوله، "سوات ته خو نه يئ تللي؟ طارق د رومال سره مخ پاک کړو او وې ويل، "نا، تر اوسه موقع نه ده پيدا شوی، خو د روژو نه وروسته که حالات ښه وو نو لاړ به شو."
شهاب ورسره نږدې کښيناستو اوغوښتل يې چې نوری خبری يې کړی واې، چې په دی کی څو ځوانې جينکۍ د يوی سری بنارسۍ سره په خندا ددوی خوا ته راغلې.
طارق بيا د نورين غږ واوريدو، " ښه نو ته زما نکريزو ته راغلې يې، چا بللې يې؟ " بيا د ټولوپه خندا کی د نورين خندا هم ګډه شوه او ده جينکو ته وکتل، څو شيبې ددوی او د شهاب تر منځ خبری کيدې. هغوي ټينګارکوو چې يواځې شاه ځلمې به ورسره ځي او شهاب ورته ټينګ و چې دده څو ملګري به هم ورسره وي. طارق د نورين غږ بيا واوريدو،"زما نکريزې نه وي خوښې، ددی بوي مې بدي شي." خپل غږ ورته ويل، "واده کی به لاسونه نه سره کوې؟، خلک به واي، دا څنګه ناوې ده چې نکريزې يې نه دي کړي؟" نورين په زوره وخاندل، "که تر هغې ژوندۍ پاته وم." طارق د جينکو ګډه خندا واوريده.
فيصله په دی وشوه چې دوی ټول به دننه ځي خو په سټيج به ورسره نه کيني. څلورو جينکو د شهاب پر سر

www.safiahaleem.com

بنارسي ونيوله اونور كسان ورپسې شول. دوی ورو
ورو هغه ځاې ته ورغلل چې پر يو ټيټ سټيج د ګلونو او
رنګينو رڼاګانو خيمه ودرول شوی وه. طارق وليدل چې
په يو ښكلي كرسۍ په ژيړه لوپټه كی مخ پټ يوه نازكه
او نرۍ جينۍ ناسته وه. ناڅاپه نورين لوپټه له مخ ليرې
كړه او په زوره يې طارق ته وويل،" وګوره دوی مې په
زوره ودوي، زه ستا په انتظار وم، څومره ښه فلمي سين
دی، راځه چې سندره ووايو." طارق اخوا ديخوا وكتل
نو په تالار كی هيڅوک نه و او چپه چپتيا خپره وه. دا
خلک څه شول؟ ده خپلو پښو ته كتل چې قدم يې نشو
اخستې. زر يې سر وخنډلو. ټول سړي وړاندی تللي او
په كرسيو ناست وو. شهاب پر سټيج ختلې و او هم هغو
شوخو جينكو اوس تری پيسې غوښتې.
طارق سټيج ته نږدې شو نو زړه يې په زوره ودرزيدو
او بيا ودريدو. د ناوې مخ پټ او دواړه لاسونه يې په
ځولۍ كی ايښي و. د هغې ليچې له رنګا رنګ بنګړو او
د موتيا د ګلونو په ګجرو پټې وې. لاسونه يې په
نكريزو سره او په ټولو ګوتو كی د سرو او د الماسو
ګوتمۍ وې. دا د نورين لاسونه نه وو. د هغې اوږدې
نازكې ګوتې نه وې، دا نورين نه وه. د طارق زړه بيا
حركت وكړو او ده يوه اوږده ساه راښكله. په يوې
كرسۍ يې ځان وغورځوو او عجيبه خوشالي او غم
دواړه يې احساس كړل. خپل غږ يې واوريدو، "طارق
خانه ځان ته دی لاره جوړه كړی وه خودومره په اسانه

www.safiahaleem.com

خپل منزل ته نشي رسيدی." يوې جينۍ ورته سلام وکړو
نو ده بره ووکتل. د ځواب په ځاې يې سوچ کوو چې دا
څوک وه. هغې بيا سلام وکړو نو طارق راويښ شو. د
ياسمين په ليدو دی د خپل ځاې نه راپاسيدو او د مخ
خوله يې په رومال پاکه کړه. ياسمين ورته د شربت
گيلاس ورکړو او نورو ميلمنو ته متوجه شوه.
د طارق د واده نيټه د اختر نه څو ورځې وروسته وټاکل
شوه نو ده په روژه کی سوات ته د تلو هوډ وکړو. مور
او پلار يې خوشاله نه وو، خو دوی ليدل چې زوی يې
اوس واده ته راضي ښکاريدو او په وړه خبره به يې قهر
نه څرگندوو. زيبا هم مور ته ډاډ ورکړو چې ورو ورو
به هر څه سم شي.
طارق په سوات کی د خپلې کوټې دروازه پرانسته نو يو
اشنا خوشبوی يې احساس کړه. داسې لکه چې نورين
پکې اوس اوس ناسته وه. هر څه پخپل ځاې ايښي و،
کور پاک شوې او پخواني ملازمان ورته بيا راغلي و.
ميرزا ورته د دېوال هغه برخه وښودله چې بيا جوړه
شوې وه خو د ليرې نه چا د نوي او د زوړ توپير نشو
ليدای. دی بازار ته ووتلو او وې ليدل چې په دکانونو
کی ښه گڼه وه. په بل سهار دی مدرسته البنات ته لاړو.
شينو کاکا بيا په دروازه ولاړ و خو د سبق سلسله پکی
نه وه پيل شوې. ده څو شيبې ورسره خبری وکړې او د
استادانو پوښتنه يې وکړه چې څوک بيرته راغلي و که
نه. شينو ورته وويل، "کله نا کله څوک پيښه وکړي خو

ملک صیب راته ویلي دي چې د ژمي نه وروسته به بیا که خیر وي سکول کار شروع کړي."
طارق خپل وړوکي روغتون ته لاړو او نورو ډاکټرانو سره یې ولیدل. ټولو یو بل ته د تیرو څو میاشتو ښه او بد خبرونه ورکول. د مریضانو شمیره دومره نه وه او زیات وخت دوی په خبرو تیرکړو. طارق د کلینک نه راووتلو او موټر یې په هغه لار روان کړو چې نورین سره پرې وروستي ځل تللې و. د لاریو په اډه کی یې ولیدل چې خلک د خپلو کډو سره د بسونو او کوچونو نه ښکته کیدل. ده یوځاې موټر ودراو او د یو ډریور سره یې خبرې پیل کړی چې د خپلې لارۍ مخ ته ولاړو. هغه یو کس ته ناره کړه چې په منډه راغلو. طارق ترینه پوښتنې وکړی او بیا یې څو پیسې د هغه په لاس کیښودې. سړي داړې چینګې کړی او په سینه یې لاس کیښودو.
یو سهار امینې مور سره په ټیلیفون خبری خلاصې کړې نو زیبا تری غوږوزې واخستو. د جامو او کالو د ډیزاین نه وروسته امینې د طارق پوښتنه وکړه نووې ویل، "پرون د رسیدو سره یې ټیلیفون کړی و او نن به کار ته تللې وي، دی واې چې په مینګوره کی کورونه وران شوي او خلک یې په جوړولو لګیا دي خو پوځیان اوس هم شته." امینې خپله اندیښنه وښودله، " زمونږ د کور دېوال اوس جوړ دی؟" زیبا وویل، " ستاسو کور خوا ته لاره اوس هم بنده ده، که هغه جینۍ تر اوسه هم

هلته او ژوندۍ وه نو دا به لویه معجزه وي." دواړو
خویندو په رمز او چالاکي د کور د نورو ښځو غیبت یو
بل ته وکړو او ټیلیفون یې بند کړو.
په سوات کې د دوی د کور ټیلیفون پرون لږ وخت لپاره
کار کوو خو اوس بیا بند و. طارق خوشاله و چې د زیبا
او پلار غږ به نه اوري. طارق هر ماښام روژه ماتې ته
به د ټولو ملازمانو سره یو ځای کښیناستو. هم هلته یې د
میرزا په امامت جمع کوله. د ډوډۍ نه وروسته به یې
ورسره چیلم هم څکول چې میرزا پری حیرانه و. یوه
شپه ده یوکاغذ د طارق مخې ته کیښودو چې د ټیلیفون د
تارونو د بدلولو فارم و. طارق هغه تاو راتاو کړو او
ورته یې وویل، " زما په میز یې کیږده." څو ورځې
وروسته دی د لاریو اډې ته بیا لاړو او هغه سړی یې
ولیدو چې ده ورله پیسې ورکړې وې. ده خبر راوړو
چې د پورن کلي کې اوس هم کورونه بند وو او څوک
پکې نه اوسیدل. د طارق د امید وروستۍ کړۍ هم ماته
شوه او په هغه شپه ده په بالښت سر ایښې د راتلونکي
ژوند په اړه سوچونه کول.
په پیښور کې انۍ به اوس هر وختې ناروغه وه. د
چینار کلا پریښودل د هغې د زړه لوې غم و. عمران
مور ته ډاډ ورکړی و چې دده یو انجینیر ملګرې ورته د
نوی کلا لپاره نقشه تیاره کړې ده، کال وروسته به یې په
جوړولو لاس پوری کړي. رابیا په دی خوشاله وه خو د
انۍ باور نه کیدو، "خدای خبر، ترهغې به ژوندي یو که

نا؟" شهناز به ورته په مينه قهر وکړو، " دا څه واې انې، مونږ ټول يوځاې به نوي کلا ته ځو، پکې به نوې چمن وي، سبزي به کرو، د ميوو ونې به پکې وي."
انې به سترګې پټې کړی او په ځان به يې څادر راښکلو.
د کورد کارونو په سر د شهناز او امينې نااندرۍ دومره زياتې شوې چې دوه نوری خدمت ګارانې په کار ولګول شوې. دوی د لوښو او جامو د وينځلو سره سره د کور صفاي هم کوله. يو ماشوم هلک د بازار نه سودا راوړه او ټوله ورځ به په منډه و. خو شهناز د پخلي وار تاکلې و او امينه يې مجبوره کړه چې په دی کی ورسره ونډه واخلي.
طارق د واده نه وروسته څوورځې په مردان او بيا د ميرمنې سره د سوات په کورکی ژوند پيل کړو. پلار او مور يې هم راغلي وو، خو زيبا، بابې او خالد په مردان کې پاتې و. د ژمي د وتلو سره هغه خلک چې ليرې سيمو ته تللي و ، بيرته راغلل او په ښار کی ګڼه ګونه زياته شوه. مدرسه البنات بيا پرانستې او ځينو پخوانو استادانو پکی کار پيل کړو. ملک د نورين په لټون د هغې کلي ته خلک واستول خو نورين او د تره کورنۍ يې داسی ورک وو لکه چې په زمکه يې چری ژوند نه وکړی. د کلي يوکس په وروستي ځل دوی وليدل چې د نورو په شان د هغه ځاې نه د وتلو په تکل کی وو. د هغه اندازه دا وه چې دوی به خپلوانو کره کونړ ته تللي وي. خو د بل کس وېنا دا وه چې دوی په کراچۍ کې

www.safiahaleem.com

دي. یوه ورځ میرزا د طارق په لیدو ورته د بابا د مړینې خبر ورکړو نو دده خپل تیر ژوند سره ورستی تړاو هم ختم شو.
د اوړي په پیل کی جمشید د خپلې کډې سره سوات ته لاړو او انیٔ او رابیا هم هلته د امینې او ماشومانو سره پاتې شوې. سوما او خرم اوس دواړه یو ځای د کور نږدې یو وړوکي سکول ته تلل چې پکی وړکتون هم و. د ماحولیاتو د شعبې له خوا په سوات کې نوي کورسونه پیل شول نو عمران به په میاشت کی یو وارې ورتلو. د چینارو کلا لوې د تیږو دیوالونو خاورې او اوبو وړې وو او د رژیدو په حال و. ده به په هره پېره یو څو عکسونه واخیستل او خپل کمپیوټر کی به یې د تیرو سره یې پرتله کړل. په یو کال کی سیند شپږ میټره زمکه خوړلې وه او زور یې هم زیات شوی و. په زمکه به نورو خلکو دومره توپیر نه لیدو خو د سیټیلایټ په تصویر کی دا واضح لیدل کیدو.

طارق د یوې لوې تیږې سره ډډه ولګوله اوشفیق ته یې وویل، "ته به دی ځای ته مخکې چری نه یې راغلې. شفیق چار چاپیره وکتل، " نه مونږ به تل د هوټل نه اخوا دیخوا چکر ووهلو خو داسې ځایونه مو چری نه وو لیدلي." دی د تیرو څو ورځو نه د طارق میلمه و او نن یې د سیند نه پوری غاړی ته بیولې و. ښکته ټوله وادي ورته ښکاریده او شفیق پخپلې کیمری څو تصویرونه

واخیستل، بیا یې وویل، " تا چرې دا سوچ نه دې کړی چې نورین به زخمي شوي وي او ممکن په اسپتال کې وي." طارق یوه ناخواله خندا وکړه، "د پیښور او اسلام اباد په لاره چې څومره اسپتالونه دي، ټولو ته لاړم." شفیق ورته په اوږه لاس کیښودو، "که زما منې نو څه موده یې مه لټوه. که هغه ژوندۍ وه نو پخپله به درته راشي." طارق ځواب ورنکړو او د سیند سر زورو اوبو ته یې سترګې نیولې وې. شفیق هم د تیږې سره ډډه ولګوله، "ستا زړه څه وایی چې دا به چرته وي؟" طارق د جیب نه یو سیګرټ راوویستلو، بل یې کړو او شفیق ته یې ورکړو. "په دې غرونو کې چرته اوسیږي، خو ما نه یې ځان پټ کړې دې." شفیق د سیګریټ لوګې له خلې او سپیږمو راویستلو، " ولې یې ځان پټ کړی دی؟" طارق وویل، "مونږ چې واړه و، په لوبو کې به کله کله ما د نورین خبره نه منله نو دا به په قهر شوه. بیا به رانه داسې پټه شوه چې هرې خوا ته به مې لټوله او دا مې نشوه موندلې. ښه مې یادیږي، یوه ورځ هم دغسې په څه خبره رانه پټه شوه. ټولو ویل، پخپله به پیدا شي خو ما داسې احساس کوو چې دا به بیا نه وینم. اخر په زوره زوره مې وژړل نو دې یوې ونې نه راټوپ کړل. زه دومره ورته په قهر وم چې ددې وهلو ته مې لاس اوچت کړو. راته یې په غصه وویل، " که ته زما خبره نه منې نو بیا به داسې پټه شم چې هیڅوک به مې نشي موندلې. ما په وروستي ورځ ددې خبره نه وه منلې. دې چرې هم

راته داسې زاری نه وه کړې." شفیق په غور دده خبری اوریدې، "ته اوس څه غواړی؟ ټول عمر خو ورپسې لټون نشې کولې!" عمران ودرېدو او وې ویل، "انتظار خو کولې شم. یوه ورځ به راته پخپله راشي."
په پیښور کې عمران به کله نا کله خپل کمپیوټر د انیَ مخ ته کېښودو او هغې ته یې د کلا عکسونه ښکاره کړل، نو سوما او خرم به هم ورسره کښیناستل. سوما هر چا ته د سواستو خبرې کولې او اوس خو به هر چا ترینه پوښتنه کوله چې سواستو دې په څه حال دې. خرم ته به په قهر شوه نو خبردارې به یې ورکړو، " زه به سواستو درپسې راولم." ټولو به وخندل. یوه ورځ د عمران ورورعاطف د امریکې نه ټیلیفون وکړو نو سوما ورسره خبرې پېل کړې او هغه ته یې د سواستو کیسه تیره کړه چې اوس د دوی په کور کې اوسیدو. ماښام د ټې وي د خبرونو کتلو نه وروسته به هر چا خپله راې ورکوله خو رابیا به غلې ناسته، د دوی خبرې یې اوریدې. امینه به خپلې کوټې ته لاړه او په موبایل ټیلیفون د خور سره اوږدې خبری پېل کړی چې اوس موضوع یې د دوی نوې وریندار ه مدیحه وه. کله د شپې تر ناوخته دوی خبری کولې چې د اوږي لپاره سوات ته لاړ شي او که نا. د بریښنا په بندیدو به امینې د عمران سره جنگ پېل کړو، خو اوس ده ورته جنریټر اخستې و چې یوه کوټه به وربانده یخه شوه. د جون په میاشت کی امینه د اولادونو سره د مور پلار په کورکی میشت

شوه، رابیا او انې د جمشید کور ته ولاړی. بله میاشت لا نه وه وتلې چې سخت بارانونه پیل شول. عمران د سروې د یوی ډلې سره په کالام کی و چې د شپې پری سیند راوختلو. د دوی میلمستون د هری خوا نه په اوبو کی بند و او چا په ریډیو خبرونه واوریدل چې اته پلونه اوبواوړي وو. عمران پخپل سیټیلایټ ټیلیفون امینې ته ډاډ ورکړو چې د پوځ هیلي کوپټرې د خلکو مرستې ته راغلې وې. په لومړۍ جوپه کې د پنجاب نه ورغلي خلک وویستل شول. عمران سره ملو ورپورې ملنډې وهلې چې دده پوځې ملګري ترې ځان پټ کړې و.
دوی د خواړو شیان لږل او د عمران زړه ډاډه و چې په څو ورځو کی به اوبه ښکته شي. په بل سهار ده پخپل دوربین کی لیدل چې سیل ته راغلي خلک څوک پلي، نور په لاریو کی سپاره، د خوړ سره سره یو قافلې په شان روان وو. هغه د بره پوړ د هرې کړکۍ نه په دوربین د چاپیره اوبو جاج اخیستو او تر څو چې د کمپیوټر بیټري یې کار کولې شو، ورباندې کار کوو. یوه شپه په سیټیلایت کې یې د سوما غږ واوریدو چې ترې پوښتنه کوله، دی به کله کور ته راځي. عمران ورته وویل، "دلته سواستو راغلې دی او کله چې لاړ شي نو بیا به کور ته درشم."
څو ورځې وروسته د میلمستون شاو خوا اوبه ښکته شوې نو دوی د معمولې سامان سره ترې ووتل. هغه میدان ته یې ځان ورسوو چې هیلي کوپټر پکی ولاړ و

او کله چې د زمکې نه پورته شول نو عمران پخپلې کیمرې فلم جوړول پیل کړل. د سوات د جنت په څیر زمکه  د اوبو په خړ څادر کې تاو شوې وه او هر څه یې له ځانه سره اوړل.  یو ځای هغه کیمره د مخ نه لیرې کړه او دوربین یې سترګو ته ونیولو.  ښکته د چینارو کلا په ړنګیدو وه او سواستو ددی ماتو دېوالونو نه لکه د ښامار تاو شوی و.  داسې ښامار چې یوه خله او په سوونو لکۍ یې لرلې.  ده پایلټ ته په چیغه د کلا د پاسه د راتاویدو وویل او په وروستي ځل د یو ځوکوټو، ړنګو دیوالونوعکسونه  یې په کیمره کی بند کړل.

پای

www.safiahaleem.com